د افغانستان ملي تحریک
2013
AFGHAN NATIONAL MOVEMENT

# زاړه میرزایان
# او زلمي لیکوال

(د بېلابېلو لیکنو ټولګه)

Ketabton.com

لیکوال
ملوک رغون



(c) ketabton.com: The Digital Library

# زاړه میرزایان
# او
# زلمي لیکوال

لیکوال:

**ملوک رغون**

**۱۳۹۴ل کال**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: زاړه میرزایان او زلمي لیکوال

لیکوال: ملوك رغون

خپروندی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

کمپوز: خاطر رغون

پښتی ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۱۱۵)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملـي تحریـك دا ژمنـه د یـاد کـال د کـب پـر (۲۸)مـه نېټـه پـوره او د یـوې پرتمینـې غونـډې پـه تـرخ کـې یـې شـل عنوانونـه علمـي اثـار هېوادوالـو تـه وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) پـه نصرت ټـول ټـال سـل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کـوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریـك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کـوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونـو) ژمنـه کـړو اثـارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیلـه لـري چـې لـه دې اثـر څخـه بـه زمـوږ هېـوادوال پـه زړه پـورې ګټـه پورتـه کـړي. ملـي تحریـك لـه ټولـو هغـو لیکوالـو، ژبـاړونکو، سمونچارو، مـالي او معنـوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثـارو د چـاپ پـه دې ټـول بهیـر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیـر یـې بریـالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور وداني ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رغون یو غیر نامتنازعه شخصیت

**خاطری که خاطرې؟ دا په خوځښت مجله کې پر یوه شعري ټولګه د یـوې پـه زړه پورې کره کتنې سرلیک و چې د ملوک رغون له نامه سره یې بلد کړم.**
**یو وخت د کلید اوونیزې ښه کش و پش روان و، په جلال اباد کې یې مســوول عزت الله ځواب و، وخت راغی چې کلید یې پر ېښوده او پژواک اژانش ته لاړ.**
**له کلید څخه د ځواب په تلو، ډېرو ملګرو دا هوس لاره، چې د هغه ځای ناستی شي خو څو ورځې وروسته خبر شوم چې ملوک رغون د هغه پـر ځـای مقـرر شوی.**
**هغه کس اوس رانه هېر شو، د ښاغلي رغون په اړه مې وپوښت، هغه وویل: پـه کابل پوهنتون کې استاد یو ن، استاد ازمون او رغون د یوه اطاق ملګـري وو او هلته یې رغون ته ماما ویل چې تر ننه د ټولو ماما دی، د ننګرهـار میـدیوتیک غونډو ته مو رابللو، بس له هماغه وخته له رغون صاحب سره ببخي لـه نـږدې بلد شوم. د دې بلدتیاپه بهیر کې د ښاغلي رغون پورې اړونده یوه پېښه رایاده شوه:**
**ډاکټرې تور پېکۍ الم په کونړکې د ولسي جرګې لپاره ځان کاندید کړی و، هغه د خپل کمپاین لپاره هوډ لاره، چې خپلـه یـوه شـعري ټولګـه چـاپ کـړي، میدیوتیک کې یې ضیاء الحق شمس ته د کمپوز لپاره وسپارله، یوه لیکنه پرې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسدالله لاروي کړې وه، د بلې لپاره ښاغلي لاروي رغون صاحب تــه فرمــاېش ورکړی و، لاروي صاحب موږ ته وويل:

رغون يوه ليکنه راوړي او هغه هم کمپوز کړې، همداسې وشول، رغون ليکنــه کړې وه، راغی او ليکنه يې شمس ته وسپارله.

د رغون ليکنه چې لاروي او ډاکټرې صاحب وليده، واره يې ورته رانغله، ځکــه رغون د هغې پر يو شمېر بيتونو د کره کولو تر څنګ يوه څېړنه هــم کــړې وه، چې ولې ښځمنې ليکوالې او شاعرانې خپل دروني احساس نشي څرګندولای؟ او ډاکټرې صاحب دا کتاب يوازې د ټاکنيزو هلو ځلو لپاره چاپاوه.

لاروي صاحب موږته وويل: چې د رغون ليکنه په کتاب کې مه اچوئ، که تاسو نه يې پوښتنه وکړه ورته وواييئ، چې ناوخته و او کتاب په تــرس کــې وتلــی و، نوځکه دې ليکنه پاتې شوه.

ما په اصطلاح ګوستاخی ته لاس اچولی، چې د رغون پر شخصيت لږ وغږېــږم هغه د ښاغلي بابرزي خبره ((د ښکلو مخ کې د يوې خبرې وس نه لرم))، توکل په خدای!

رغون په فرهنګي او ژورنالېستيکه برخه کــې د هغــو يــو شــمېر جنجــالي او متنازعو اشخاصو له ډلې نه دی، چې سهار او ماښام پرې د تبصرو تر څنــګ د احساس د خاوندانو د زړه خوړلو او اندېښنو سبب شوی وي او دا په دې چې:

الف: رغون د شهرت شوقي نه دی، شهرت هغه غريزه ده، چې لــه املــه يــې کېدای شي د شخصيت جوړونې په بهير کې ټکرونه رامنځته شي، نو همدا ده، چې په پايله کې يو جنجالي شخصيت رامنځته کېږې موږ اوس عملاً هم ګورو، په همدې فرهنګي او ژورنالېستيک ډګر کې يو شمېر مشران (کشران خو پــر ځای پر ېږدو) چې د شهرت له پلوه ښه مشبوع هم دي بيا هم د اســتعدادونو د پرمختګ او ودې مخه په يوه او بله پلمه نيسي، څو په ګانده کې لــه دوی ډېــر شهرت ترلاسه نه کړي او يا هم له دوی څخه غوره شخصيت نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب: رغون غوړه مال نه دی، غوړه مالي د نړۍ له نورو پرمختګونو سره ګام پر ګام مخکې تللې او عصري بڼه يې غوره کړې او دا عصري بڼه په مختلفو بڼو ليدل کېږي له يو ځانګړي مناسبت پرته، رغون د چارواکيو په دربارونو او دسترخوانونو نه دی ليدل شوی، هغه د هغو يو شمېر فرهنګي اشخاصو او ژورنالېستانو په خبر نه دی، چې له چارواکيو د فرهنګي او ژورنالېست په نوم په يوه او بله پلمه خپلې شخصي ګټې ترلاسه کړي.

ج: رغون ډله وال او ډله پال نه دی، ډلې او ډلګۍ جوړول لکه د يوې ساري ناروغۍ په توګه هرې خوا ته عام شوي، يو څو تنه راټول شي ډله او يا ټولنه جوړه کړي، په دوی کې چې يو تن پر ځان لږ اعتبار پيدا کړي، چې يره دوه، درې يو تن پر ځان راټولوی شم، نو ډز شي چې بله ډله جوړه کړي. زه خپله د ډېرو ډلو او ټولنو د جوړېدو مخالف نه يم، خو د ډېروالي تر څنګ د هغوی د کارونو او چارو څرنګوالی تر پوښتنې لاندې دی. نو رغون دا نه دي کړي، چې ځانته ټولنه جوړه کړي او يا دې د کومې ډلې له وفادارو اوسي. رغون د ټولو دی، هغه څوک نه تخريبوي او نه د چا خبرې پر چا سپاري.

د: رغون تکړه دی او اخلاق يې ښه دي، هغه داسې مصنوعي ليکوال، شاعر او ژورنالېست نه دی، چې ليکنه، شعر او يا راپور، ورته بل څوک وليکي او يا دې ورسره په ليکلو کې څوک مرسته وکړي، که نه اوس داسې خبريالان لرو، چې مشهورو رسنيو سره کار کوي، مګر راپور په بل چا ليکي او شاعران لرو، چې شعرونه ورته بل څوک ليکي، دغسې اشخاص چې اوس يې هم موږ لرو له متنازعو شخصيتونو څخه دي خو رغون بيا داسې ندی، د رغون ټولنيز اخلاق ښه دي، هغه له خلکو سره ښه روغبړ کوي، هغه ځوانان دې ته نه هڅوي، چې د مشرانو-فرهنګيانو پر خولو ملنډې ووهي، او دې ته يې هم نه هڅوي، چې د پلانکي ځوان د پرمختګ مخه داسې ونيسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا هم انسان داسې دی لکه بنیادم، کله نا کله له انسان څخه په سهوې او خطا سره داسې کارونه کېږي، چې هغه د بل چا نه وي خوښ، کېدای شي چې رغون نه هم کله داسې سهوه او یا خطاشوي وي .
((زاړه مېرزایان او زلمي لیکوال)) د ښاغلي رغون د هغو مقالو ټولګه ده چې هره یوه یې په خپل وخت او لا هم اوس د تجربو له لېږد او د پیغامونو له ارزښته ډکه ده، ددې پر ځای چې زه یې کومې مشخصې مقالې ته نغوته وکړم ښه به دا وي چې بسم الله کړئ او خپله یې له لوستلو خوند واخلئ!
خپلې خبرې، رغون ته د اوږد عمر په دعا او په دې بیت رانغاړم.

لمن مې ډکه ده له کاڼو خوځوک نه پرې ولم
په عادتونو کې دا یو عادت د غره لرمه
اباسین بهیر
جلال اباد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما دا لیکنې او شننې

وايي چې د هر ليکونکي انشا د هغه د فکر آيينه ده. زما د فکر، سوچ ،بيان، طرز و طريقه د همدې کتاب په بېلا بېلو ليکنو کې ډېره ښه پېژندلی شئ. زما دا ليکنې د شاوخوا شلو کلونو راهيسې څرګندونې، کره کتنې او شننې دي، چې په بېلا لېلو موضوعاتو مې وخت په وخت ليکلي دي. الفت صيب وايي: (د ليکلو فن ډېرې جګر خونی لري او ډېر ځله داسې کيږي، چې يو ليکوال يوه شپه په ويښه سبا کړي او يوه جمله پيدا کړي يا يوه ليکه هم ونه شي ليکلی. د يوه خيال يا فکر پيدا کول او بيا يې په ښه ډول بيانول، هغه ګران کار دی، چې نورو ته يې ګرانوالی او دروندوالی نه معلوميږي) د (زلمي ليکوال او زاړه ميرزايان) د کتاب ليکنې که څه هم تخليقي نه دي، خو کمې هم ترې نه دي. ما هم دا هره ليکنه څو، څو ځل ردوبدل، تغيرو تبديل کړې حتی ، کله، کله مې بيخي ټولې ليکنې ته تغير ورکړی، کلمې، جملې، لغات او روغ، روغ پاراګرافونه مې ورته بدل کړي دي. د دې کتاب ټولې مقالې د هېواد په بېلا بېلو مجلو، اخبارونو او کتابونو کې په مختلفو سرليکونو چاپ شوي. کله داسې هم شوي، چې يوه ليکنه په يوه مجله کې په يو نوم دوه يا درې مخه چاپ شوې، خو بل وخت مې هماغه ليکنه اوږده کړې او د عنوان په بدلون سره مې په بله خپرونه کې چاپ کړې. کله چې مې د خپلو خورو، ورو ليکنو د راټولېدو او چاپېدو تکل وکړ يو شمېر هغه مجلې او اخبارونه، چې زما مقالې پکې چاپ شوې وې پيدا نه کړې او يو څو ليکنې مې له دې کتابه پاتې شوې. څو نورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکنې مې هم په مستعارو نومونو چاپ کړې وې چې اوس مې په غوښتي ډول ونه غوښتل چاپ یې کړم. که څه هم چې ځېنو رازدارو ملګرو ډېر تېره، تېره کړم، چې ورځه پرې سترګې دې سرې دي!! خو یو بل ملګري ډارن خان راته کړه، چې هلکه! سترګې دې سرې نه دي هسې نه، چې ځان په دوه پښیزو ځناورو مات کړې، غلې شه! ګونګی شه! کېنه!!

دا لیکنې چې مې کله د بېلا بېلو خپرونو را ببېلولې او له سره کمپوزولې مخکې له کمپوزه مې پکې یو څه لنډون راوستی دی، خو اوږدې کړې مې نه دي. کله کله د لیکوال نه لیکنې پړی کېږي او دغه پړی کېدا د بېخوندۍ سبب کرځي. نو هغه جملې، کلمې لغات او نور چې بې ځایه، بې خونده او نا مناسب ښکار بدل ترې مې ایسته کړل، خو زیاتونې مې پکې قطعاً ونه کړې. د کره کتنو د لیکنو په برخه کې مې هم هېڅ ډول زیاتی کمی نه دی راوستی. زما په دې کتاب کې ځېنې لیکنې داسې دي چې یوه له بلې زېږنده ده، د بېلګې په ډول ((چې پرې نه پوهېږې ته کناه د چا ده؟)) دا دهغې لیکنې په دفاعیه کې لیکل شوې وه، چې سرلیک یې و ((مېړنۍ شاعري د ښځینه احساس په وړانګو کې)) چې دلته هم پرله پسې چاپ شوي ترڅو لوستونکي یې یوه په بله پسې پیوسته ولولي. یا دا بله: اول زده کړه بیا کوژده کړه! یا: اول سواد زده کړه خانیه!!) دا هم همدغه شان د یو ادبي بحث نه د راولاړې شوې موضوع په اړه د نورو د غبرګونونو په اړه لیکل شوي. یو بل شمېر لیکنې بیا داسې دي چې زما د شخصي ذوق او ښکلا پېژندنې د احساس آیینه یې ګڼلی شئ. یو څو نورې بیا زما د سترګو لیدلی حال دی، یا هغه د بي بي سي د راډیوپه خبره د خبر تر پولې آخوا دي لکه: (د هر چا قضاوت د هغه د پوهې په اندازه وي.) یا (د خپلواکۍ د اتل په نوم لېسه) څه نورې لکه: (نوی کال له نویو هیلو سره) او (خو... ډوډۍ ډوډۍ) دا هغه سرلیکنې دي چې د ننګرهار د پوهنې مجلې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

غونچې لپاره مې ليکلې وې . د کره کتنو په اړه چې مې څه ليکنې کړي دا هم د شعري ټولګو د بريو او نيمګړتياوو په اړه زما د برداشتونو او نظرياتو طرزو طريقه او نيکې لاښوونې ګڼلی شئ. په تير نږدې ديرش کلن ادبي ژوند کې مې په جلاجلا ځايونو کې کارونه کړي لکه دکليد راډيو او مجلې خبريالي ، دننګرهار دپوهنې رياست مطبوعاتي مسوليت او دکونړ راډيو اوتلويزون آمريت مې دیادونې وړ دي . په دغه ځايونو کې مې هم ګڼ شمير راپورنه په بيلا بيلو مسايلو ليکلي او اړوندو ادارو ته مې ورکړي . چې دهغو ليکنو چاپ راته په دی کتاب کې مناسب ښکاره نه شواوهغه هم داوس له پاره پاتې شوی نوره خپله ليکنه راغونډووم او د مننې په توګه د خاطر رغون نوم د دې لپاره راوړم چې د دې کتاب د ټولو ليکنو کمپوز يې په غاړه اخيستی وو، د اکرام رغون نه هم منته چې په پوره حوصله يې د دې کتاب ټولې پاڼې ليکه په ليکه کتلي او سمې کړي دي. د هېواد د وتلي شاعر، ليکوال او سياستوال استاد يون صيب څخه په ټول اخلاص او درناوي د زړه له کومي يوه نړۍ مننه کوم چې د ملي تحريک له خوا د کتابونو د چاپ په لړۍ کې يې زما کتاب هم د چاپ په ګاڼه سمبال کړ.

په ټوله هيوادنۍ ،فرهنګي او شاعرانه مينه اومننه

ملوک رغون

کونړ اسد اباد

۱۰/۱۲/۱۳۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شعرونه او شعارونه

وايي چې (شعر يوازې د شاعر د ا حساس بيا ن نــه دی، د هغونوروکســا نــو د احساساتو بيا ن هم دی، چې، د شاعر سره پکې څه ناڅه شريک دي. خو شعر نشي ويلی) او همدغې پخې وينا ته په پام سره مورږپه ډيرو مشاعرو کې ډيری ګډونوال وليدل چې شاعران نه وي خو پورته پورته غورځي، لاســونه پړکــوي، شور جوړوي او د (بيا يې ووايه، بيا، بيا...) نارې وهي. که څــه هــم چـــې دغــه شعرونه د شعر په واقعي ما نا شعرونه نه وي خو عوام په دې نه پوهيږي چې دا شعرونه د شعري ارزښتونو(ښکلا، تخييل،فکر، خيال، احساس او عــاطفې) لــه مخې څومره په تول پوره او کره دي. خو چې دکوم ګاونډي يا لرې هيواد نــوم په کې په بدو سره ياد شوی وي، يا د خپل هيواد د تيرو ناخوالوپــه اړه پکـــې کومه خبره راغلې وي لکه زموږ ځينې شاعران چې کله، کلــه پــه همدغســې مشاعرو کې د دريځ پر سر د ګوتې په څنــدلو ســره د شــعر پــه عــاجزه ژبــه وايي(چې زه به يې دلته نثر شوې بڼه يا مفهوم راواخلم)(....زمــوږ پيغلــې پــه طورخم کې سرتورې شوې...زموږ په وينو هغو او دغو لوبې وکړې....پښتانه تباه او برباد شو...موږ داسې بې ننګه يو داسې بې غيرته يو...) نو بيا پــرې دلانــدې څخه د مشاعرې عوام ګډونوا ل ورچيغې کړي(واوا، واوا، ډير ښه، ډيرښــه بيــا يې ووايه بيا....!!) خو دوی په دې نه پوهيږي چې شعر کنځلو ته نه ويل کيږي . خپله سپکه يا درنه او يا د بل سپکه او درنه په لوڅه ، ښــکاره او د عوامــو پــه شډله ژبه بيانول شــعر نــه دی. شــعر د ادبيــاتو يــوه برخــه ده، او ادبيــات د تصويرونو هنر دی، په هغه کې لوڅ او تبليغاتي افکار او مســايل بيــانول زيــان اړوونکي دي.د معاصر پښتو شعر تر ټولوســتر او بنســټيز معقوليــت تخييــل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

انځور، عاطفه، احساس، هیجان، ښکلا او اهنګ دی.دا چې وایي د شعر ما نې باید د هنري ذوق د تسکین لپاره ودانه شي، نه د سرپناد اړتیا او سرسیوري د پوره کولو لپاره، نو په دغه ډول شعرونو کې چې وړاندې یې د مفهوم یادونه وشوه کوم هنري ارزښت او ذوق شته؟

په دې هم باید زموږ ځوان پښتون شاعر پوه شي چې په هر ډول شعر کې یوه مفکوره شته خو کوم شی چې د شعر نه شعر جوړوي هغه مفکوره یا ایډیا نه ده .مفکوره په عادي او ساده نثر هم بیانیدی شي. خو کوم شې چې د شعر ارزښت ټاکي هغه تخییل، عاطفه، ښکلا، احساس، هنري ژبه، فکر، خیال اواهنګ دی. که په شعر کې فلسفي،

ا خلاقي، مذهبي،سیاسي....افکار او مسایل بیان شي ښه کار دی خو د شعر ارزښت د یادو شویو اصطلاحاتو له لیږد سره تړاو لري او همدغه توکي دي چې د ښکلا ارزښت او د هنریت حد ټاکي زموږ د زمانې ستر شعر پوه، لیکوال او کره وال ارواښاد محمدصدیق روهي صیب په شعر او شاعری کې د اخلاقواو فلسفي په اړه وایي.(علمي پرنسیپونه، تاریخي فکتونه اوفلسفي نظریې په شعر کې راتلای شي خو د هغو شته والې د شعریت معیار نه ګڼل کیږي.علمي، اخلاقي او فلسفي مفکورې باید (لومړی)شاعرانه شي. د شعریت تا بعیت ومني، په شعر کې جذب او الونیا شي او بیرته ځان په هنري میډیم کې راخرګند کړي)

د دې ټولو خبرو، نظریو او نقل قولونو د راوړنې څخه دلته موخه یوازې او یوازې یو ټکی دی .او هغه د اوسني پښتو شعر ښکلا ده اوبس. کله چې په پښتو شعر کې د ښکلا او ښکلي یادونه کیږي نو څرګنده ده چې یا د دغو ځانګړتیاو لروونکی دی ځکه خو ښکلی ورته وایو او یایې نه لري ځکه پرې یا د شعار نوم ږدو او یا ورته دعوامو کلیوالو ساده وزن شوې عامیانه خبرې وایو.دشعر او شاعر په اړه کارپوهان وایي :شعر په وزن لرونکې ژبې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمفکورۍ، تخییل، عاطفې ترکیب او تړون ته ویل کیږي.او شاعر هغــه ځــوک دی چې غیر عادي خبرې کوي خو د محاورې له سویې پورته وي.الفت صیب د شاعر په اړه ویلي دي(تاسې له شعر او شاعر نه حقایق مه غواړئ شعر حقیقت نه دی جمال دی)او چې داسې ده نو بیا خو شاعر یو ښکلی هنر مند دی چې د اخلاقي، مذهبي،علمي، فلسفي، سیاسي مفکورود تصویرونو او تمثیلونو لپــاره د یو خوږ، ښکلي او شاعرانه طرز ځینې کار اخلي چې کېدای شي د ډیرو لپاره به عقلا ني او د منلو وړ نه وي خو په زړه پورې به وي او هغه چې نه یې مني هم خوند ترې اخلي او خوښوي یې. دغسې بیلګې زموږ پــه پښــتو شــاعرۍ کــې ښایسته ډیرې دي. ارواښاد سیف الرحمن سلیم د پښتو اوسني شعر هغه وتلې استازې و چې یو وخت د یوسیاسي بهیر کارنده غړی هم و، چې ډیری شعرونه یې ښه پوخ او ژور سیاسي رنګ او خوند لري. ده په خپل شعر کــې د وخــت د ګوندونو او سیاسي مشرانو کړنې او خپلې نظریې داسې خوږې، شفافې، روانــې او شاعرانه وړاندې کړي چې نوره پرې تمامه ده که ځوک د هغه د سیاسي کړو وړو او سیاسي ژوند څخه نا خبره وي نو لومړې خو ورته د هغه د شعرونو ما نــا، او (تحلیل) ګرا ن دی او دویم پکې د هغه سیاسي فکر او پیغام نه شي موندی.

وګورئ: منم رهبر پخپله مخکې لاړو- خو قافله خو یې په شا راوسته

څومره جونګړو ته دې اورورته کړ- چې خپل محل ته دې رڼا راوسته

یا: اوس خو قافله هم د رهبر سره رهزنه شوه- دا معاشره جوړې دځیلمې بــې ضمیره ده

اویا: قافله دې هم منزل نه ځان خبر کړي--- کله کله رهنما نه لار خطا شي

دغسې فلسفي اوسیاسي افکار د سیلم صیب په شاعرۍ کې ډیر زیات دي.خو د شاعرۍ په ټولو ارزښتونو او معیارونو داسې په تــول پــوره او کــره دي چــې هیڅوک پرې د سطحي خبرو او شعاري لیکنو نوم نه شي ایښودی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـــړي خـــبرې نن هغه د اتحاد
چې باني دی د دې شر او د فسا د
دې نه لويه بدبختي د چمن څه ده
چې ګلونه په ګلچين کړي اعتماد

وګورئ د لته هر څه د سمبولونو په ګل غوټيـو کـې ډيـر خـواږه او شـاعرانه شويدي کنه خبره په بشپړ ډول سياسي ده. موږ پوهيږو چې دلته چمـن څـه دی.ګلونه څوک دي او ګلچين چاته ويل شويد ی. يا هغـه څـوک دي چـې د اتحاد او ملي يووالي شعارونه ورکوي او د شر اوفساد د مخکښ اوښ مهار هم د دوی په لاس کې و. يا دی او که نوره هم خبره لږه راسپينه کړم نو زه خو وايم چې دا شعرونه يې په هر عصر کې معاصر دي. د ((خو)) ګوته پـرې څـوک نـه شي ايښودلی. او که ووايم چې زموږ د افغانانو اوسني حال ته يـې ليکلـي دي بده به نه وي لکه دا:

يو ورځ به راشي چې حساب به کيږي
يو ورځ په يار راله حساب راکوي
يارانو زه د ښار قاضي خو نه يم
ماله به ولې خدای عذاپ راکوي.

او يادا:

خرڅوي يې رهبران په سوداګرو
خدای دې مل شي د وطن او د ملګرو
څه خبر يې چې په کوم لوري دې بيايې
چې روان يې په ګډا اوپه سندرو

دغسې ژوره، رنګينه، ټولنيزه، سياسي، هنري او په ټوله مانا ښکلې شاعري او ښکلي شعرونه زموږ په اوسنۍ شاعرۍ کې ښه پريمانه دي چې د هر يـو بيـت په شننه او مانا سره پرې يو بشپړ سياسي اد بي تاريخ ليکل کېدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وگورئ دوه نور افغان نومیالي شاعران ښاغلی دروېش د را نی او رحمت شاه سایل څه وایي؟ یو وایي:

دا خلک ولې انتظار کوي د هغې ورځې
چې باچا مړ وي او وزیر په زولنو تړلی

او بل وایي:

ستا د یدن راته د خپل وطن نظام شو
وړی تړی مې ساتي په زولنو کې

د دواړو شعرونه ډېر ښکلي او ډېر خواږه دي. دا ځکه چې زموږ د زړونو خبرې دي. هغه خبرې چې موږ یا ببخي کولی نه شوې او یا مو دومره ښکلې نه شوې کولی. که نه هسې خو نوره خبره روښانه او واضح ده. په یو بیت کې خلک د اقتدار د خاوندانو د ظلم، بې عدالتۍ او بې ا نصافۍ خبره کوي چې د دوی ورسره هېڅ زور نه رسېږي خو په ځان د الله تعالی له رحمت او پر هغوی یې له قهره نا امېده شوي نه دي. او هغې ورځې ته انتظار باسي چې باچا یې مړ یا وژل شوی وي او وزیر یې په زولنو تړلی عدالت ته روان وي یا راځئ لږ نور هم د دغه بیت شنني ته ورننوځو! دلته شاعر له څومره لرې ځایه دا خبره د تخییل په وزرونو سپروي او وایي چې، دا خلک ولې د هغې یوې ورځې انتظار کوي... خو داسې نه وایي چې د دوی سره باچا او وزیر ظلم کړی او خدای به ترې یوه ورځ د دوی سره د شویو ظلمونو بدله واخلي. که دلته شاعر خبره په دویم ډول یا زموږ له خوښې سره سمه کړې وی نو دغه خوند به په کې بیا هېڅکله نه وای یا لکه د سایل صیب شعر، هغه همداسې نه وایي چې زموږ نظام خراب دی. موږ په کې ((وړي تړي کډه په سر او در په در ګرځو )) نوره خبره لوستوونکي او اورېدونکي ته پرېږدي یا په بله وینا هغه خبره خپل اشنا ته کوي خو په حقیقت کې د نظام چلوونکي په غوږ وهي او هغوی ته یې ور اوروي. زموږ اوسنی ځوان شعري بهیر که څه هم چې له پخوا ډېر ښه شوی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

لا ښه روان دی خو هغومره تمه چې ترې کېده نه دی. زه په دې لیکنــه کــې د کمزورو شعرونو په اړه نه غږېږم د اوس لپاره د ځوانانو د فکري پیاوړتیـا پــه موخه د نورو هغو پخو او خوږو شاعرانو پر شعرونوخبرې کوم چې شعرونه یــې له هره اړخه په ټوله مانا پوره او کره دي. له هغوی بــه لــومړی د افغــان شــاعر ښاغلی درویش درا ني د ښکلې او خوږې شاعرۍ څو بیتونــه راواخلــم. دغــه ښاغلی وایي:

ستا د تندي تر خال چاپېره ولونه ولونه زلفې

ستا د ښکلا د ښار امیر په زولنو تړلی

زه خو وایم چې ډېر خوږ او ډېر ښکلی دی. د شعر په ټوله ما نا شعر دی. داسې شعر چې هم خوند لري او هم رنګ. هم د خیال او فکر منطقي تــړون لــري. او هم د الفاظو د ترتیب او بوښلو دومره خوږ تسلسل چې سړی یــوې بلــې هغــې ښکلې او رنګینې د نیا ته د خیال او فکر پر وزرونو وړي چې ا نسا ني ذوق یــې تل په لټه کې وي. وګورئ په دې بیت کې الفاظو او مفاهیمو ته د کوم خیــال او فکر د لېږد لپاره دغه ډول منطقي ترتیب او هنري جوړښت ورکــړ شــوی دی. چې ټول مخ یا د مخ ټول حدود په کې د ښکلا د ښار په نوم، د دوو، وروزو تــر منځ د تندي خال په کې د ښکلا د ښار د امیر په نوم، بیا د خال یو خوا بل خوا ولونه، ولونه زلفې د زولنو په نوم یادې شوي او بیا په ټوله کې دا ټول د ښکلا د یو شین ټکي (خال) لپاره په څومره خواږه، شاعرانه او ښکلي تخییــل کــې را نغښتل شوي او انځور شوي. او بیا دا هر څه دومره په تــول پــوره او شــمېرلي بیان شوي چې که لږ څه ترې کم او یا پرې ورزیات شي د بیت د ښکلا ډول ته زیان اړوي. چې دې ته وایي د شاعر د فکر او خیال هغه هنر چــې ده ورپســې کلونه،کلونه د زړه د سرو وینو په بیه خواري کړې ده. لکه چې وایي:

دغه هنر اسانه مه ګڼه درویښه یاره

د زړه په سرو وینو مینځل د غزل توري غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

**او دغسې نور د ښاغلي درویش صاحب ګڼ شعرونه چې هر یــو یــې د مینــې، محبت او سیاست په ډګرونوکې د ډېرو لویو، لویو ښکلاوو او ما نــاوو لرونکــي دي. وګورئ!**

**یوازې زه نه یم چې شوندې ښکلوم د ښکلو**
**د ګل د پاڼو سره دغه کار هوا هم کوي**
**چې ستا د سترګوپه لارستاوزړه ته ورسېږي**
**داهڅه کړې ده درویش اودا به بیاهم کوي**

**او یا دا نور:**

**بېلتونه دا ځل دې نو عمر دومره لنډ شه چې زه**
**په لمن اوښکې وچوم او جا نان بېر ته راشي**
**چې یې سرې شونډې د یار کله هم ښکل کړې نه دي**
**تر دغو خلکو خو نو زه بیا په زرواره ښه یم**

**او یا یې په سیاسي ډګر کې دا شعرونه:**

**مرغلـــــرې زورورو تــــــه ورپر پـــــــېږدي**
**اوښکې خپــل کورتــه کمــزوري راوړي راشـــي**
**بېلتانه دې د هــر چــا پــه غــم شــریک کــړم**
**یــــار د بـــل درومــــي او زه ورپســــې ژاړم**
**درویشه په دې کلــي کــې دی دا عجــب رواج**
**چې توری یوسړی وهي اوخـــان دی بــل ســړی**
**وړې یې هسې هم غاصب همېشه وړي په زوره**
**کشکې دا ځل زموږ غنم وکړي د مــار ســرونه**
**تر سږ یتوب د زرو قدر یو پــه زره زیــات شــو**
**دلته واړه ښکاري درویشــه تــر دینــار ســرونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هر شعر او د شعر هر يو بيت د همدغسې ښکلو خيالونو او تصويرونو سمندرونه دي. هر يو يې د يو کتاب خبرو خزانه ده. هر يو يې خپله، خپله ښکلا، خوند او مزه لري. وګورئ دلته هر ټکی او هر تصوير د تخييل په داسې خوم کې رنګ او پخوي چې د ښکلولو او لوستلو سره ترې د کشش د جذ بې ګوړې ځاځي. يا په بله ما نا هر ټکی يې د احساس د بيان لپاره ژوندي حرکتونه لري. او چې داسې ده نو ځکه يې موږ خوښوو او ستايو. که نه بيا خو ترې ځوان شاعر ښاغلی شاه سعود هغه احساس بېرته اخلي کوم چې ده ټکو او لفظونو ته زموږ د احساس د راپارولو او ژوندي کولو لپاره ورکړی دی. لکه چې وايي:

جا نانه ته چې ورته ښه نه ګورې
بس له سندرو نه نور لاس اخلم
شاعري نه کوم غزل نه ليکم
له ټکو بېرته خپل احساس اخلم

د بېلګې په توګه د دراني صيب په شعرونو کې ((د غنمو وږي او د مار سرونه )) د ((زورورو مرغلرې)) او د ((کمزورو اوښکې.)) يا د سړيتوب بې قدري او د زرو او دينار زياته قدر داني، يا د يار د بېلتانه په غم کې دومره محلولېدل او کړېدل چې بيا د نورو د بېلتانه پر مهال د هغوی په غم کې د هغوی سره دی هم ژاړي يا د عشق او ښکلا په پسرلو کې د ښاغلي رحمت شا سايل د احساس او عاطفې عالم ګيره شاعري چې په زړه کې لمبې لري او په لمبو کې بهارونه او بيا په دغو لمبو کې د هغه د يار د مسکو شونډ و وينښېدل او ځلېدل داسې قيامتونه جوړوي چې سړی وايي کشکې ما هم دا قرباني ورکولی شوی او دغو لمبو ته مې ورد نګلي وای ځومره به ښه وای لکه چې وايي:

په زړه کې مې لمبې دي په لمبو کې بهارونه
موسکۍ شونډې دې لا په کې پيدا کړي قيامتونه

او يا دا چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دا پښتونخوا ده د ښایست ناوې، د مینې ناوې**
**دلته به هر سپرلي د ګل د اور جامې کولې**

**وګورئ!په دغو دواړو بیتونو کې څومره ښکلا پرته ده، څومره خیال پروازي په کې شوې ده. خو پوښتنه دا ده چې د کومې ښکلا او خوند لپاره شاعر دغه منظر کشي کړې ده؟ کومو، کومو ټکو ته یې عیني او ذهني انځورونه اغوستي دي. څه، څه یې د خیال په توپانونو کې شاعرانه کړي دي؟ بس زه په کې یوه خبره هم نه کوم. ټوله خبره تا ښاغلي لوستونکي او زلمي شاعر ته پر ېږدم او زه خپل زړه ته د هغه د قناعت لپاره د علي ګل پیوند دا بیت ډالۍ کوم چې وایي:**

**زما د زمکې خلکو لاړم، ستاسو خپله زما خپله**
**یو خواړه اوبه خو نه دي، خوند او رنګ هم رانه غواړي**

**زه د دغو بیتونو شننه تا ښاغلي ته ځکه پرېږدم چې ته د همدغسې یوې ژورې مشاهدې او مانا کولو لپاره فکر وکړې هڅه وکړې. د یو ژور دایمي شعري فکري ریاضت لپاره سر په زنګانه شې او بالاخره یوه ورځ ته هم له ډېرې تحلیلي او فکري زده کړې وروسته قلم ته ګوتې کړې او هغه څه تصویر او ا نځور کړې چې، لا هم نا ویلي او نا لیکلي پاتې دي. سایل صیب زموږ د زما نې د پښتو شعر هغه سر لاری استازی دی چې زموږ ځوان شاعر کول یې په شاعرا نه پلونو پسې منډ اخیستی او په نیمه تروږمیو کې ورپسې پېلوځی په لاس ګرځي. خو فکر کوم چې لا تر اوسه ورته ډېره لاره پاتې ده. خو ښه خبره دا ده چې د رسولو لپاره یې هڅې پرله پسې دي خو بیا هم د هر چا په هر هنر کې خپل، خپل مقام وي که څوک د سایل صیب او د هغه د شعر سره مینه لري نو باور لرم چې یوه ورځ به ورسره خامخا یو ځای کېږي بیا به تري یا پاتې کېږي او یا به وړا ندې ځي خو زه دلته ځوان شاعر کول ته د دغسې یوې هیلې په هیله د هغه ښاغلي یو څو نور بیتونه هم ډا لۍ کوم:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

عشق مو کوو د پښتو رسم مو هم نه ماتوو
مونږه د لرې نه په سترګو ښکلولې سترګې
ما چې کوم بوټي ته کتلي اور يې هم اخيستی
ما دې د داسې ا نتظار په اور سيزلې سترګې
پټې دې داسې کړې چې لا ډکې ټوپکې دې کړې
داسې دې ولې ډکې، ډکې تورولې سترګې

د دې ليکنې له پيله مې دا خبره په زړه وه چې د با با، (د غزل د بابـا) مرحـوم حمزه با با شعرونه به په پای کې راوړم او اوس چې سايل صيب پــه دې بيتونــو کې د سترګو په اړه ډېره ښکلې خبره کړې نو د با با د سترګو په ياد شــعرونو ته مې تلوسه نوره هم زياته شوه او دادی ورمنډه مې کړه. چې وايي:
ستا له سترګو مې لوستل د سترګو زده کړل
اوس لوستل د خپلو سترګو هم رازده کړه
***

سترګې مې سترګو ته راپورته خو کړه
د زړه خبرې مې په سترګو کې دي
ستا د نظر هرې ادا ته رسي
داسې وزرې مې په سترګو کې دي
لوړې د حسن دې روزي شه اشنا
د عشق ژورې مې په سترګو کې دي

يا:

پاتې مې اسرې دي هغو سترګو ته
اوس مې ويښې شپې دي هغو سترګو ته
جار مې ترې د ژوند دا نه، دا نه کړله

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوښکې مې تسبې دي هغو سترګو ته
اوس مې ترې بېلتون لرې ویستی نه شي
سترګې مې نژدې دي هغو سترګو ته

او یا دا:

دا خو ته ولوله چې سترګو کې دي
نورې خبرې مې په زړه پا تې دي
ستا مې ښکلا زما دې زړه واخیستو
تا سره څه ما سره څه پاتې دي

با با د پښتو شاعرۍ او په ځا نګړي ډول د پښتون غزل د رنګینۍ لپاره دومره کار کړی چې له شمېره وتلی دی. بابا نه یوازې دا چې پښتو شاعري ښکلې رنګینه او اهنګینه کړې بلکې د شعریت معراج ته یې هم رسولې. د هغه په شاعرۍ کې یا د هغه د شاعرۍ په هر رګ، رګ کې د پښتون، پښتون نارې د ښکلا، ښکلا خبرې د ښایست، ښایست مرغلرې د خوند او رنګ نغمې او د شرنګ شرونګ سند رې دي.

لوی استاد علامه حبیبي صیب د بابا د غزل په باب لیکي ((زه د حمزه د هنر ښکلی او جامع مظهر هم د ده غزل ګڼم د ده غزل د اوسني پښتو ادب پر اسمان لکه روڼ ستوری داسې بر ېښي...)) په رېښتیا چې بابا پښتو غزل ته نوی روح، نوی رنګ او نوې، نوې سا ورکړه. پښتو غزل یې نور هم ښکلی، رنګین او په رېښتینې مانا معاصر کړ داسې معاصر چې د نومونو الفاضو او اصطلاحاتو نیولې بیا تر جما ل، جلال او کماله پورې یې هر څه غیرتې، مېړنې،پښتنې او توریالي کړه او خپل اشنا، جانان، یار او دلدار خو یې په داسې نومونو ونازول چې بیا تر ننه پورې زموږ کشری کول لګیا دی تقلید کوي لکه نمر مخی، ګل مخې، پښتون حسن پښتنه ښکلا، د حسن سروه، د پښتو چینار، پښتانه بانه، پښتون عشق، پښتنه مینه... د دې نه علاوه یې ښکلې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې قافيې، رديفونه، روان او متحرک بحروونه او نور ګڼ هغه څه چې لا مــې د قلم ګوتې د هغو د رانيولو او ښکلولو لپاره وخت او شونتيا نه لري ، لکه چـــې وايي:

سروه ته د حسن يې، چينار زه د پښتو يم
نه کومه ستا د قد قامت غلامي نه کړم

د پښتو شعر يو بل فن کار شاعر او سياستوال اجمــل ختــک د بابــا د شــعر او شاعرۍ په باب وايي ((حمزه په خپل شعر او فن کې ښه کامياب شــوی دی. او استاد منل شوی دی. استاد په روايتي مفهوم نه دی. په دې مفهوم چې څه يې وليکل هغه نورو ته نمونه شول)) هوکې په رېښتيا چې د بابا وينــاوې زمــوږ د ټولو لپاره په شعر او بيا په ځانګړي ډول په غزل کې د مشــالونو پــه مثــال دي وګورئ!

چې پسرلی په موسېدو ښکار ي ـ
ښکلي ځواني په وېښېدو ښکاري
پياله په سر ګلونه بيا راغلل ـ
د زړه دفتر په خوربدو ښکاري

بابا چې د پښتو غزل په ميدان کې کوم برياليتوبونه تر لاسه کړي دا داسې پــه اسانۍ نه دي موندل شوي.هغه چې هر څه کښلي د پښتون احساس د ناقرارۍ انجام يې دی. دمې او سا ايستلو ته يې وخت نه دی ورکــړی. او دا ځکــه چـــې پښتون عشق لېونی کړی و. داسې لېونی چې تر ټولو هوښيار او د لــوی خــرد خاوند لکه چې وايي:

چې دې له سترګو پر ېوتلی يمه
ايله دې زړه ته رسېدلی يمه
عشقه د پوهې نه هم ستا دی او چت

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې مقام ته رسېدلی یمه
ستا اننگو ته رسېد ل گران وو
لکه د اوښکې څڅېدلی یمه

یا:

پلو دې د مخ اخلم پښتنې خو دا مې واوره
زمري غوندې به گورې شرمېدل به پکې نه وي
حمزه د خپل خرد په بها ته یې پیدا کړې
د یار د کوڅې لارې ورکېدل به پکې نه وي

او یا:

ستا د ساده ساده نظره توبه
د سمندر غوندې ژور وختو
د زړه درزا مې بې سببه نه ده
د مرور اشنا خبر وختو

زما په عقیده خو د الله رب العزت کارونه داسې دي چې یو یې هم بې حکمته او بې معجزې نه وي. که چاته کم ورکوي او که زیات، خو په دغو واړو، ورکړو کې یې خپل غرض او خپل راز خوندي وي.چې له هغو بې شمېرو حکمتونو او رازونو یې یو زموږ د پښتو شاعرۍ د غني او شهکاري کولو لپاره پر موږ حمزه ولوراوه، غني خان یې راکړ، لوی استاد حبیبي یې راپېرزو کړ، اووه ستوري یې رابخشش کړه، ولسي ادب او په هغه کې یې د پښتو لنډیو د تخلیق او پنځوونې چل راوښود چې پر دې او هغې د نیا دواړو یې باید موږ مننـدوی، شاکر، ذاکر او اطاعت کوونکي و اوسو. خو دا مهال خبره د بابا د خلقت ده او هغه په خپله دا خبره ډېره ښه بیان کړې چې وایي:

حمزه د ښکلا راز یې چې په تا ظاهراوه
شاید ډېرې هستۍ به غزل خوانې جوړ بدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بابا هر یو غزل او د غزل هر یو بیت موږ ته د یوې لوړې شاعرۍ هنري عظمت او ښایست ډېرې وتلې بېلګې دي.لنډه دا چې په ټوله کې د پښتو معاصر غزل د بابا حمزه خان شینواري له شاعرۍ اغېزمن دی او د هغه ونډه په کې تر نورو ټولو هغو چې ځان ته ګوته نیسي ډېره زیاته ده خو افسوس چې زموږ ځوان کول او اوسنی زلمی شاعر لا اوس هم په سطحه کې دی او د (لیلا ډېره ښایسته ده له مالوچو هم پسته ده)خبرو او ببولالو نه ځان نه دی ازاد کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مېړنی شاعري**

**د ښځينه احساس په وړانګو کې**

**خوبونه د ځوانۍ يې په يو رنګ ارمان يـــې يو وي**
**اوســـــــــبړي په محـــــــــل که په کېـــږدۍ کې جينکۍ**
**په خـــــــيال يـــې راوربړي د چا مـــــــينه کې او ترې**
**منـــــــــګي په لاره مات کړي په تادۍ کې جينکۍ**
**(وږمه سباعمر)**

**پښتنې ښځې دمينې او محبت په دنيا کې د نارينه وو په شـان ځانتـه خپـل ښځينه احساس او ژوره عاطفه لري. د درونـي خواهشـاتود تسـکين لپـاره د ښکلي او ناښکلي د خوښونې ډېر لوړ ذوق او منلې سليقه لري، او دا ځکه چې هغه د شاعر خبره: يو خواړه، اوبه خونه دي خوند او رنګ هم رانه غواړي. يـانې که يوزلمی د يوې پېغلې نه دا هيله کوي، چې:**

**خـــوره وره غـبـــړې تــه راشــــه**
**چې پــه سرکو شــونډو دې خوله ولګومه**

**نو يوه پيغله هم د خپل پېغلتوب دجنون له مخې له يوه زلمي سره د محبت او دلدارۍ ارزو لري او ددغسې يوې مستۍ او شوخۍ هيله منه وي لکه چې وايې**

**ټينــګه مې ونيسه په غـــــــــــير کې**
**د پېغلـــتوب ستـــړيا مې وباسه مــــيينه**

**د ښځينه احساس د دغسې ر ښتينې غوښتنې او ذوق بيان يوازې په پښــتني ولسي ادب کې د يوې بې نومه او بې نښانه شاعرې له خوا شوی او بس.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اوسنۍ معاصره ښځينه شاعرۍ کې چې هر څومره ژوندۍ شعري ټولګې چاپ کړو ، د هېڅ يو دغسې رښتينې ښځينه دروني احساس او ښکلا خوښووني ذوق په کې نه ليدل کيږي، خو په پښتو لنډيو کې ښځه په خپل ښايست کې ډېره ښه غوړېدلې، ډوبه شوې او کله کله خو په دغه عاميانه شاعرانه ښځينه بيان کې دخپل حسن د سمندر له تله داسې ملغلرې راوباسي، چې د نارينه سترګې پرې وبرېښوي او مفتون يې کړي او دا ځکه چې ښځې د پښتون ملت په هستۍ کې بس همدا وسيله (ښاېست او ښځمنتوب) د يوې اغېزمنې وسيلې په توګه ورپاتې دی که نه نور خو يې د تاريخ په اوږدو کې تل د نارينه سالارۍ تر جغ لاندې پېړۍ، پېړۍ له کړاونو ډک ژوند تېر کړی، خو يوازې پښتو لنډۍ دي، چې د افغان ښځو د دغه غمجن تقدير سمه او دقيقه درجه بندي يې کړې او لايې کوښښ کړی، چې د ښځينه ژوند د تراژېډيو غم لړلی داستان د مسلط نارينه د ټولو کړو، وړو سره يو ځای د تاريخ پاڼو ته وخت پر وخت وسپاري، خو افسوس چې زموږ اوسنۍ لوستې مېرمنې، ليکوالې او شاعرانې د بيان او ازادۍ په دې دور کې د خپلو لوړو مسلکي او عرفاني پوهو او هوښياريو سره، سره بيا هم نه شي کولای، چې د پښتنې ښځې د حقيقي دردېدلي ژوند دقيقه انځورګري وکړي، چې دا په ښځينه پښتو ادب کې ډېره لويه تشه ده.

که څه هم چې نارينه وو لوستو او نالوستو شاعرانو ښځه زياته ستايلې ، خو د ښځينه شاعرۍ ستره ښېګڼه همداده ، چې په هغې کې ښځه په خپله ځان ستايي، او خپلې دروني غوښتنې او نورهغه څه ، چې هغه ترې اغېزمنه او اندېښمنه ده، په خپله بيانوي، خو څنګه يې بيانوي؟

دومره دقيق ، ژور او هنري چې ډېر ځله يې هغسې زموږ لوستي او مسلکې شاعران هم نه شي بيانولی، چې زموږ د دې ليکنې تر ټولو لومړنۍ پوښتنه او غوښتنه همداده، چې ولې زموږ لوستي شاعران او په ځانګړي ډول ښځمنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعرانې د هغو نالوستو او بې نومه ښځينه شاعرانو پــه خبــر د خپــل درونــي احساس د بيان ښه انځورګري نشي کولای، چې دغه کار بيا کلــه کلــه نارينــه شاعرانو کړی، خوهغوی هم يوازې د ښځينه احساس له زرګونو ذرو څخه يــوه، يوه ذره بيان کړې، چې لومړنی نوښتګر يې د پښتو ادبياتو پلار خان بابــا دی او له هغه را وروسته بيا تر ننه پورې کله کله نورو ډېرو زلميو شاعرانو هــم دغــه کار کړی، چې کېدای شي دا بــه د دوی ټولــو خپلــې خوښــوونې وي، چــې د ښځينه احساس دروني غوښتنې وړاندې کړي، لکه ستر خوشــال بابــا چــې د خپلې يوې ارتينې له اړخه وايې:

نوربـــــه مـــخ په آيـــــينه بـــــــرابرنــــه کړم
نه به دواړه ستـــــــرګې تـــورې په رانجـــــه کړم
نه به ماتـــې ماتـــې څــــنې په مـــــخ پر ېردم
نه به لانــــــدې بانـــــــدې لب په پاڼو سره کـــړم
هغــــه يارچــــــې چېرته وي خوشحال دې اوســي
دی دې خپـــــــله خوشحالي کا غـــــم به زه کـړم

بيانو د پېړيو، پېړيو راهيسې او په ځانګړي ډول زموږ د اوسنۍ پېړۍ شــاعرانو د خان بابا په پله تلل پيل کــړي او دغــه د ښــځينه ذوق او احســاس درونــي غوښتنې يې د هغوی له مورچله کړې، چې له خان بابا راوروسته به يې لومړنی ولسي شاعر اروانباد ملنګ جان راواخلو دی وايې:

نــوی مـوسم نــــوی بهاردی
سينو مـــــې وسپړل ګــلونــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رانـــــــه جــدا د مینې یاردی
ځکه مې ځي په مــخ رودونه
***
دا اوسني زلمي به څه کړم
چې ډول یې وي غیرت یې نه وي
خپل پېغلتوب به پرې ور نه کړم
چې ډول یې وي غیرت یې نه وي
سر مې له هغو زلمو ځار دی
چې په وطن ور کړي سرونه

اول خو په دې ټول پوهېږو، چې د پېغلو د سینو د ګلونو سپړلو موســم کلــه او څنګه وي او بل دا چې یوازې د پېغلو سینې ګلونه سپړي که د زلمیو سینې هم دغه کار کولې شي؟
په دغو دوو بیتونو کې د ښځینه احساس د بیان د ټولو ځانګړنو او سپړنو ســره سره دا سپړنې هم شته، چې د پښتنې مینې او محبت د چاپېریال د نورو ډېرو محرومیو او ناهیلو انځورګري یې هم کړې ده.
همدا راز لکه څنګه چې د ملنګ جان اکثره شاعري وطني او حماسي ښه پوخ رنګ لري، نو د مینې او محبت د خبرو ترڅنګ یې دوطن د ازادۍ لپاره هــم د پېغلو د لښکرو په جوړېدا فکر کړی اود ښځینه احساس د څرګندولو په موخه یې بیا داسې هم لیکلي:
راځئ خوېندو چې جوړ کړو موږ د پیغلو ښه لښکر
خــونددزلـــمونه شته ، نه په کـــــوز او نه پــه بر

یا:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د وطن لوریم دبانـنگه زلمو یاره یم
ورک دې کـــــــه بشــــــرله مـــا

له ملنگ جانه چې راتېر شو اروابناد الفت صیب د پښتو ادبیاتو په تاریخ کــې هغه پېځم ستوری دی ، چې لوی استاد پوهاند علامه حبیبــي صــیب ورتــه د انساني مینې شاعر نوم ورکړی و . هغه دژوند په هرډګر کې ښې په تول پــوره لیکنې اوشاعري کړې ، چې په شاعرۍ کې یې د ښځینه احساس دخرګنــدولو ډېرې ښېلګې شته، چې دلته به یې یوازې دا دوه بیتونه راواخلم :

اختیار مې د ځان نشته دی د جــبرپه مذهب یم
داد مــــې خــــــپلې خوښــې اورضا ته نه پریږدي
هېڅ نه شمه ویلی چې په کوم کور کې به سوځم
زمـــا د زړه لالیه څــــوک مې تاته نـــــه پریــــږدي

که څه هم د مشرانو لپاره ددې شعر تفسیر او تفصیل ته اړتیـا نشـــته ، خــو د کشرانو لپاره به دومره ووایم ، چې الفت صیب د هغو لیکوالو له ډلــې څخــه و ، چې د پېغلو او زلمیوخوښه یې د ژوند دملګري په غوراوي کې تــر هــر څــه د اسلام په رڼا کې غوره ګڼله او بیا په ټولو ټولنیزو چارو کــې د پېغلــو او زلمیــو خپلې خوښې ته پر ېښودل ، خو یې ددغسې وینـا وو مهــم ټکــي وو او دغــه پورتني بیتونه ، خو یې د هر پلار لپاره د پند او نصیحت ډېر ښــه درس ګڼلــی شو او د یوې لور د رېښتني ښځینه احساس د انځورګرۍ ښې ښېلګې یــې هــم بللی شو.

همداشان ځوانیمرګ مصري خان خاطر افریدی یو له هغو شاعرانو څخه دی، چې په ډېرو غزلونو کې یې ضرور یو بیت دوه د ښځینه احساس د بیان خــوارږه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لري او دغه خوارېه او خوږې خبرې يې بيا په رښتيا دومره خوږې بيـان شـوي، چې هغه د نصرالله حافظ صيب خبره:**

**كه دا خبرې د خـــــوراک شی وی**
**حافظ به ستا ټولې خوږې خبرې**

**لكه دا لاندې بيتونه:**

**خلک پرې تېر شـــــوي د سرونو نه**
**خوله رانه خاطر په تشه خوله غواړي**

*******

**خاطــــــره زه د تانه چـــاوړې يم**
**واربه دې راشي كه لږ واردې وكړو**

*******

**ډېر يـــــې غريو نيولي راكتلي دي**
**لږه به خاطـــــــر ته په خندا شمه**

**د خاطر افريدي په دې بيتونو كې هم د وضاحت او سپړنې لپاره څه نه دي پاتې شوي او د شاعرۍ پر ټولو خوږو پوره او كره دي، خـو بيـا هـم دربغـه چـې د خوارک شی نه دی!!**

**كه له اروابښادو شاعرانو را تېر شو، نو زموږ د نن په ژونديو كې هـم ښـه ډېـر زلمي شاعران شته، چې د ښې خوږې، هنري، نوښتيزې او لوړې شـاعرۍ تـر څنګ يې دخپلې ځوانۍ د زلميتوب تجربې او خاطرې په دومره لـوړه هنـري، نازكه، مهينه او اهنګينه ژبه بيان كړي، چـې د هـر ذوق لرونكـي لوسـتونكي هنري تنده ډېره ښه ماتولی شي، چې د دغې ډلې لـومړنی شـاعر بـه محمـد صديق كاوون توپاني صيب راواخلو، دی وايې:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د ښــــــيښو او ښاپېـــرو وطـــــن دی
دلتــــــه بــې ځايه اندېښــنې مـــه کوه
غبږ کې مې نيسه ښکلوه مې شونډې
ته هــــــم زلـــــمی يې بهانې مه کوه

ترکومه ځایه، چې زه خبر يم دا شعر د کاوون صـيب د ژونــد د يــوې ژونــدۍ خاطرې انځورګري لري، چې په کوم بهرني هېواد کې د سفر پر مهــال ورســره مخامخ شوی و او يوې بهرنۍ پېغلې ترې د يوې خوږې شــېبې او ناســتې پــر مهال همدغه غوښتنه کړې وه، چې په ځواب کې يې کاوون صيب ښه ښــکلی اوږد نظم ليکلی، چې موږ ترې دلته د خپلې ليکنې لپاره همدادوه خواږه بېتونه رابېل کړل ، چې ديوې نوتاندې پېغلې د ښځينه احساس او غوښتنې ډېره ښه او خوږه بېلګه يې ګڼلی شو . د هغې بهرنۍ پېغلې غوښتنې اوهيلې ته په پـام سره که زموږ د پښتنو پېغلو او زلميو ميينتوبونه او بيا په دې کې د دوی د ژوند نور اړخونه په نظرکې ونيسو، نو بې له شکه چې زموږ هره پېغله او هــر زلمــی دغسې غوښتنې او هيلې لري، خو هغه د سايل صيب په خبره، چې:

په خوله مې مهر دی ويلی نه شـــــم
په سترګو، سترګو کـــــې سلام واخله

يا :

د پښتـــــنوالــــې درونــــه پتــــه
زما په خوله دې لاس نيول ګونګه دې کړمه

او دې ته ورته په زرګونو نورې خبرې، چې زموږ د کلتوري محــدوديتونو پــوره پوره عکاسي او انځورګري پکې شوې، چې نور يې نو عيــان تــه د بيــان اړتيــا نشته، خو هغه څه چې نه زموږ کلتوري ارزښتونو ته زيــان اړوي اونــه پکــې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتنې پېغلې حیا او ښکلاته څه تاوان رسېږي، بیا ولې نا ویلـــي او پــټ پــاتې شي؟
لکه داسې یو څه، چې ځوان ا و تاند شاعر ښاغلی شــفیق الله شــاداب یــې د خپلې درخو له اړخه وایي:

یه د ګیلې نه دې قربان شمه خو څه وکړمه
پرون په تلوکــــــې در کتلو ته راجوړه نه شوم
والله چـــې ډېره د ارمان په لمبو وسومه خو
شــادابه زه دې خپلولو ته راجوړه نه شوم

چې ماته پرې هغه د یوې بلې پېغلې یوه خوږه وینا را په زړه شوه چې وایي:
مینه کې ستا نه کمه نه یم
کم عقله نه یم چې پرې کلي خبرومه

او بالاخره زموږ په ټوله پښتنه مېرنۍ شاعرۍ کې دغسې ډېــرې بــې شــمېره بېلګې شته، چې د ښځمنې مینې د بیان او اظهار ښې په زړه پورې نمونې یــې ګڼلی شو، خو له بده مرغه چې زموږ د معاصرو ښځینه شاعرانو پــه هــېڅ یــوه شعري چاپي ټولګه کې داسې الفاظ ا و مفاهیم نشته، چې د ښځینه احساس او ذوق په رنګ، رنګ شوي وي او که په یو ګل پسرلی کېږي، نو بیا خو یو څــوک شته، چې دغه کار یې کړی او لا دومره خوږ او ښکلی یې کــړی چـــې د پښـــتو لنډیو اتلان ورته هم کله کله د مانا او نازک خیالۍ په ډګر کې سر ټیټوي، چـــې هغه د پښتنې شاعرۍ او لیکوالۍ وتلې او نومیالۍ څېره آغلې حسینه ګــل ده. هغې د مینې او محبت په دنیا کې خپله شاعري د انساني ژوند د نورو اړخونو د بیان ترڅنګ د ښځینه احساس د بیان په ډګر کې هم دومره پــه زړه پــورې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنګینه کړي، چې له ډېرې رنګینۍ او خوږلنۍ ورته د لوستلو پر مهال د سړي زړه اوبه اوبه کېږي او نه شي کولای، چې یوه شېبه یې هم د خوږو یادونه له زړه نه وباسي، چې ډېرې ښې ښېلګې یې د هغې په ازادو شعرونو کې پر بېمانه موندلی شو، خو دلته به یې یوه ښکلې غزله ددې لیکنې د ښې پای لپاره راوړو، چې لیکې:

ښه په ښکاره او ښه په نړه مې کړي
دومره مې ښکل کړې چې اوتره مې کړي
زه د فن کار لالي په فن کې اوسم
ساز ته مې وسپاري سندره مې کړي
پته مې نه کړی شي په زړه کې اشنا
په خوله مې راولي خبره مې کړي
چې دا یې زور دی او که اور د مینې
لکه توده تبه شېبره مې کړي
د قربت هره حوصله مې مړه کړي
د یو نازکې لمحې وېره مې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په جنسي مسايلو کې د خوشال بابا تجربې او لارښوونې

وايي چې (( په اوبو کې مخ پورته تگ قوت او جرات غواړي او د اوبو له جريان سره موافق تگ مړه کبان هم کولی شي)) مانا دا چې د وخت د نابرابريو، ظلمونو او ناروااوو په وړاندې د اعتراض غږ پورته کول او هغه غندل قوت او زړورتيا غواړي او برعکس يې په روانو اوبو کې د مړو کبانو موافق تگ ته ورته دی. دا د ټولنيز ژوند د نا انډوليو او بې عدالتيو لپاره له طبيعت څخه يوه ژوندۍ بېلگه وه، خو د انساني ژوند په نورو اړخونو کې هم داسې ډېر څه شته، چې هر څوک يې د بيان او ليکنې لپاره منطقي دلايل او زړورتيا نه لري. دغه ناويلې خبرې د ښځې او نارينه يا ښځې او مېړه د کورني، جنسي او عشقي ژوند ځينې داسې کيسې او پېښې دي، چې هغه د چا بزرگ خبره، د شپې هر څوک ډاربږي خو، څوک يې وايي او څوک يې نه. خو د پښتو ادب پلار ستر خوشال بابا په خپلو ويناوو، ښوونيزو پندونو او شعرونو کې د جنسي مسايلو په اړه ډېر گټور نصيحتونه او مسايل وړاندې کړي چې تر دا مهاله هم پخواني او هم اوسني ليکوال او شاعران د دغه ډول ارزښتمنو ويناوو له بيان او اظهار څخه عاجز وو او دي د بابا له کتابونو او ويناوو دا ډېر ښه څرگندېږي چې د ژوند په ډېرو بېلابېلو خواوو کې يې پوره، پوره تجربه لرله، د خانۍ او سردارۍ ژوند يې تېر کړی. له پلار نيکه څخه خان او سردار پاتې شوی لکه چې وايي:

په اباوو په اجداد خان و سردار يم<br>
کار نامې لرم د جنگ او د جدال

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خان بابا په اړه ډول، ډول اقوال موجود دي. د ده د (۲۶) زامنو، له (۲۰) زياتو ښځو او د ګڼ شمېر وينځو يادونه هم شوې او د يوه فوق العاده استعداد په لړلو کې خو يې هېڅ (خو) نه شته، ليکلي کتابونه يې هم زما د اور ېدلو له مخې تـر (۲۵۰) پورته ښودل شوي. د څو اتيا کالو په شاوخوا کې يې ژوند کړی. د ده له ويناوو او شعرونو دا ډېر ښه څرګندېږي، چې ډېـر ((ينـده)) عشـقي، ښـکلا پالونکی او ښکلا خوښوونکی و او په جنسي تعلقاتو او مسايلو کې د علمـي او نظري ډېرې لوړې تجربې خاوند و، دی د شعر په ژبه د جنسي لارښوونو لپـاره ګڼ شمېر شعرونه لري، چې دلته به يې د شعر او شاعری لـه نـړی څخـه يـو شمير شعرونه او بيتونه د بېلګواوشننو سره يو ځای وړاندې کـړم لکـه چـې وايې:

پـــه هفتـــه کـــې صـــحبت يـــو ځلـــه بايـــده دی
کـــــه هــــر څـــــو دربانـــــدې عشـــــق وي زورور
د صـــحبت پـــه کـــار کـــې ډېـــر فکـــر بايـــده دی
څـــــورب اس شـــــي پـــــه يـــــوه ګـــــوزار ډنګــــر
د زړې ښـــــځې صـــــحبت دی لکـــــه زهـــــر
هـــــر ســـــړی دې ځنـــــې وکانـــــدي حـــــذر
د هغـــــې ښـــــځې صـــــحبت لکـــــه دارو دی
چـــــې يـــــې لـــــور نـــــه وي زوولـــــې يـــــا پســـــر
که دې لاس په بکـره بـر شـي پـرې يـې مـه ږده
کـــه دې ځـــای شـــي پـــه هغـــه جهـــان ســـقر
د مـــخ رنـــګ تـــازه کـــوي صـــحبت د بکـــرې
ورکـــــوي سســـــتي د تـــــن درد، د کمـــــر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بابا د خپلو ټولو جنسي کړنو او تجربو د اعتراف تر څنګ په خپله هم په دغه کار کې دومره پر مخ تللی، چې د نورو ډېرو له وسه پوره لېرې او آخوا کار دی، خو بیا هم هغو ته چې د دغه کار ډېر لېوال دي د جنسي لوبغاړیو د زیان او تاوان په اړه داسې یوه نادره وینا هم لري:

د شهوت په نغوته مه ځه شهوت اور دی
په دا اور د ډېرو سوي دي کورونه

یا:

د صحبت په کار کې ډېر فکر بایده دی
له صحبته پیدا کېږي خیر و شر

د بابا د ویناوو او شعرونو نه دا هم ډېر ښه څرګندېږي چې په نفسي او جنسي خواهشاتو ډېر مئین و، سره له دې چې د عملي کار پر زیانونو یې هم ښه خبر و، خو بیا هم پر زړه یې ارمان نه دی پرېښودی او څه چې یې زړه غوښتي، هغه یې تر سره کړي. لکه چې وایي:

زه د (غ) د لاسه چاوو ته فریاد کړم
لمونځ زما له لاسه ووځي چې (ک) یاد کړم
په درست کال به مخ ناولي(ک) ته پروت وم
په حېرت شم چې په یاد هغه فساد کړم
کله لس کله زیات کم کله تر شلو
د دخول ویل وچاوو ته تعداد کړم

خو د دغو ټولو کارنامو او یادنامو سره،سره بیا هم بابا وایي، چې:

د زړه مینه یې په ښکلو ماته نه کړه
خوار خوشال به د دنیا نه دا ارمان وړي

یا:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**که هزار کاله شېخي کوې خوشاله**
**چې ښه ښکلی درنږدې شي خوله يې ښکل کړه**

اروانښاد استاد محمد صديق روهي د بابا په اړه د هغه د کلياتو د دويم ټوک په سريزه کې ليکي: ((خوشال د پښتنو لپاره يو اخلاقي ايډيال ګڼل کېږي. خان د لمونځ اودس او روژې ډېر پابند و ډېر ريښتينی صاف ګو، سړی و اګر که جنسي جذبات پرې ډېر غالب وو خو د هغو د تسکين لپاره يې نا جايزه طريقې نه وې استعمال کړې. په حرم کې يې وينځې هم وې، خو د دې لپاره د هغې زمانې د معاشرت حالات ذمه وار وو. خان ډېر تورزن، شجاع او خود داره سړی و او همدا راز په کتاب، سرود او ښاپست ډېر مئين و.)) د خپلو جنسي کارنامو په اړه چې خان بابا کومې يادونې او کيسې کړې، د هغوی د لا روښانتيا لپاره دا هم وايي:

لـــه پرديـــو مـــې توبـــه واړه پـــه خپلـــو
د ځوانيـــه حـــال بـــه هـــم درتـــه پـــه يـــاد کـــړم
چـــې مـــلا بـــه بانـــګ نمـــاز وی مـــا بـــه (ک ...) غـــو
د روژې پـــه ښـــه ثـــواب بـــه يـــې نـــا ښـــاد کـــړم
ورځ و شـــپه راتـــه مـــخ ځـــټ وي لـــس پيـــنځلس
ګـــوی مګـــوی ويـــل لـــږ نـــه دي چـــې يـــې يـــاد کـــړم
نه په حيض، نه پـــه نفـــاس لـــه مـــا ځـــوک خـــلاص وو
ځـــه د (غ) ناســـازې چـــارې پـــه فريـــاد کـــړم
چـــې مـــې (غ) دا هســـې بـــد دی ګومـــان مـــه کـــړه
ځکـــه خـــدای پـــه ډېـــر اولاد کـــې بـــد اولاد کـــړم

بابا چې د ځوانۍ د لېونتوب په وخت کـې د جنســي، عشــقي او نــورو خونــد اخيستو په اړه ځه کړي هغه هم د نــورو د هغــو ســره ډېــرې ژورې او جــوتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ښلوونې لري، خو په پیرۍ او بوډاتوب کې هم ورپسې ډېر ځوانان او پـه تېـره اوس مهال ځوان کهول نه شي رسېدی، خو بابا د ځوانانو یاد او حـال هـم لـه خیال و انده نه باسي او وايي:**

**زه چې زوړ یم دا مې حال دی**
**د ځوانانو به څه حال وي**
**درسته شپه د (غ) د لاسه**
**درازي په ما مهال وي**
**ورځ و شپه مې دا فکرونه**
**که واده مې کال په کال وي**
**تر اوویاو کالو تېر شوم**
**واویلا مې ښه جمال وي**

**نوره خپله لیکنه رانغاړم خو ټولو کشرانو لوستونکو ته یوه خبـره کـول اړینـه ګڼم او هغه دا چې که د خان بابا د عاشقانه نظریاتو او تجربو نه د ګټې او خونـد اخیستنې سره مینه لرئ، نو د هغه ټول کتابونه لږ تر لږه یو ځل خامخا ولـولئ خو په ځانګړي ډول یې د شعرونو دویم ټوک له یاده مه باسئ. د دې لیکنـې د ښې پای لپاره د بابا دوه، د بېلابېلو موضوعاتو په اړه ښـکلي شـعرونه را اخلـو چې یو یې د یوې ښې او نامي ښځې بېلابېل صفتونه بیانوي او بل یـې د یـوې ناکاره ښځې د ناکاره خویونو یادونه ده:**

**ښـــځه ښـــکلې ښایســـته پـــاکیزه بویـــه**
**چـــې یـــې پـــلار نیکـــه لـــه ځایـــه معتبـــر**
**شـــــــرمناکه، پـــــــرده پوښـــــــه دلاوره**
**اراســـته پـــه عقـــل و هـــوش پـــه ښـــه هنـــر**
**نـــه وهمـــي نـــه وسواســـي  نـــه بدمعاشـــه**
**نـــه یـــې مینـــه پـــه دنیـــا نـــه زر زیـــور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر مېرمنـــې وينځـه ښـه ده پـه ښـه خـوی کـې
نــه مېــرمن چـــې نــه يــې خــوی وي نــه بشـــر
کـــه دا هســـــې محبوبـــه پـــه لاس کېـــوځي
لـــه وجـــوده يـــې پيـــدا شـــي ښـــه بشـــر

او دا هماغه....

ته چې سر له دېـوال هسـک کـړې سـړی ګـورې
د(ک) تـــاو نښـــې دې نشـــته تـــر دا نـــورې
کـــه دې زړه د(غ) پـــه عشـــق نـــه وي بـــايللی
د واده پـــه ويـــر څـــه هـــر لـــوري تـــه خـــورې
پـــرده پوښـــې بـــه ضـــرور وځـــي نمانځـــه تـــه
ســـترګې وازې پـــه بـــازار ګرځـــي ســـرتورې
يـــا يـــې نبـــت د کاســـيرۍ يـــا د مېـــړه وي
هره کونـډه چـې لاس سـره کـه سـترګې تـورې
پـــه هغـــې بانـــدې ګـــواهي د بـــدۍ ولـــه
چې يـې ګشـت پـه نـورو خونـو خپـل ورپـورې
د مېــړه پــه رېــره نــه خانــدي نــو څــه کــا
چـــې د بـــل ســـره خبـــرې کـــا خمســـورې
د خوشـــحال ويـــل بـــه بـــې مضـــمونه نـــه وي
چېـــرې نـــه چـــې يـــې مزاقـــو ســـره شـــمورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خاطرى که خاطرې؟!

ځو ورځې مخکې مې د اسداباد په ښارکې د يو کتاب پلورنځي مخې ته په يـو کتاب ګوټي سترګې ونښتې، چې ښه غټ پرې په غټ ليـک ليکـل شـوي وو (خاطرى) او د دې ليک لاندې بيا يو غټ چشمکي تصوير په کتاب پورې نښتی و، چې په لومړي سر کې د دغه عکس په ليدو سره سړی داسې اندي لکه چـې خاطرى همدا دى! ؟

د عکس لاندې ليکل شوي: ليک  شيرزمان صادق کونړى.

کله چې مې دغه د خاطري کتاب لاسته راوړ. لاندې باندې مــې ورتــه وکتــل، لړليک او  پر کتاب ليکل شوې سريزه او څه نورې ليکنې مې ولوستې، نـو پـه دې پوه شوم، چې دا خاطرى نه خاطرې دي، خو  د کتاب پر مخ دغه سـرليک په غوښتي يا ناغوښتي ډول همداسې په همدغه د خاطرى په مانا ځلېږي.

دغه کتابګوټی خاطرى د ۱۳۸۱ ل کال د زمري د مياشــتې پــه ۳۰مــه نېټــه د شيرزمان صادق کونړى ليکنه په نوم د ۱۰۰۰ ټوکو په شمېر له چاپه راوتلی، چې ټول ټال په کې ۵۷ ليکنې په بېلو، بېلو نومونو چاپ شوي.

په دغه کتابګي باندې يو مشهور ليکوال نشتر صيب لومړى ســريزه ليکلــې او بيا وروسته د نشتر صيب پر ليکنه باندې د کتاب ليکونکي هم د ياداشــت پــه نوم څه ليکلي. نشتر صيب د خاطرى د سريزې په يو ځاى کې ليکلــي، چــې د صادق صاحب شعر خو په رښتيا د يوځانګړي ارزښت کيف لري، صادق صــيب په خپل شعرکې ډېره ژوره محتوا لټوي ...

خو د کتاب ليکونکي د نشتر صيب ځينې خبرې رد کړي او ليکي: (دغه کومــه سريزه چې نشتر صيب زما په شعر شاعرىليکلې ده، زه له حقيقته لرې بــولم ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

**زه فقط دومره کولی شم، چې قافه او جمله بندي په ډېر مشکل برابــر کــړم او بس...) دا چې شعر هغه احساس او عاطفه په انسان کې روزي. چې ژوند پــرې ولاړ دی، هیله پرې ژوندۍ ده، د ژوند سره مینه په کې نغښتې، نو د همدغسې ویناوو د لا پخلي لپاره نوموړی خاطری ما په ډېر غور ټکي په ټکي او لیکه پــر لیکه له پیله تر پایه ولوست، خو دا چې ((په دیوان کې یو غزل د انتخاب وي)) نو ما هم د خپلې شعري سلیقې له مخې دغه څو بیتونه ترې غوره کړل چې:**

**ماترې دواړه لاس د مینې تاو راتاو کړل**
**لکه خورمه وه د ګل خوره وره شــــوه**

**په رښتیا سره، چې د مینې او محبت خبرې کــه هــر څــومره ســاده او بــې ساخته وي، هغومره ښې وي او په سړي ښې لګي او بیا خو چې په کومه خبــره کې د مینې او محبت جلوه وي، هغه که په هرعبارت وي، شــعر دی او همــدغو خبرو ته شعر ویل کیږیاو صادق صیب لیکي :**

**غماز زموږ په کور او کلــي کې دېره وهلې**
**په خوب ویده زما په غیږه کې جانان وژني**

**نو خبره لا خوږه، لا مینه وړې او په زړه پورې شوه او د مینې پــه غیــږه کــې د ویده جانان وژنه هغه څه دي، چې ریښتنی انځور زموږ سترګو تــه دروي، کــه څه هم چې دا به هغه غماز نه وي، کوم چې موږ یې پېژنو او نه به هغــه جانــان وي چې زموږ په ظاهري خیال او اند کې ځای لري، خو بیا هم خبره د جانان ده او د جانان خبره هر ځای کې چې وي، د مینــې، ســتاینې او خواخــوږۍ وړ ده دغسې ډېر مبین او مبینان په ویدو وژل شوي خو په خوږه غیږه کــې وژنــه او هغې ته په غېږ، غېږ کتل دا ډېره ګرانه او سخته خبــره ده دغســې د ســترګو لیدلي حال ته زړه ټینګول، د کاڼي زړه غواړي، خو دلته په خپــل ټــول خونــد سره راوړل شوي دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د دي ټولو ښکلاوو، ځانګړتیاوو او ماناوو  سره، سره بیا هم د انســان روح او ذوق نورو  ښکلاوو. خوندونو او رنګونو ته اړتیا لري او دغسې د یو بــل روحـــي تسکین او تسل لپاره نور شیان دي. نورې ښکلاوې او اړتیاوې دي، ځکه چــې: (( یو خواږه اوبه خو نه دي، خوند او  رنګ هم رانه غواړي))  نو د همدغې اړتیــا او ضرورت پر بنسټ په همدغه خاطري کې یو ځای داسې هم لولو:

سپرلیه راشه دې زمــوږ خزان وهلـــــــــي کورته
چې لږه ساه در پکې اوباسو او  رنګ واخــــــــــلو
او ستا د ښـــــکلا په نوي دور کې قدم پورته کړو
د خپل باقي نیمګړي عمر نه څه خــــوند واخلو

خو  زموږ د زمانې یو نومیالی شاعر او لیکوال لیکي :
((شعر د زړه غږ دی او د زړه غږ د منطق له غږ څخه ډېر قوي دی، که یو شاعر د نورو په شان هر چا ته او هر شي ته سر ټیټوي او  په فکر کــې یــې د بغــاوت جذبه نه وي موجوده، له هغه نه د ښه شعر هیله نه شې کېدای، شاعر ته دا هم نه ښایي، چې د زاړه منطق درس د عقل له زاړه بوډا څخه واخلي او په زړه لاره په زاړه فکر پسې لاړ شي، د شاعر نظر باید د نورو غوندې نه وي او  هرڅه پــه بل شان او  بل رنګ وویني، ځکه چې د شعر او  ادب دنیا بېله ده. شاعر باید په هر څه او هر وخت کې زړه ته رجوع وکړي او ډېر حساس زړه ولــرې، شــعر  او ادب د بشر علایق، د دین او مذهب سره ټینګوي، هغه څه چې انسان د مادیت د غلامۍ او بت پرستۍ نه ســاتي شــعر دی عارفانــه ذوق، انســاني عاطفــه او حکیمانه شعور د شعر په نغمو وده کړې)) خو افسوس، چې:

جوداني قدر یولعل پکې پیداشي
نور همه واړه د تورو کاڼو غردی

نو دلته همداسې شوي او  همداسې وشول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غیر له دغو څو بیتونو، چې ما ترې د ښو بیتونو په نوم غوره کړي او هغه هم په ټول شعر یا غزل کې همدغه یو، یو بیت و، نور ټول کتاب هسې هغه، دغه د ژوند د تجربو عادي خبري دي، چې د شعر په نامه وړاندې شوي او پلورل شوي دي.

داسې نمونې او بېلگې، چې نه پکې شعري نوښت او ابتکار شته او نه هنري تخیل، نه خوند لري او نه رنگ، یوازې او یوازې تکراري، سر سري خبرې او لاپې شاپې، چې:

ای مل شوی د افغان ستر قهرمان ولسه
ای په تاریخ کې ازموده په درست جهان ولسه
لکه وجود د لاسو گوتې په یو شمیر و رونه
د یو ټاټوبي یو واحد ملت په څیر ورونه
وسله یې واخیسته ورور یې مړ کړو ځان یې مړ کړو
تاریخ یې وواژه ستر لوړی نوم نشیان یې مړ کړو
نو دا خو اسلام نه دی پښتو نه ده او غیرت هم نه دی
نه کوم نوښت دی نه میړانه شجاعت هم نه دی
خوشې عبس په چوپړی د بل د پاره ورونو
خالي سرونه تش کالبوط په دغه لاره ورونو

او دغسې نورې په لسگونو بېلگې. چې هېڅ په لوستلو او لیکلو نه ارزي او غیر له دې نه، چې یوازې او یوازې وزن لري او کله، کله یې هغه وزن هم مات او نیمگړی کړی او خبره یې نوره هم خرابه او بې خونده کړې. لکه دا:

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلـــی مـــې وژاړم کـــه کـــور کـــه وران کابـــل وژاړم
خلکـــه یـــو ځلـــې وژاړم کـــه پـــه ځوځـــل وژاړم
یو خواته یو ورور شهید پروت بل خواته بل ورور شـهید
څـــه وکـــړم یـــو تـــه وژاړم کـــه دا بـــل وژاړم
چونتې تالا شـوی تور پېکـی پـکې د مـور وسـوځېد
زه یـې ویښـتان کړمـه راټـول کـه یـې اوربـل وژاړم

او زه یې په کوم کوم شعر وژاړم او په کومه یوه به یې څه خبرې او څه ولیکم، خو ټول په ټول همدغسې در واخلئ او موټی د خروار په نوم یې وګورئ ټـول هسې هغه دغه لیکل شوي، هېڅ داسې څه په کې نه تر سترګو کیږې، چې زړه پري خوږ شې، هنري او شعري تنده پري ماته شي. دا د شـعر لیکلـو او شـعر لوستلو نه د انسان زړه توروي. او دغسې په شعر او شاعرۍ باندې ملنډې وهل او په شعر او شاعرۍ پسې وروسته اوازونه کول دي، چې خو نورو بېلګو ته یې ستاسې حوصله غواړم، چې د ګناه په شعر، کې یې د لیلا په تور څنګه وژلی؟!

په تـــور د میـــنې د لیلی مـــې وژني
خلـــکه پـــه ظلـــم ناروا مـــې وژنـــي
وطـــن خو مـــور ده کونړی صـــادقه
د خپلې مور سه په دې وفا مې وژنـــــي

×××

دغـــه کنـدې دا کورونه دا د یار کلی دی
د ډېر پخـــوا نه مشهور مـزادار کـــلی دی
زه خو ورځمه که غماز مې لارې بندې نه کـــړي
زموږ د دواړو کلی دی د چا د پلار کلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

×××

وګورئ د وزني او سېلابي نیمګړ تیاوو، سره، سره نورڅه لري؟ آیــا د ماشــومانو خبرې نه دي؟ عامیانه باندہ والې ویناوې نه دي؟ هسې ســاده، شــډلې، ګــډې وډې او بې مانا جملې نه دي؟ نو، چې داسې ده، دغسې خبرو، قافیو او ردیفونو ته شعر ویل ظلم دی، په شعر او د شعر په سپیڅلې مانــا ملنــډې وهــل دي، د شعر نه د لوستونکي او اورېدونکي د زړه د مینې سرېدل دي او بیا یې په فقهه په شعر! کې دې دعوا ته وګورئ، چې:

شعر لیکل غزل او اقسام لیکل زما کار دی
فقهه او ایات حدیث اجماع دا د ملا کــار دی

د پښتانه په نوم شعر چې:

پښتــــو هغسې نه ده او نه پښتو سره خایږي
کنه په زیر او پېښ او هم په زور کې مې پښتو ده

دا خبره خو به یې ښځي یوې خوا ته کړو، چې املایي خوا یې څنګه ده؟ خو د دې پوښتنې ځواب نغد غواړم، چې دا بیت څه مانا لري؟ زه نه پهېږم نــو دلته شاعر څه غواړي او دا یې څه... په ډانګو وهلي دي. نه یوازې دا بیت، ټــول (شعر) یې دغسې بې مانا او بې مفهومه دی او که دغه نیمګړی وزن ترې لــرې کړو، نو بیا هسې عادي نثر او ورځنۍ خبرې دي. لکه دا:

(میرنی) په پټه وکړکـــــــــی ته ما اشنا په تیګو ولــــی
یوه ورځی نده هر وخت کښې ما دا په تیـــــــــګو ولی

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه وايمه ای خدايه هغه د شرميږه مږه شـــــــــه
چې څوک به څوک په لمسه د بل چا په تيګو ولی

ښه نو! اوس تاسو پر ېکړه وکړئ او د مانا او نوښـت خبـره يـې يـوې خواتـه پر يږدئ ياد بيتونه پر کومه ژبه ليکل شوي؟ دا د پير يانو ژبه ده که پښــتو، کـه پښتو وي، نو د دې څلورو واړو کرښـو نـه څـه مطلـب؟ ليکـونکی يـې څـه غواړي،بيان کړي کومه مانا رسوول غواړي، چې نه کاميابيږې، خو دا چې ګونګ د ګونګ په ژبه پوهيږې، نو کېدای شي چې دا يې ګونګيـانو تـه ليکلـي وي او هغوی به پرې ښه پوهيږې.

هی هی وطنه، وطنه ګران وطنه، له تـا قربـان وطنـه، زمـونږه ځـان وطنـه، افغانستان وطنه، د
اتلونو کور يې، د هرافغان وطنه... د وطن سپيڅلې کلمه او د دغې کلمې سره د زړونو رښتينې مينه په خپل ځای خوږه، درنه او د ستاينې وړده، خو په دومره سولېدلو او کار ېدلو ماناوو او الفاظو نه، چې ګرانه وطنه او ځـان وطنـه قربـان وطنه... بلکې په داسې يوه ژوره مانا او مفهوم بايد راوړل شي او وکارول شــي، چې هم خوند ولري او هم رنګ لکه:

تيل يې وچيږې خپلې وينې په کې زر واچوئ
چېرې مږه نه شي د جونګړو مو ډيوه مــلګرو

او يا دا چې:

تاته راشمه زړګـــــی زما فارغ شي
بې له تا مې اندېښنې د زړه مارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو زموږ د څېړنې او کره کتنې د شاعر شعرونه ((خاطری که خــاطرې؟!)) نــه یوازې، چې د نن ورځې شاعر نه دی، بلکې هغه د پېړیو، پېړیو پخوانۍ عنعنه یې هم نه ده یاده او نه پرې پوهېږي. د خاطري د کتابګي په اکثرو شعرونو کــې هېڅ ډول شعري او هنري تخیل نشته هېڅ ډول ښــکلا، صــمیمیت، او شــعري واقعیت پکې نه لیدل کېږي چې په دې اړه یو نومیالی لیکوال او شاعر لیکــي، چې: ((د نن ورځې ناوړه او زیان لرونکي کتابونه نه یواځې دا چــې د یــو ځــل لوستلو ارزښت هم نه لري، بلکې د سوځولو وړدي.))

او دغه ډول شعرونه هم باید وسوځول شي ځکه چې دغه شعرونه په لوستلو نه ارزي باید شاعر یې وپوهول شي که (شاعر وي) چې دغه خبرې شعر نه دی او هغه چې رښتیا هم شاعر دی نو باید د ښه او بد بشپړ او نیمګړي توپیر وکــړای شي. نو اوس پوره پوه شو چې دغسې شــعرونه دغســې شــاعران او دغســې کتابونه په پښتو کې ډېر زیات دي، چې د یوې پاڼې لوستل یې هم ارزښت نــه لري، لکه دا:

د هر بد خوا په خوله کې سوک ورکوي
د غـــــــــیرت ډک دا د زلمو وطن دی
دا هغه شان د ننګیالووطــــــــــن دی
او ډېر له پخوا د پښتـــــنو وطــــن دی
او خبــــره رانه هــــــــــیره شوه
رښتیا کونړ د مـــــــــیړنو وطــــن دی

اوبیاهغه د زرین انځور صیب خبره، چې شعر که نثر، شعر که تاریخ، شــعر کــه جغرافیه!؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**او دغسې نورې ډېرې بېلګې لکه د مجاهدشعر، چې:**

**ما په غیرت کې ټول جهان پیژني**
**زه غزنوي یم بت شکن مجاهد**
**او سوی لمبو یم لوغړن مجاهد**

**یا دا:**

**نه په مجموع نه په خصوص کې ښه دی**
**په زانله زانله یګانه مې سر شـــــــــو**
**په ســــــــرنوشت چې زمونږ لوبې کوي**
**پـــــــدي ویب او بهـــــانه مې سرشو**

**دغه ټول شعر! هداسې ببولالې او ګډې وډې دي هېڅ مانا اومفهوم نه لري**
**یا دا:**

**چې پوهول او خلص لیکل کوي د شعر ژبه ده**
**شرمیږې نه رښتیــا ویل کوي د شـــــــعر ژبه ده**
**وړه جمله کې انعــکاس ښایې د اوږد مـــــــطلب**
**چې سوچ ژړا او خندول کوي د شــــــعر ژبه ده**

**ټول شعر یې همدغسې درواخلئ یوولس بیتونه لري، چې ټول یې همدغســـې: په دیواله مې سر ښکاره کړ، هغې ویل څه کړې ما ویل ته څه کړې میینه ! پــه نامه ټوکې ټکالې دي، چې ماته پرې هغه د یو ښــوونکي او زده کــوونکي د زده کړې کیسه را په زړه شوه، چې یو ښوونکي کــوچني ماشــوم تــه د قرانکــریم**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(لاریب فیه) کلمه تکرار وله، خو د ماشوم ژبه پرې نه چلېـده او ویـل بـه یـې (لالاپې پېړې) نو ښوونکي ورته وویل چې خدای دې غرق کـړه لالا خـو پـرې خود پوهېږي ته پرې نه پوهېږې . دلته هماغه نکل تکرار شوی، چې د شعر ژبه خو همدغسې ده چې سمندر په کوزه کې ځایوي، خو ستا ژبه او ته داسـې نـه یې او د شعر په نوم ورځنۍ عامیانه خبرې وړاندې کوې، د املایي غلطیو سـره، سره د نورو ژبو په لغاتو کې هم ډېر ماهر دی چې د خپلـې پـه ((سـپېڅلې)) شرمېږي او د نورو ژبو په ((مقدس)) ویاړي. په پای کې د خـاطري پـه املایـي اړخونو یو ځغلنده نظر تېروو او ګورو، چې زموږ لیکوال څر نګه ګلان کرلي دي.

ناسم

تیګي

خاپری

خاییسته

خذان

یو زلي

پیخ

ویختان

زانله

چه

کښې

د پردیو لغاتو برخه: متاع، لحظه، فلاح، صلاح، شجاع، اظهـار، خونینـه، مقدس انعکاس، صلحه، خلص... او دغسې نور په سلګونو دراخلئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کې په دې هیله، چې شېر زمان صادق کونړی د ښه نه ښه شعرونه ولیکي او خپل ولس، ژبې او ادب ته یې وړاندې کړي. د خوشال بابا او عبدالقادر خان ختک په یو، یو بیت خپله لیکنه ختمو وم :

منت به یې وړمه په سپینه ږیره
که وړکی راشي راته څه وښايي

(خوشال )

چې و ماته زما عیب پېشکش راوړي
د دې هسې یار له خدایه په غوښته یم

(عبدالقادر خان ختک)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتنې په قامت سترې نه دي څه دي؟

د درې، څلور کالو به ووم، چې د ترحم او عاطفي ملکې (مور) مې رانه د تل لپاره سترګې پټې کړې. په دومره کم عمر کې خو دا طبیعي خبره ده، چې یو ماشوم په هېڅ نه وي خبر. بیا شاو خوا څلور لسیزې وروسته د مور و پلار د هغه مهال خاطرې او یادونه زړه او ذهن ته رواستل څه اسانه کار نه دی. خو بیا هم څه لږ و زیات خواږه ترخه مې د خپلې خوږې مور لکه د تېر شوي خوب لیدل اوس هم تر سترګو، سترګو کېږي... په لوڅو پښو له ګودره منګي، له غره لرګي او له پټیو بروټـې راوړل... د مالګې او مرچ سره سپور وچ سوکړک خوړل... جامې په ایرو کې مینځل... په شاتوري کټ یا وچه ځمکه شپه تېرول او خوب کول. دا د غربت د زمانې د انسانانو کیسې، کړه، وړه او خوراک څښاک وو، چې زما د پرېښتې مور په شان د لکونو میندو ژوند ورسره تېر شوی. د غربت له زمانې وړاندې د جاهلیت زمانه لا بدتره او لا د غندنې وړ ده. په هغه زمانه کې په عمومي توګه د ټولې نړۍ خلک، خو ((عرب)) په ځانګړې ډول د ناپوهۍ او جهالت په ډېره لویه تیاره کې اوسېدل. دا یوه داسې زمانه وه چې د پېغمبرانو او وحې سلسله غوڅه شوې وه او ښځو په ډېرو سختو شرایطو کې له کړاوونو ډک ژوند تېراوه. په تېره، تېره د عربو ښځو، هلته د اسلام څخه وړاندې ښځې د چا نه خوښېدې. د لونو زېږون ورته ډېر لوی شرم ښکارېده. هغوی به یې د نفقې، خوراک څښاک او یا د جاهلي غیرت له وجې ژوندۍ ښخولې د جینۍ پیدا ینښت به یې دومره بد ګاڼه چې ګویا په کور کې یې یو لوی قیامت برپا او قایم شوی، د قهر، غذب او کرکې څپې به وې چې یوه په بله پسې به تکرارېدې. د پیدا شویو نجونو د پلرونو رنګونه به څو، څو ورځې تک تور او په بده ورځ وو. د کرکې او کینې ډک به له نورو پټ ګرځېدل. له ډېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوسې غم او اندېښنې به دومره سرګردانه وو، چې د ژوند کولو به يې زړونه تور وو. وروستۍ پرېکړه به يې بيا دا وه چې پيدا شوې ماشومه ژوندۍ پر خاورو ومنډي. دا کار يو عام دستور و، وياړ به يې ګڼه. د قيس بن عاصم التيممي په نوم يو عرب خپلې اته لورګانې ژوندۍ ښخې کړې وې. وايي کله يې چې خپله وروستۍ لور ښخه کړه وروسته يې ورپسې په خپله هم ډېر وژړل. هغه نو بيا د څلور پينځه کالو به وه خبرې يې کولې شوې. د ښخېدو کيسه يې داسې ده چې لاس مخ يې ښه ورله پاک ومينځل. پاکې جامې يې ور واغوستې. سترګې يې ورله تورې کړې بيا يې په دې بهانه د ښخېدو ځای ته روانه کړه چې ګوندې د ماما ګانو کره يې بوځي. پلار يې په غيږ کې واخيسته روان شو. کله چې ټاکلي ځای ته ورسېد، ودرېد! په ځمکه يې کېنوله د خاورو په کيندلو يې پيل وکړ دغه وخت ماشومه پوه شوه. ژړا يې پيل کړه، ويل يې د ماما ګانو کره نه ځم... زه بېرته خپلې مور له ځم... نې،نې ما مې مور له بوځه... مور له مې بوځه، زه مې مور له ځم!! خو د هغې معصومې ژړا، زاري او منت بې ګټې وو. هغې خپله مور بېرته هېڅکله ونه ليده!! د هغې ماشومې جينۍ خو به څو شپې ژړا فرياد او پر ژونديني ښخېدل وو تېر شوي به وي اما د هغې مور زړه به هغه ګړۍ څومره څړيکې کړي وي او څومره به سيويدلی وي. چې وروستۍ لور يې په زور له سينې بېلېده او په دې هم پوهېده چې بېرته يې هېڅکله بيا نه شي ليدی. او په دې هم پوهېده چې په ژوندوني يې تر خاورو لاندې کوي...!! کله چې مې دا کيسه د لومړي ځل لپاره اورېده ما هم ورته ښه ډېر وژړل. تر ډېره مې روحيات ګډوډ وو. سترګو ته به مې بيا بيا اوښکې راتللې او چې اوس هم کله هغه کيسه را په زړه شي بې اختياره مې په سترګو کې اوښکې ډنډ شي. نه پوهېږم چې عرب به ولې دومره سخت زړي او بې رحمه وو!!! زما دوه لوڼه (تلوسه او هيله) دي چې تر زامنو راته ډېرې ګرانې دي. د دواړو په پيدايښت کې مې هېڅ ډول خفګان نه دی احساس کړی. په افغاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولنه کې تر لوښو زامنو ته خلک ډېر خوشالېږي. خو زما خوښي يو تر بل تېره وه. خو زموږ په کلي کور او په عام ډول ټول کونړ او حتا ټول افغانستان کې د نجونو په پيدايښت خفګانونه همدا اوس د عربو له زمانې څخه کم نه دي. دلته هم څو ورځې د پيدا شوې جينۍ په کور کې د خواشينۍ يوه غمګينه فضا جوړه وي. مور ته يې د سپېرې او بدبختې خطابونه کېږي. روغتيا ته يې سمه توجو نه کوي. له زېږون وروسته په دويمه ورځ بيا خوارکۍ په ناروغ صورت د کور مزدورۍ او اخلي پخلي ته متې رانغښتې وي. د عربو خو منطق دا و چې نوم پرې د ښځې دی. لور يادېږي. زوم به يې پيداشي. جامه او نفقه به يې څنګه کېږي؟ خو دلته د نفقې مسله چاته نه ودرېږي. د زوم ولې شرم څه خاصه خبره نه ده. د ميرات او ميراث مسله يې ډېره مهمه ده د سبا ورځې د ګټې او تاوان خبره زړه ته نيسي وايي لور د پردي کور پانګه ده. او زوی مې د ميراث وارث جوړېږي. تربورانو ته مې مټ قوي کېږي ملاتړ مې زياتېږي د کور د نفقې د پيداکولو مسووليت يې تر غاړې کېږي خو لور پردي کور ته ځي. د بل کور پرې ودانېږي. په افغاني ټولنه کې د ښځو پر وړاندې لا ډېرې ستونزې پرتې دي. د دې ستونزو او کړاوونو علتونه خورا زيات دي. زموږ ټولنه د نورو په پرتله په ټوله مانا يوه وروسته پاتې ټولنه ده. دلته يوه پښغله تر واده وړاندې حتا د ژوند د ملګري د ليدنې او خوښونې حق هم نه لري. په دوغومره مهمه مسله کې بيا هم هر څه په پټو سترګو او نا ليدلي ډول د مور او پلار په خوښه سر ته رسېږي تر هغې پورې چې د واده ټول مراسم ختم شي بيا نو په دويمه يا درېيمه يو بل په تکه توره شپه کې د لاټېن رڼا ته خېرژه، خېرژه ويني. دغه وخت نو بيا داسې ډېر شوي چې يا يې مېړه دومره بدرنګه وي چې د ليدو نه وي او يا يې هم مېرمن تر تبۍ توره او هسې دغه وي په هر حال! تېر به تېر ته پرېږدو خو دا چې خبره رانه پړی نه شي زما د دې ليکنې موخه د افغان پښغلو د ژوند ستونزو راسپړل او يا دول دي او په دغه برخه کې افغان ښځې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېرمنې د ښېښمېره ستونزو سره لاس او ګرېوان دي چې دلته به يې يو څو پـه يو، دوه، درې سره يادې او تحليل کړو.

۱ـــ د افغان پښغلو د ژوند ستونزو تر ټولو غټ لاملونه پـه بـدو کـې د نجونـو ورکول، په ماشومتوب کې ودول، وړې نجونې واده کول، په ډېــرو پيســو وړې لونه خرڅول، د غټې او وړې تر منځ پيسې اخيستل، په ډېرو پيسو بوډاګانو ته ورکول او د خور لور په سر زياتې پيسې اخيستل دي چې دغه هــر څــه بيــا د هغوی په ژوندانه کې ډېرې بدې پايلې لري. ان کله کله خو يې د ژوند پـه بيـه تمامېږي او د مرګ کومې ته يې سپاري. ډېر په کې داسې هم شوي چې لــوی، لوی پټنې او دښمنۍ ترې جوړې شوي او بيا يې لسګونه کلونه دوام کړی بيا د دغو نويو دښمنيو د پای ته رسولو او روغو جوړو لپاره نورې وړې نجونې يو بـل ته په نويو بديو کې ورکړل شوي چې د هغوی ژوند هم تــر مرګــه پــورې پــه پښغورونو، ستوغو سپورو، وهلو ټکولو او نورو کړاوونو کې تېر ېږي. بوډاګانو تــه د وړو نجونو ورکول او ودول پر نورو ډېرو روحي او جنسي بدمرغيو سربېره يوه بله بد بختي هم لري او هغه هاغه وخت رادبره شي چې عمر خوړلی بوډا ســر وخوري او پښغله کونډه يې له څو بچيو سره در په در او خاورې په سر د ايرو په ډېرانه خوار و زار پاتې شي.

۲ـــ بل افغان پښغلو ته ميراث نه ورکول او کونډه خپــل ميــراث ګڼـل دي. دا دواړه مسلې په افغاني ټولنه کې د بابا دمه تر دې دمه د اسلامي احکامو خلاف راروانې دي چې نه ورته ملاصيب، نه ميا او نه کوم بل بزرګ د الهې احکــامو او نبوي احاديثو په رڼا کې پاملرنه کړې. ښاغلی مولانا هم خپلې لور ته پــه مــال دولت کې برخه نه ورکوي او ميا يې هم. ملا هم خپله کونډه اينګــور پــه کــور زړوي او اخونزاده صيب يې هم. هغوی چې زمونږ مذهبي او ديني لارښــوونکي، د ايمان او عقيدې ايډيالونه او د يقين جوړونکي دي. خو افسوس چې (بل تــه مسلې کړي او ځانله پرې حملې کړي) هغوی نه خپلې خور و لور ته پــه خپــل

(c) ketabton.com: The Digital Library

مال دولت کې په حق ورکولوقایل دی، او نه خپل مقتدي ولس تــه دا واضــیح کوي چې په اسلام کې هره خور لور د پلار په مال دولت کــې حقــداره ده. نــه خپله کونډه خپل اختیار ته پر بېردي او نه ولس په دې پوهــوي چــې کونــډه د اسلام په مقدس دین کې میراث نه ګڼل کېږي.

۳ د ښځو ناپوهي يوه لويه بدمرغي:

بله تر ټولو غټه بدبختي د افغان پښغلو او مېرمنو د ديني او عصري زده کړو نــه لرل او بې سوادي ده. په اسلامي احکامو نه پوهېدل دي مــذهبي، کلتــوري او قبيلوي محدوديتونه دي. د غيرت او ناموس په نوم بې شاهده او بــې اســناده وژنې او مهر نه ورکول دي.

۴ـــ اقتصادي او پوهنيز توپيرونه:دا هغه مسله ده چې افغان پښغلې او کــورنۍ يې وروسته له واده کولو ورسره ډېرې په مشکل کــې وي. ډېــر ځلــه لــه واده وروسته هغه وخت کورنۍ ژوند د بې خوندۍ او بد رنګۍ سره مخامخ شوی چې ځينو مسايلو ته په کې له وړاندې توجو نه وي شوي. لکه د جينــۍ او هلــک د کورنۍ تر منځ اقتصادي توپيرونه. او په زده کړو کې د کم و زيات سواد او بــې سواد مسله. که له واده وړاندې دغو ټکو ته ټينګه پاملرنه ونــه شــي نــو بيــا د جينۍ او هلک په روان ورځني ژوند کې دغه خبرې ډېرې ښکته پورته کېــږي. د بېلګې په توګه يو وايي: ته څه د خوار لور يې، پــلار دې ټــول عمــر د نــورو غلامي کړې هغه بله وايي: ستاسې د خوارو به زما پلار څه سود کړي وو چې زه يې درکړم يا دا: ته بې سواده يې په خبره نه پوهېږې. او يا دا چې: مــا فاکولتــه لوستې. يا: خاوند به مې يې خو زده کړې مې تر تا لوړې دي چې بالاخره خبــره بېلتون او طلاق ته ورسېږي.

۵ـــ په خپلوکې خپلوي: په پښتنو کې دا خبره ډېره کېږي چې زوی تــه مــې خپله خورزه يا وربره غواړم. يا يې ورسره واده کول غواړم، ځکــه چــې ډېــره ښايسته ده، راته ګرانه ده. يا نه غواړم چې هغه پردي کورته ووځي. يا مې زوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته پردۍ ځکه نه کوم چې پردۍ رانه زوی پردی کوي، يا پــردي راســره بيــا دا غريبانه ژوند نه تېروي. يا مو پرده پوښي نه کوي. يا: خپله لور خوري ته ورکوم وراره د ماما او کاکا زوی ته يې ورکوم ځکه چې خپل بايد نور هم خپــل شــي. که څه هم د يوې خوانه دا ښه نظريات دي خو تر ټولو ښه ورته نه شــو ويلــی، ځکه چې په خپلو کې د ټولو دغسې خپخيو پايله تر پايه خوړه نه وي. ډېرو ته خپله خوړه وربړه ګرانه خورزه او د لالا، کاکا قدرمنه لور له واده وروســته يــوه داسې توره بلا شي چې خوړ کور او خوندور ژوند ورته لــه مصــيبتونو ډک او د زهرو ګوټ کړي. دلته هم ټولو پلرونو ته ښه ســوچ کــول پــه کــار دي ځکــه پښتانه دا هم وايي: (د خپلو نه پردي ښه دي) د خپلو سره تونده تېزه نه شــې ويلی او پرديو ته هر رنګه خبره ورګرځولی شې. که د خپلې ســره خبــره لــړه زياته سخته شوه نو خوړه خيخي په لويه بدنېتۍ بدله شي. خو که پــه پــردۍ خور و لور د خاوند په کور کې څه سخته سوخته وي او خبره يې تر پلرينې هم ورسېږي خو د هغوی خپلې خورلنې ته د زړه د يوې تسلۍ لپاره ځــواب دا وي چې: (پردی کور کول او خوړل ګران کار وي لورې! ګوزاره ورسره کوه دا هر څه ورو ورو سمېږي، دغه کور اخر ستا دی او تا ته پاتې دی )

۶ ژورې کورنۍ سوتونزې: افغان پېغلې او مېرمنې ځينې نــورې ژورې کــورنۍ ستونزې هم لري چې د زياتې توجو وړ دي. خو دا هغه ستونزې او کړاوونــه دي چې پښتنو ته يو عادي کار او بې اهميته شی ښکاري خو له دې ناخبره چــې د کړاوونو او سختيو په دغو لمبو کې د پښتنو مېرمنو او پېغلو ســته وســوځېده. لکه په ښځو تر حده زيات درانه کارونه کول. د زياتو اولادونو زېږون. روغتيا ته يې نه پاملرنه. د جامې او خوراک څښکاک غم يې سم نه خوړل. د کور په چارو او بچو ساتنه کې ورسره نه مرسته او په ټــولنيزو کــارونو کــې يــې د ګــډون مخنيوی دی. هسې خو په ټوله کې پښتانه ډېر مېلمه پال او ډوډې مار دي خو ښځې خوارکۍ يې تل د مېلمه پاللو پر مهال وږې او بې برخې پاتې کېږي که په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور کې يې د مېلمنو لپاره غوايان او ګډان هم حلال شي خــو ټــول د مېلمنــو لپاره د ډېرو ته ورل کېږي. او ښځو خوارو ته ترې هېڅ نه پرېږدي يــا نــه پــاتې کېږي. همدا شان ښه خواړه او توده ډوډۍ تل د خاوند او بچو لپــاره ســاتي او ځانله وچه ، سړه او سپوره خوري. همداراز تــر ځــو چــې د خــوراک ښــاکه غورځېدلې او د کټ شوي نه وي د روغتيا غم يې نه کېږي. د کور يا سارا د کار او خدمت پر مهال به يې يو بچې په شا پورې بل په غېږه کې او دربېم به يې پر خېټه وي. خو بيا به هم بوخته وي او د کور مزدوري به کوي. په کال کلونــو بــه چرته ښه جامه وانه غوندي څنه اوربل به ونه کړي يو بچی به يــې لا يــو کلــن شوی نه وي چې بل يې ور تر غاړې کړی وي خو افسوس چې زما زده کــړی او نا زده کړی پښتون فکر کوي چې ښځه يا په کور ده يا په ګور!! خو پــه دې نــه پوهېږي يا يې لا تر اوسه دا نــه ده درک کــړې چــې پښــتنه افغانــه غيرتــې، حياناکه، مېړنۍ او توريالۍ ښځه د نړۍ د ټولو ښځو په څېر د احساس، وجدان او لوړ ذوق مېرمن ده. هغه سړی او ناسړی ډېر ښه پېژني. د ښکلي او ناښکلي، د ښه او ناښه، مناسب او نا مناسب لپاره معيارونه او قضاوتونه لري. خو:

د پښتنوالې درونه پته
زما په خوله دې لاس نيول ګونګه دې کړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دعاګانې، دعاګانې

خرڅوي يې رهبران په سوداګرو
خدای دې مل شي د وطن او د ملګرو

د هغه وروستۍ خبرې، وروستۍ وينا او وروستۍ وصيت همدا و، همدا يې وويل،هو...همدا...همداسې...بيا يې ايسته را ايسته وکتل آخوا، دېخوا يې مخ واړاوه، ټولو لرې نژدې شيانو ته يې ښه په ځير ځير وکتل هر څه يې له سترګو تېر کړل، بيا يې يوه اوږده ساه وايسته، په څه لرې سوچ کې ډوب شو. ښه ډېر وخت همداسې يوې ژورې لرې نقطې ته ځير و.
بيا يې سترګې په بله کړې، په کوټه کې ټول شته شيان يې يو ځل بيا له سترګو تېر کړل. بيا په څه ژو ر سوچ کې لاهو شو. او د زلميتوب کلونه يې پر زړه شول. د خپل ولس د ازادۍ لپاره يې د ځوانۍ د مهال مبارزې او هلې ځلې د وروستي ځل لپاره پر ذهن تېرې راتېرې شوې... د هغه له غمجنو سوچونو او مړاوو فکرونو داسې ښکارېده، لکه دا يې چې د ژوند وروستۍ شېبې وې.
هو، وروستۍ شېبې... وروستۍ...! دا د ۱۳۸۵ لمريز کال د کب د مياشتې اتلسمه د جمعې مبارکه ورځ وه چې خدای بخښلي سيف الرحمن سليم ته الله رب العزت ورکړه او له دې خاورينې نړۍ څخه يې د تل لپاره ر خصت کړ، هغه پوره ۷۷ کاله وړاندې د ۱۹۲۹زېږديز کال د اپرېل پر څلورمه د پېښور، د داودزيو د سيمې د ګلوزو په کلي کې د سيد جلال الدين په کاله کې دې نړۍ ته سترګې پرانستې وې او دا دی نن يې مور ټول د تل لپاره يواځې کړو. خو زما په زړه او ذهن کې به يې دغه ويناوې تل، پاتې وې چې ويل به يې:

خرڅوي يې رهبران په سوداګرو
خدای دې مل شي د وطن او د ملګرو
چې سبب د بدبختۍ درته بيان کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما خبرې ته خو پر ېږدئ بختورو!
څه خبر يې چې په کوم لوري دې بيايي
چې روان يې په ګډا او په سندرو.

او همداسې په سلګونو او زرګونو نورې وزن شوې ژورې خبرې او وېناوې چې د هغه د فکر او خيال پوره، پوره پېغام په کې لېږدېدلی دی. همدا راز د هغه ښاغلي په ډېرو شاعرانه وېناوو کې بيا، بيا د رهبر او رهبرانو د ناوړه کړو وړو خبره شوې او ډېر ځلې يې پر هغوی خپله بې باوري ښودلې ده چې دا به ضرور له هغه سره د شويو پېښو د تاريخ يو ټکی وي. خو يوه خبره بله هم د سليم صاحب د شعري وېناوو په اړه د پام وړ ګڼم او هغه دا چې که هغه د هر رهبر په هکله خبره کوي، خو زما له انده د نړۍ د ټولو رهبرانو د کړو وړو او سياستونو انداز يو وي او د سليم صاحب وېناوې هم د هغوی په هکله د کاڼي کرښې دي او په هر عصر کې معاصردي .

همدارنګه دی هغو نورو ته هم، کوم چې په پټو سترګو په قافله ورګډېږي، خو د خپل سفر له انتها او منزل نه ناخبره وي، وايي:

قافله دې هم منزل نه ځان خبر کړي
کله، کله رهنما نه لار خطا شي
که زما په وينه کېږي، نو ترې ځار شه
خو کلۍ د دې چمن دې په خندا شي

او يا دا:

رهبره! خدای دې نه کړي چې کاروان ته زړه کې غل يې
بس دې باندې مې پوه کړه چې تر کومه به يې مل يې

د سيف الرحمن سليم ټوله شاعري دغه شان ښکلې، خوږه او رښتينې ده، او د هغه د ژوند د تجربو ډېره ښه ترجماني يې ګڼلی شو، ځکه هغه چې هر څه د اقتدار د خاوندانو او يا د سرکار د کړو په اړه ويلي، هغه د هر ليدونکي او کتونکي د سترګو ليدلی حال دی.

لکه دا کاڼي کرښې:

منم رهبر په خپله مخکې لاړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو قافله خو يې په شا راوسته
څومره جونګړو ته دې اور ورته کړو
چې خپل محل ته دې رڼا راوسته

يا لکه دا:

اوس خو قافله هم د رهبر سره رهزنه شوه
دا معاشره جوړې د څېلمې بې ضميره ده
نه وايم ناصح ته چې لږ خپل ګرېوان کې وګوره
ما له ترې حيا راځي په مخ يې سپينه ږيره ده

نو سليم صيب د خپل ژوند په اوږدو کې د ډېرو له خوا ډېرې شوې نادودې ليدلې وې او دی به دې ته ډېر ځوربده چې ولې دغه ظالمان د سزا په تخته نه ځړول کېږي، نو بيا به يې وويل:

پښتانه د پښتونخوا درانه ښاغلي
د مغلو سېلاب يوړل لکه خلي
زمانه را پسې توره په لاس ګرځي
لکه ما يې چې وي پلار، نيکه وژلي
ما په دار کړئ چې منصور خلکو ته ياد شي
مودې وشوې څوک په دار نه دي ختلي

او دا يې بيا د هرې ناخوالې د کېدو پر مهال د زړه خبرې شوې چې تل به يې ويلې، لکه:

بدو ته يې ښه وايه، ترخو ته يې خواږه وايه
دلته که دا نه وايې، نو غلى شه څه مه وايه
چا سره چې تللى يم، په لاره يې لوټلى يم
زړه مې راته وايي، رهبرانو ته اوس غله وايه

او دا يې هغه مهال وويل کله چې پاکستانيو جابرانو د ناولو زندانونو د تورو تمبو شاته کړ او له خپلو سوچونو سره يواځې شو. اروانښاد د زندان عمر هم ټول په تيارو کې تېر کړی و، خو بيا يې هم د زړه درزا غلې نه شوه او له خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولس او وطن سره يې مينه لا هماغسې ناړامه او سرشاره پاتې شوه .هېڅ ډول مايوسۍ ته يې پر ېنښوده چې همدغه مهال يې بيا دا هم وويل:

د چمن مړاوي ګلونه به تازه کړم
لا زړګوټي کې مې وينه څو قطرې شته
دا کېدی شي چې اظهار يې زه ونه کړم
خو زړګي کې زما ډېرې ولولې شته

د نړۍ د يو ستر ليکوال او کره کتونکي (ميتوارنلډ) خبره ده چې وايي: ((بشريت به په پرله پسې ډول دا درک کړي چې موږ بايد د ژوند د تفسير لپاره، د اطمېنان او پايښت لپاره شاعرۍ ته رجوع وکړو.))او چې داسې ده،نو خدای د بخښلي سليم صاحب په شعر او شاعرۍ کې د ژوند د اطمېنان او پايښت لپاره هر هر څه شته، هغه له انساني ژوند سره د ډېرو تړلو مسايلو په هکله، لکه د نورو شاعرانو ډېر څه بيان کړي، خو يوه ځانګړنه چې د سليم صاحب شعر له نورو بېلوي، دا ده چې دې يې ډېر هنري، خواږه، عاميانه او انځوريز بيانوي. بله داچې سليم صاحب يو مهال ډېر ښه سياسي مدبر او د محکومو پښتنو تر ټولو ډېر عاطفي خواخوږی و چې خپل اورني احساسات يې دپښتنو او له هغوی سره د شويو ناروااوو پر وړاندې د سياسي لېډرانو د تبرايستونکيو خبرو او کړنو په غندنه کې د نورو سياسي ليکنو تر څنګ د شعر په هنري ژبه هم ډېر ښه بيان کړي.خو لکه د نورو ډېرو هغو پښتنو شاعرانو چې په يوه سياسي بهير پورې تړلي وو، ډېر شعرونه يې د هنريت پر ځای شعاري شوي وو يا يې شعاري کړي وو، خو اروابښاد سليم صاحب خپله سياسي نيوکه او سياسي خبره د شعر په ژبه دومره هنري کړې چې اوس هم ډېرو بې سياسته شاعرانو ته هم خوند ورکوي او نه دا چې ترې شعاري شوې نه ده لا يې خوږه او خوندوره کړې ده لکه:

ملګرو زه د ښار قاضي خو نه يم
ماله به ولې خدای (ج) عذاب راکوي

يا:

نه وايم ناصح ته چې لږ خپل ګريوان کې وګوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما له ترې حیا راځي په مخ یې سپینه ږیره ده

او یا:

دې نه لویه بدبختي د چمن څه ده
چې ګلونه په ګلچین کړي اعتماد

نو اوس د هغه د دغه پورتنیو ویناوو څخه په دې ډېر ښه پوه شو چــې د هغــه شعر په دومره قوت، هنریت، خوږوالي او سادګۍ سره یې هر څــوک نــه شــي بیانولی چې د هغه د دغسې خوږو، ساده، عامیانه خبرو څو بېلګې به د هغه په مینه وړو او عشقي شعرونو کې هم ولولو، لکه:

زلفې خورې کړه، ماله خوب راځي
تورې تیارې کړه، ماله خوب راځي
ستا د خوږو، خوږو نغمو لوپټې
په ما خورې کړه ماله خوب راځي
د رقیب ذکر باندې مه سېزه ما
ژبه ترې پرېکړه، ما له خوب راځي
چې مې ګیله د شونډو پاتې نه شي
دا هم ویدې کړه، ما له خوب راځي

یا:

ته یې، تنهایي ده، ستا د مینې ګرمه غیرږه ده
ولې راته وایې چې ویده شه، نور څه مه وایه

یا دا:

له مودو پس درله راغلی یم، راغاړه وځه
نن خو دې خپله رابللی یم، راغاړه وځه
د خوشالۍ نه غمازان سره تر غاړه وتل
زه چې یې مرګ ته اوس ترلی یم، راغاړه وځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په پای کې به د دغه وتلي، نومیالي شاعر، لیکــوال او سیاســتوال روح تــه د دعا د لاسونو په لپه کولو سره د هغه د یو ښکلي غزل په راوړلو دا لیکنه راټوله کړم، اروا دې ښاده وي.

د وړو، وړو خـــــــدایانو دې بنـــــــده کـــــــړم
لویــه خدایــه! زه بــه چــا، چــا تــه سـجده کــړم
ملګرتیـــا کـــه څـــو رنـــدان را ســـره وکـــړي
دا حــــرم بــــه یـــوه لویــــه میکـــده کـــړم
د وصــال د شــپې بــدل بــه دې خــلاص نــه کــړم
ټــولې شــپې کــه د خپــل عمــر شــوګیره کــړم
شـــیریني د پېغلتـــوب دې پېغلـــې غـــواړم
خولــه بــه ســتا پــه عنــابي شــونډو خــوږه کــړم
چې موسکی شي، لږ یې ښکل کړي، بیا یې ر اکړ ي
ســل تــوبې بــه هغــه جــام نــه صــدقه کــړم
قافلـــــه د پســـــرلي دې پـــــه دې راشـــــي
خپل ژونـدون بـه یـې پـه لاره کـې ډیـوه کـړم
لېونیـــــان راســـــره کـــــوره پـــــورې لاړل
هوښـــیارانو نیمــــه لاره کــــې دوکـــه کـــړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چې پرې نه پوهېږې ته، ګناه د چا ده؟

ښاغلی فضل کریم کاموي صاحب! زما د( مېړنۍ شاعري د ښځینه احساس په وړانګو کې) لیکنې په اړه مې ستا لیکنه ولوسته، د سېد محی الدین هاشمي د لیکوالۍ فن کتاب څخه چې دې د لیکوالۍ د معیارونو لپاره کومې وینا وې راوړي خوښې مې شوې او ما هم خپله هغه لیکنه د همدغو ارونو له مخې په غوښتې ( شعوري ) ډول کړې ده خو هغه د خوشال بابا خبره (( چې پرې نه پوهېږې ته ګناه د چا ده؟))

او دا لیکنه هم د هماغو ارونو غوښتنو او نورو نومونو په رڼا کې د دې موخې لپاره چې لومړی ته او بیا ستا په شان نور کم سواده او بې سواده ترې پند واخلي او څه ترې زده کړي . ښاغلی کاموي! له هر څه وړاندې که د سواد د کچې په لوړولو کې دې پر نورو د نیوکو تر څنګ د زده کړې لړه هڅه ورزیاته کړې نو په راتلونکې کې به بیا (س ک و) په ( ص ) نه لیکې او د منطق تومن به دې هم پوره وي او دا په دې مانا چې ته د مېړنۍ (د نارینه شاعر له خوا) ښځمنه ( د نارینه له خوا ) شاعرۍ او ښځمنې شاعرۍ تر منځ بېلوالی نه شې کولی او که بېلوالی دې کولی شوای نو د مېړنۍ (د نارینه له خوا شوې) شاعرۍ ته به دې د حماسو، کارنامو، غیرت او شجاعت شاعري نه ویلې!! بل ښاغلیه، ستا د بېسوادۍ او ناپوهۍ دویمه نادره بېلګه د تاریخي میوندي ټپې یادونه ده چې ته... بېړا یې د یوې مېړنۍ شاعرۍ ډېره ښه بېلګه ګڼې (!) حال دا چې د دغې ټپې ویونکې معلومه ده او هېڅکله په زبات نه شې رسولی، چې ویونکی یې نارینه شاعر دی. خو د دې لنډۍ:

ټینګه مې ونیسه په غېږ کې
د پېغلتوب سترړ یا مې وباسه میینه

د ټولو ښښو ښښانو، الفاظو او جوړښت څخه دا له ورایه څرګندېږي چې د یوې پېغلې له خوا ویل شوې او خپل ښځینه احساس یې په کې ډېر ښه بیان او ځلولی دی. خو دا چې ته (پوهاند کاموي !!) پرې نه پوهېږې او نه یې پېژنې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نو بیا ستا خپله سوادنۍ ستونزه ده. بل د ژوند په ټولو چارو کې د نړۍ د هـرې ښځې د احساس او عــاطفې کچــه د ســواد او نظــر خاوندــانو تــه ډېــره ښــه څرګندېږي او په تېره په تخلیقي لیکنو کې خو یې هر لفظ خبرې کوي خو پــه دې شرط، چې د لیکوالۍ پر ارونو د پوهېدنې ســره، ســره یــې د فکــر و انــد ژوروالی او پخوالی هم بلوغ ته رسېدلی وي. او زما هغه لیکنه هم د هغو پېغلــو یا مېرمنو لپاره کړې وه چې په لیکنو کې یې د ښځینه او نارینه احساس توپیر نه شي کېدای په تېره شعر او شاعرۍ کې، لکه ستا پوهاند کاموي (!) په لیکنه کې دا بیتونه راغلي دي:**

**اوښکې مې خورې شوې پر ښو باندې**
**سپینې، سپینې راغلې اننګو باندې**
**څوک چې وطن ته خدمت نه کوي**
**دا ځوانان دې کېني په کورو باندې**

**دا شعر که د کوم نارینه شاعر وي نو د ټولې بې خوندۍ سره، سره یې په دویم بیت کې د وزن ستن هم شاعر له خپل سواده ځار کــړې ده او کــه د ښــځینه احساس او عاطفې پر خبره یې خبرې کوو نو بیا خو به هېڅــوک، هېڅکلــه دا ثابته نه کړي چې دا یو ښځینه شعر دی او ښځینه احساس په کې بیان شــوی دی. ښځینه احساس دې ته وایي چې د هرې لیکنې په تېره د شعر د هر لفــظ، جملې او کرښې نه د هغې د ترکیب، ترتیــب او جوړښــت لــه مخــې ښــځینه احساس په هماغه لومړي لوست کې په بشپړ ډول څرګند شي او اغېز خو یــې پر ښځو څه چې په نارینه وو هم ډېر ښه ښکاره وي د بېلګــې پــه ډول دا دوه لنډۍ چې یوه یې د ښځینه او بله یې د نارینه احساس ډېرې ښــکلې بېلګــې بللی شو:**

**خاطر دې ډېر راباندې ګران دی**
**که نه منګي لاندې خوله کله ورکومه**
**چې چېرته سره لوپټه وینم**
**یوه شېبه منډه د زړه پسې وهمه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله د پوهاند کاموي صيب زما د ليکنې په اړه د اسلامي ارزښتونو خبره ده. په دې کې هېڅ د شک ځای نشته چې ښځو د (بابا ادمه تــر دې دمــه) د نارينــه سالارۍ تر جغ لاندې پېړۍ، پېړۍ د کړاوونو ډک ژوند تېر کړی او تېروي يې او که زما د دې ليکنې نه په اغېز سره د نړۍ ټولې ايمانداري ښځې د دغه تلپاتې ستم او کړاوونو ډک ژوند څخه د اسلامي عدالت او ارزښتونو په رڼا کــې امــان بياموميي او خپلو شرعي حقونو ته ورسېږي نو بيا خو به زما هغه ليکنــه د ټولــو هغو ښځو لپاره چې نسل پر نسل يې د نارينه سالارۍ د مــلا مــاتوونکي غيــر اسلامي پيټي لاندې ژوند کړی، له وياړه ډکه يوه ليکنه وي او زه بــه پــرې تــل افتخار کوم.

بل د اسلام سپېڅلي دين ته، د الله رب العزت حکمونو ته او د خوږ نبي کــريم (ص) اسلامي لارښوونو ته په عمل او نظر دواړو کې د پوره، پوره درناوي په لرلو سره ما هېڅکله دا نه دي ويلي او نه به يې ووايــم چــې ښــځې دې د اســلامي احکامو له درناوي او رعايت پرته پړي وشلوي او نورې دې له څلــورو دېوالونــو راووځي.

نه، هېڅکله هم نه. زه وايم داسې دې ووايي:

په شرعي نکاح مې واخله

په بې دينی مې خوا له مه راځه مېينه

او يا:

په زړه مې ډېره راوربېږې

خو د الله د وېرې نه درځم مېينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مجنون په رنګه کلک عزم پکار دی

د ښاغلي استاد شاعر او ليکوال محمد يوسف غېرت د هغې ليکنې په وړانـدې دا ليکنه د يو اغېز په ډول کوم، چې د ننګرهار مجلې په تېره ګڼه کې (له ځانه سره مکه) تر سليک لاندې چاپ شوې وه.
که مخامخ موضوع ته راشم، نو وبه وايم چې د دغسې پوښـتنې او غوښـتنې د هر حساس انسان د زړه تل يادي پېښې وي او هر وخت يې په وړاندې له ځانه سره همدغسې ځوابونه او سوالونه لري، چې ولې دې داسې وکـړه او ولـې دې ونه کړه.
زما داستاد غيرت د ليکنې دغه طرز ډېر خوښ شـو او يـو ډول نوښـت راتـه ښکاره شو، خو دا به هم ووايم، که په دغه ليکنه کې د هرې پوښتنې د ځـواب لپاره لا ښه او ځواکمن ځواب موند ل شوی وي، نو [غوړي،لا غوړي] خو بيا هم له دې وروسته ښاغلی غيرت صيب  کولی شي، چې د خپل ژوند سره د ډېـرو نورو دغسې ټولو مسايلو په اړه د ليکنې يوه ځانګړتيا ځانته خپله کـړي، چــې په دې ترتيب سره به دی په حقيقت کې د خپل ژوند تېر شوی تاريخ ثبـت او بيان کړي او هم به کشرانو ته يوه نوې لاره پرانيزي، خـو پـه دې شـرط، چــې ټکرونه، عوامل او مسايل هغه د چا خبره د ارسطو په منطق رد او د ســقراط د بيان د استدلال په زور يې تايد کړي او ژبنۍ خـوا يــې هــم دومـره خــوږه او انځوريزه کړي، چې ډېری لوستونکي په کې هم ځانونه ووينې او هم ترې خوند واخلي، خو زما خبره هم د دې مانا نه لري، چې دغه ليکنه يې الله (ج) مه کــړه کمزورې او بې خونده ده. دا هم د ده د فکر او احســاس يــوه ښــه انځــورګري کېدی شي او دا ځکه چې د نړۍ يو ستر ليکوال (شوپنهاور) وينا ده، چې وايي: (د هر ليکونکي انشاء د هغه د فکر آينه ده، که غــواړئ، چــې د يــو ليکــونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقیقي ارزښت ځانته معلوم کړئ نو دې ته مه ګورئ، چې ده په څه موضوع کې فکر کړی دی یا د ده د فکرمحصول څه شی دی.) دی زیاتوي: (( د یو مؤلف او لیکونکي د مقام د پېژندلو لپاره همدغه کافي ده، چې موږ پوه شو ده څه راز فکر کړی دی او د فکر کولو طرز یې څنګه دی؟)) د ښاغلي غیرت صیب د لیکنې څخه همدا ټولو ته څرګندېږي، چې دی څه شي او څه دې ته اړ کړی، چې هېواد ته راستون شي او د نسبتاً د سوکاله ژوند پر ځای د کړاوونو ډک ژوند ته غاړه کېږدي. په هر حال هر هغه څه چې په تقدیر کې وي، په بله نه اوړي. انسان ته چې الله رب العزت وړاندې څه پېښوي او څه یې په تقدیر کې وي، هغې ته د ورتګ لپاره اراده او تلوسه ورکوي، تر څو ژر تر ژره ورسېږي. باور لرم، چې استاد په دې خبره پوره، پوره ایمان لري او زه هم د ده د ژوند په تقدیرونو کې نورې خبرې نه کوم، یواځې د دوو ټکو خبره ورته کوم، چې د ژوند په تودو سړو کې دومره سوچ فکر کول نه دي په کار، څه چې په تقدیر کې وي هغه که څوک وغواړي یا نه ورته رسېږي، دویم دا چې حقیقتونه باید قبول او ومنو او په هر څه د پوهېدلو هڅه ونه کړو او نه د عقل په خوښې پسې دېر وګرځو، ځکه هغه د (اناتول فرانس) خبره (( عقل هغه قوتونه په سړي کې وژني چې ژوند پرې ولاړ دی، هر څومره چې عقل زیاتېږي هغومره اراده ضعیفه کېږي.)) هغه دا هم وایي: ((زه ډېرې پوهې له ژوند څخه عاجز کړی یم، ډېر فکر د سړي قوت او مقاومت کموي.)) او چې داسې ده، نو بیا خو!!!

د خدای (ج) په لوی کرم به کېږي
په عقل ګرانه ده زما د اشنا مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بزګر کرکټر او فلسفي غرېدا

ځيني خبرې او خاطرې تر مرګه پورې له سرې نه هېرېږي. ۱۳۶۱ لمريز کـال و د ستر خوشحال بابا په لېسه کې د اتم ټولګي زده کوونکی وم چې يـوه ورځ راته د پښتو ښوونکي په ټولګي کې کورنۍ دنده د لنډې کيسې ليکل راکـړل. په لومړيو کې نه پوهېدم چې څه وليکم او څنګه يې وليکم؟ له څه شېبې سوچ وروسته مې پرېکړه وکړه چې د هغو افسانوي يا فولکلوريکو کيسو څخـه يـوه وليکم چې اروابښادې ترور به مې راته په کوچنيوالي کې کولې هغه ترور مـې د پلار خور وه. د پلار و مور تر مړينې وروسته مې د هماغې تـرور د شـفقت تـر سوري لاندې رالوی شوم. هسې خو هغې ماته ډېرې کيسې کړې وې خـو دا د يوه بوټي انسان د ژوند کيسه وه چې د يوه چينار لاندې پروت و. د چينـار پـه هغه لويه ونه چې دغه بې لاسو، پښو انسان يې تـر ډډ لانـدې شـپې ورځـې تېرولې يو ښامار اوسېده. او تر همدغې ونې لانـدې د (اوو) بادشـاهانو خزانـه ښخه وه... يوه ورځ داسې راځي چې يو مرغه له کوم لوري راځي او پـه چينـار کې کېني. بيا يې پر هغه ناروغ سترګې لګي ورته ګويا کېږي. خبـرې ورسـره کوي. بيا ورته لارښوونه کوي چې يو څوک پيدا کړي، ددې ونې پاڼې راوشکوي ويې ټکوي بيا هغه ټکېدلې پاڼې او له هغوی راوتلې اوبه دغه ناروغ تېرې کـړي نو دی به روغ شي. بيا دې د دغه لوی چينار ونې ته اور ورته کړي کلـه چـې د چينار ونه وسوزي هغه به په کې هم وسوزي مړ به شي خزانه به تـرې خلاصـه شي بيا دې د دغې ونې پېخ وسپړي او خزانه دې تر لاسـه کـړي... همداسـې وشول. خو د يوې ښکلې پېغلې په لاس چې هغه هم د يو بادشاه لور وه خو بيـا د هغه ناروغ د ژوند ملګرې شوه. د هغې کيسه داسې وه چې د باچـا دوه لونـه وې کله چې پېغلې شوې يوه ورځ يې پلار له دواړو پوښتنه وکړه چې تاسې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بخت خورئ که په تخت؟ يوې وويل زه يې په تخت خورم بلې وويل زه يـې په بخت خورم. هغې چې تخت غوښـته د يو باچا زوى ته يې ورکـړه او هغـې چې بخت يې ياد کړی و پلار يې همدغه بوټی ته حواله کړه ځکه چې د پلار له خوښې خلاف خبره يې کړې وه. دا کيسه نوره دلته پر بږدم. او خپلـې لـومړۍ کيسې ته ګرځم کله چې مې د کورنۍ دندې په نـوم ليکلـې کيسـه د پښـتو ښوونکي ته ورکړه له ځان سره يې يوړه، څو ورځې وروسته يې بيا بېرته راکړه او غوښتنه يې وکړه چې په ټولګي کې يې ټولو ته واوروم زما له لوستو وروسته يې وويل ښه کيسه يې ليکلې وه. هلکو چکچکې ورته وکړئ... له همغې ورځې راهيسې مې له کيسې لوستنې او کيسې ليکنې سره مينه پيدا شـوه. داسـې وخت هم راورسېد چې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبيـاتو د پـوهنځي د پښـتو څانګې د څلورم ټولګي محصل وم چې د افغانستان د ليکوالو د ټولنې له خوا د ځوانو ليکوالو او شاعرانو د هڅونې او تشويق لپاره کـانکور اعـلان شـو. هغـه کانکور ته ډېرو ځوانو ليکوالو او شاعرانو خپل شعرونه، طنزونه او لنډې کيسې وړاندې کړې وې چې د هغوی له ډلې نـه د پښـتو څـانګې محصـلين محمـد اسماعيل يون او لال پاچا ازمون هم وو په شعر کې يون صيب لومړۍ درجـه او په طنز کې لال پاچا ازمون او په لنډه کيسه ما ( ملوک رغون) لـومړۍ درجـه جايزه واخيسته. دغه جايزې شل، شل زره افغـانۍ وې چـې د يـو تلـويزوني پروګرام له لارې علان او راکړل شوې. اوس چې څه باندې شل کالـه کېـږي او هغه د الفت صيب په خبره د څه ليکلو په رنځ اخته يم د ځوانو ليکوالو د پنـد او عبرت لپاره مې خپله کيسه وکړه خو په ټولـه کـې مـې دا ليکنـه د لنـډې کيسې د ځوان ليکوال او ليکوالې د زده کړې په موخه پيل کړې چې زما د شاو خوا پينځه ويشتو کلونو د زده کړو او تجربو محصول يې ګڼلی شئ. زما اسـتاد به ويل، لنډه کيسه د ټولنيز ژوند هينداره ده د ملتونو د تېر حال او راتلـونکې تاريخ دی. د ټولنيز شعور او پوهې، ځيرکتيا او هوښيارۍ لپاره ښه درس دی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عملي ژوند د تجربو د غني کولو استاده ده. د احساس او عاطفې د لېږد او زده کړې ښه ښوونکې ده. د لنډې کیسې لیکوال د خپل چاپېریال انځـورګر دی او د انځورګرکار انځورګري ده، نه عکاسي. دی د خپلې ټولنې د پېښو علتونه پـه هنري ډول څرګندوي. هغه واعظ او نصـیحت نـه کـوي دسـتور نـه ورکـوي. فرمانونه نه صادروي، قضاوتونه او پرېکړې نه کوي. منطق او فلسفه نه بیـانوي. خو په لنډه کیسه کې یې د احساس او عاطفې له اظهاره یې لوستونکي خپلـې تجربې غني کوي، د پېښو له ژورو سره اشنا کېږي، منطقي تسلسل تـرې زده کوي. عواطف یې راویښوي او نړۍ لید یې پراخوي. زما د استاد په وینا په لنډه کیسه کې د پېښو سره د پېښو مطابق چلند کول. مانا لرونکـي الفـاظ ټاکـل، لنډې لنډې جملې جوړول، بې اړتیـا خبـره نـه اوږدول. راښـکونکی تلوسـه، معقول تصادف، ډراماتیک یون، اوج او بیا داسې پای ورکول چې لوسـتونکی و نه انګیري چې تېر ایستل شوی. زموږ استاد چې پـه کیسـه لیکنـه او کیسـه پېژندنه کې لوړه پوهه، ښه تجربه او کره وړتیا لرله ویل به یې، لنډه کیسه یـو حکایت دی چې خیال او حقیقت سره نغاړي. تلوسه او خوند سره یو ځای کوي او د یوې ژورې مانا او پیغام په لور یون کوي. دا مهمه نه ده چـې برسـېرنه وي که ژوره د انسان په اړه وي که د حیوان خو داسې افکار په کې نغښـتل شـوي وي چې لوستونکی تر لوستو وروسته په یو ژور سوچ کې لاهو کړي. یا یې ډېر خفه او یا خوشاله کړي. د یو بریالي هنر پیاوړتیا او کامیابي په همدغه ټکي کې پرته ده. خو لا تر ټولو مهمه موخه یې دا ده چې لوستونکی د تراژیدي کیسو د کرکټرونو په څېر د ټولنې د نورو دغسې بېشمېره بې وسو وګـړو مرسـتې تـه راوبولي. د ترحم، زړه سوي، عدالت، انصاف او قضاوت جذبه یې پیـاوړي کـړي پند او عبرت ترې واخلي. استاد به دا هم ویل چې د یوې لنډې کیسې لپـاره د یوه ښه ښکلي نوم ټاکل هم ډېر ارزښت لري. دا نوم باید د یوې یـا دوو کلمـو زیات اوږد نه وي. ښه نوم هغه دی چې لنډ، ښکلی او د ښې مانا لرونکـی وي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیسې د پېښې سره ډېر نږدې خو هنري تړون ولري. داسې چې لوستونکي ته د کیسې تر پایه نتېجه په لاس ورنه کړي.د استاد په خبره د کیسې د روحیې سره سم د کرکترونو غوراوی پکار دی او هماغسې څېررو تـه د ورتـه نومونـو پیدا کول هم اړین دي. بیا په کیسه کې د هغوی غـړول هـم بایـد د هغـوی د پوهې، تجربې، ټولنیز ژوند د ښاري او کلیوالي چاپیریال او فکري نړۍ لید لـه مخې په پام کې ونیول شي. مانا دا په کیسه کې یـو بزګـر کرکتـر فلسـفي او عالمانه ونه غږول شي. همداشان یو کار پـوه، عـالم یـا ښـوونکی د یـو عـام نالوستي او کلیوالي وګړي په څېر سرې او شډلې خبرې ونه کړي اسـتاد بـه دا هم ویل چې په لنډه کیسه کې د کرکټرونو د خبرو منطقي جوړښت استدلال، د الفاظو او کلماتو یو له بل سره تسلسل او خپلوي، د پوهې کچه، په منلي ډول د کیسې د اتلانو لنډه لنډه پېژندنه لکه: لوړ، ټیټ، تور، سپین، ښایسـته، بـې ډوله، خویونه عادتونه، ټولنیزه راشه درشه، پـه خلکـو کـې ګرانښـت او نـور امتیازي ټکي یې هغه څه دي چې د کیسې ښکال، خوند او تلوسه زیاتوي. هغه به موږ ته ویل که چېرې تاسې د لیسه لیکنې استعداد او پـوه پیـدا کـړه او د ذوق پټو غریزو مو دې ته لېوال کړئ چې لنډې کیسې ولیکئ نو په کیسه کـې د کرکټرونو د غږېدا وختونه او ځایونه لکـه سـهار، غرمـه، مـازیګر، ماښـام، ماخوستن، پسرلی، منی، ژمی، ګرمي، یخني او نور له یاده مه باسئ د کیسې د پېښې د چاپیریال او مکان په اړه هم باید ډېر په هنري ډول وضاحت ورکړئ او دا پوښتنه روښانه کړئ چې دا کیسه په کلي، ښار، ولسوالۍ ولایت مرکز او یـا په کوم بهرني هېواد کې پېښه شوې که څنګه؟ د استاد په خبره په کېسه کـې د پېښو په وړاندې د کرکټرونو رواني یا سیکالوجیک حالتونه بایـد پـه ډېـره ځیرکتیا او پاملرنې سره وکتل شي. مثلاً د یو چا پلار مور، خور، ورور مـري یـا مړي وي او ستاسې د کیسې اتل ترې په همدغه شېبه کـې خبر بـړي د هغـه خبر بدل د خبرو حالت یې د خفګـان انـدازه یـې د روحـي او روانـي حالـت

(c) ketabton.com: The Digital Library

 څرګندتیا او نورې هغه خواوې یې چې یو غم ځپلی یا غم لیدلی انسان یې لري باید په ډېرې ژورتیا او ځیرکتیا سره لیک او بیان شي یا همدغه شان پر یو بل چا چې ستاسې د کیسې اتل دی د خوښۍ یوه شېبه راځي یـا د یـوې ډېـرې خوشالۍ سره مخ کېږي د هغه په څېره کې دغه خوښي او خوشالي داسې بیان شي لکه څنګه چې یې حق دی او څنګه چې ده. هغه به دا هم ویـل د خپلــې کیسې په پای کې تل هڅه کوئ چې پایله تر وسه وسه لوستونکي تــه داســې وړاندې کړئ چې هغه یو ټکان وخوري زړه یې درز وغورځېږي او د ځان ســره ووایي اخ دا څه وشول؟ خو دا هم په یاد ولرئ چې د کیســې پایلــه دې هــم د پېښو سره سمه منطقي او د منلو وړ وي او کله چې ستاســې کیســې اوج تــه رسېږي دا هڅه هم وکړئ چې کیسه ژر پای ته ورسوئ او نوره لکــۍ ورپســې ورونه تړئ ځکه چې له یوې خــوا کیســه بــې خونــده کېــږي او د بلــه پلــوه لوستونکی تیار خور مه اموخته کوئ پر ېږدئ چې هغه هم د کیســې پــر پــای سوچ وکړي او د کیسې پیغام او پایله پخپله ځان ته معلومه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زاړه میرزایان او زلمي لیکوال

لکه څنګه چې په هر علم او فن کې د وخت په تېرېدو سره د ماهرانو او کارپوهانو له خوا نوي بدلونونه تغیرات او تحولات راځي همدا شان د نړۍ په هره ژوندۍ او پرمختلونکې ژبه کې د هغې دکارپوهانو له خوا نوي لغاتونه او ګرامري جوړښتونه برابرېږي اود معیاریتوب او کره والي لپاره یې وخت پر وخت کار کېږي، چې د نېکه مرغه له هغو څخه یوه جنتي ژبه پښتوده.

د پښتو ژبې د کره والي او معیاریتوب لپاره د دې څو وروستیو لسیزو را هیسې ښې ښکلې هڅې روانې دي. زه په دې لیکنه کې یوازې د اوسنۍ او پخوانۍ املا انشاء په برخه کې یو څو بېلګې وړاندې کووم چې لیکوال او لوستي یې ټول باید په خپلو لیکنو او لیکونو کې په اوسني ټولمنلي او معیاري ډول وکاروي.

خو له هر چا زیات یې زده کولو ته زده کوونکي او پخواني زاړه میرزایان ډېره اړتیا لري. که څه هم چې د عمر خوړلو میرزایانو آلوچې شنې هم ښې خرخېږي او د ډېرو ریاستونو مخې ته پرې ښه ګنه ګوڼه جوړه وي او پر همدغه ګوډه ماته املا انشاء باندې د هر اړتن څخه په څلور کرښو غوښتنلیک لیکلو ۷۰ ـــــ ۸۰ روپۍ اخلي.

او بیا افسوس د هغه چا په حال چې په دولتي ریاستونو کې د ماموریت اخیستنې په موخه څلور کرښې غوښتنلیک ( د افغانستان... وزارت... ولایت... ریاست محترم مقام ته! محترما، زه احمد د محمود زوی د ... پوهنتون... پوهنځی یا... لېسې څخه په... کال کې فارغ شوی یم او اوس غواړم چې په دې وزارت... ولایت او یا... ریاست کې د مامور، ښوونکي، مدیر... په توګه دنده تر سره کړم، هیله ده چې په کار راکولو او ګمارلو کې راسره مرسته وکړئ په درنښت) په بل چا لیکي او غوښتنه د سرماموریت او ریاست کوي!؟

په هر حال بېرته خپلو وړاندنیو خبرو ته راګرځم او هغه دا چې دغه ښاغلي(!) میرزایان لکه د کلیوالي ډاکټرانو او درمل پلورونکو په څېر د هرې ناروغۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرونکې ته هماغه د سپین تباشیره جوړې شوې ګـولۍ ورکـوي!! او پوهانــدان میرزایان هم هر چاته په غوښتنلیک کې هماغه یوه یا((ي))کاروي چې ډېـرې لوستونکي یې لیکنه پر دویم ځل لوستلو سره ایله د مانا له مخې سمه لولي، د لارۍ او لارې.څوکۍ او څوکې. سړی سړي سړې او نورو دغســې پــه ســلګونو نومونو، جملو او کلیمو په لوستلو کې لوستونکي ته بــې شــمېره زورونکــې او شرمووونکې ستونزې پېښوي. په هر حال! خو بیا هم خپله هماغه لومړۍ خبــره تکراروم چې د نېکه مرغه اوسنی پښتو لیکدود تر ډېره ځایه معیــاري شــوی. تنکیو زده کوونکو او زلمیو ته بویه چې د پوهې په هر ډګر کې د لیک لوســت، املا او انشا نه نیولې بیا تر انټرنېټ او کمپیوټره پورې خپلې زده کــړې پــوره او کره کړي او دا دې هم یاد ساتي:

چې په خپله مورنۍ ژبه نادان وي
که د بل په ژبه پوه وي پوهه نه دی

مانا دا چې لو مړی دې د خپلې ژبې په جوړښتونو، لیکنیو دودونــو او ګرامــري قوانینو ځان پوه کړي بیا دې د خپلې ژبې د ښې زده کړې په رڼا کې د هغې پــر قوت نورې ژبې زده کړي او دا په دې مانا چې کله څوک ښاغلی په خپلــه ژبــه کې ګرامري جوړښتونه او... ښه زده کړي په پردۍ ژبه کې ورته ( قید، مصــدر، صفت، زمانه، فعل، فاعل،مفعول، ضمیر...) پېژندل او پر هغــوی پوهېــدل ډېــر اسان وي. چې د هغو معیاري نومونو، لغاتونو، جملو، او کلمو پخوانیو او اوســنیو څخه یې زه دلته یواځې یو څو رابېلوم، لکه: پخوانۍ چه، اوسنۍ چې. پخــوانۍ کښې، اوسنۍ کې. پخوانۍ پاته، اوسنۍ پاتې، پخــوانۍ بلکــه، اوســنۍ بلکــې. پخوانۍ یعني، اوسنۍ یانې. پخوانۍ قیصه، اوسنۍ کیسه. پخوانۍ قلعه، اوسنۍ کلا. پخوانی کنړ، اوسنی کونړ. پخوانی اســعداباد، اوســنی اســداباد. پخــوانی لمړی، اوسنی، لومړی. یا لکه: د یو (و)د کارولو ځای او د دوو (وو) وونو د کارولو ځایونه لکه: هغوی راغلي وو. هغه راغلی و. لنډه داچې یو (و) په مفــرد حالــت کې لیکل کېږي او دوه وونه (وو) د جمعې په حالت کې لیکل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پښتو اوسنۍ معیاري لیکنه کې د پینځوو یاګانو په خپل ځای کارول د هر لیکوال لپاره ډېر اړین ځکه دي چې د لوستلو پر وخت یې د ګڼو ستونزو څخه ژغوري لکه وړاندې مو چې څو بېلګې وړاندې کړې. دغسې نورې په لسګونو بېلګې په پښتو لیکوالۍ کې شته ،چې لیک پوه او نالیک پوه ټول لوستونکي ورسره هر وخت په ستونزه کې وي نو د دې کار د اسانۍ لپاره د پښتو پینځه یاګانې د لیکلو بېلګو سره په لاندې ډول وړاندې کووم، لکه: سړی، سړي، سړې او دغسې نورې په لسګونو نمونې.

۱- نرمه (سړیواله) (ی) دا (ی) د ټولو مفردو نومونو، ځایونو او حالتونو په پای کې لیکل کېږي، لکه: سړی، لرګی، منګی، کلی، زړی، کړی، پړی، تللی، راغلی، وړی، غلی، پردی، کودی، لمسی، بچی، دوی، پوی، زوی، هغوی، توی، خدای (ج)، ځای، چای، پای، کېدای اونور

۲- خرګنده ( پرته) (ي)

دا (ي) په اکثرو جمعو نومونو، حالتونو، او ځایونو کې د جملو او کلیمو په پیل ، منځ او پای کې کارول یا لیکل کېږي، لکه: یو ،یوه ، یون ، یاد،یار، غوړي، سړي، پړي، وړي، لرګي، زړي، مړي، وړي، کړي، کلي، راغلي، تللي، پردي، کودي، زلمي، لمسي، بچي، دوستي، هستي، مستي، سستي، نېستي، بیاتي، ذاتي، وهي، شړي، او یو څو نور مثالونه لکه: غورځوي، ماتوي، کړوي، ژړوي، غوړوي، سړوي، زوروي او نور

د کلمې په منځ کې لکه:

تیر، شیر، قیر، کپګیر، لیکل، ښځینه، نارینه، مدینه، ویر، وزیر، مدیر، توپیر، سفیر، ټولنیز، لیک، قافیه، نازیه، نادیه، جمیله او نور

۳- اوږده (ې)

دا (ې) اکثراً د ښځینه جمعي نومونو او حالتونو په پای او منځ کې لیکل کېږي.
لکه: ښځه، ښځې. لښته، لښتې. کاسه،کاسې. پاڼه، پاڼې. خاوره، خاورې. زاڼه، زاڼې. زرکه، زرکې. چرګه، چرګې. وریجه، وریجې. کتابچه، کتابچې. تخته، تختې او نور

یا لکه د کلیمې په منځ کې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هېواد، شېر، تېر، پېر، هېر، زېړ، ډېر. یا د ټولو الفبا ټکو یا تـورو د (ب، ت، ث) په وزن لوستل، لکه: بې، تې، ثې، جې، خې، دې، ذې، رې، زې، سې، شې، صې، ضې، طې، ظې، عې،غې، فې، قې، کې، لې، مې، نې، وې، هې، یې، (ټې، ډې، ڼې، ړې، ږې، ژې، ځې، چې، څې، پې، ښې، ګې) د هر ټکي یـا تـوري د اوږدې (ې) سره یو ځای په لاندې بېلګو کې لکه:**

**ببرته، څه تېرشه، (ث،س،ص) سېد جمال ورســېد، اوســېږي، خلاصــې، لارې خبرې، خلاصې، شوې.**

**(د) دېوال (ر) رېز مرېز، د (ذ، ظ، ز، ض) څلورو واړو تورو یا ټکو اواز د پښتو ژبو لپاره یو شان وي، خو په عربي ژبه کې دغه هر ټکی ځانته مخرج لري او دلتــه یې د پښتنو لپاره د اواز وزن په اوږده (ې) کې یو شان دی، لکه: ځــې، بعضــې، بې لوظې ښځې، یوازې، بزې (د وړیو سپږی)،بزې (بزها) حافظه، حــافظې. (ط) نقطې، خطاطې ښځې، غلطې خبرې.**

**(غ) دغې، هغې، ښځې وویل. (ف، پ) دا دواړه ټکي هم یو شان اواز لري، لکــه: لاپې شافې، د ګوتو خاپې، رېبدلې ګوتې. (ق) ټېتاقې، بداخلاقې نجونې، طلاقې شوې ښځې، د ګوتو ټقې، غرقې شوې ببــړی، شــړکبدلې پېغلــې. (ک) کــې، کېږي، کېدی شي، کېښودل، کېناستل او ټوکېدل. (ل)ولې ولې؟، د ولــې ولــې ولې ولې؟، هلې ځلې، تلې، تللې، غلې، بلېدلې، ځلېدلې.**

**(ن) نې نې، ونې، کنې، نینې.(و)وې، کوې، شوې، نوې، ته نــه وې، روې. (هـــ) هېر، هېواد، هېنداره، پوهېږي.**

**(ټ) ټېر، ټېپر، ټېکټر. (ډ) ډېر، ډېری، ډېر، ډېران، ډېوډی، ډېپه، ډېپــو. (ڼ) منڼــې، کنڼې، ګنڼې، پنڼې، شکنڼې، مشکنڼې اونور**

**(ړ) زړې، مړې، مړېدل، ژړېدل. (ږ، ګ) کږې، لږې،تږې، ســپږې، ورږې، ســږې، وږې، خوږې، خوږېږي، کږېدل، کږېږي، لګېده، که ولګېږي؟ چرګــې، جرګــې، ځانګې، خانګې، تنګې ونګې کوڅې.**

**(ځ) ختیځې، لویدیځې، ته وختې ځې؟ ختیځې سیمې.(چ) چې، نینې چیچې، ظالمه د یخ څخه وچېږې! کله چې، چېرته چې، هلته چې... (څ) څېرمه، څېره، په څېر، څڅېدل.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

(پ) پېر، شپې، سپېدې.
(ښ) ښې، ښېګڼې، ښېګڼه، ښېرې، خواښې، خوښې.

۴- لکۍ واله (ۍ)
دا (ۍ)د ښځينه کلمو، نومونو، ټکو يا تورو، وروستی ټکی وي، لکــه دا بېلګــې: ډوډۍ، مړۍ، نړۍ، کړۍ، تنۍ، لړۍ ، سيلۍ، والۍ، خورۍ ( خــورکۍ)، تــروري، پېښوري، باجوړي، ننګرهاري، کونړي، لغماني، کــابلۍ، نورســتاني، ســپوږمۍ، شپېلۍ، هيلۍ، هګۍ، ډوډۍ، څپلۍ، ډالۍ، ډولۍ او نور

۵- امر يه يا کړواله (ئ)
چې دا هم د يوې کليمې په پای کې ليکل کېږي، خو په دې شرط چې جملــه يا کليمه امر يه يا فعل (کړ) وي او د جمعې حالت ولري، لکه دا بېلګــې: راشــئ، راځئ، کېنئ، پا څئ، لاړشئ، ځئ، وليکئ، وخورئ وڅکئ او حساب مه منــئ، ورشئ، وکړئ، يوسئ، راوړئ، ورکړئ، ويې وهئ، ښه يې وډبوئ، ترې وپوښتئ. او نوردزاړه ميرزايان اوزلمي ليکوال تر سر ليک دا ليکنه همدلته راټوله کــړئ، د پای ټکی ورته کېږدئ، او بس يې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مینه په پښتو لنډۍ او لویدیځه نړۍ کې

دا چې د فولکلور پنځوونکی ولس دی نو بې له شکه چې په ټوله رېښــتینولۍ یې د همدوی مال او مــا لکیــت ګڼلــی شــو. د ولــس ژونــد، کــړه وړه راشــه درشې،فکر، هوښیاري، ملي تاریخ، ټولنیز جوړښت، عادتونه، عقایــد، کرکــې، خوبونه او تعبیرونه د دوی په فولکلور کې په ډېر غښتلي او شفاف ډول ځرګند شوي دي. زما استاد حبیب الله جاج پښتون زوی به کلونه وړا ندې موږ تــه پــه پوهنځي کې ویل: (فولکلور د عوامو خلکو، د یو ملت، قــام او نــژاد پــه نظــر د حقایقو مجموعه او عنعنوي سرمایه ده. همدا راز د ژوند او جهــان پــه بــاب د دوی فکر و عقیده، معلومات، افکار او عمومي ذهنیت دی.)

د استاد په خبره د یوې ټولنې فولکلور موږ ته د هغوی د پلرونــو، نیکونــو او ا جد ادو کلتوري نورمونه او ټولنیز ارزښتونه بیا نــوي او د هغــوی لــه کلتــوري معیارونو او اهدافو سره مو اشنا کوي. د استاد هغه خبرې مې اوس هم ښې په یاد دي چې ویل به یې: موږ باید د یوې ټولنې د فولکلور په باب بــې پروایــي ونه کړو، ځکه چې د نورو ګڼو ارزښتونو تر څنګه یې یو ستر ارزښت دا دی چې د روحي تحلیل له مخې د هغه عصر عمومي فلسفه، ټولنیز شــعور او د ژونــد مفهوم په کې موند لی شو. د پښتو د فولکوري مر غلرو په لړونو او امېلونو کې یو هم د پښتو لنډ یو یا قوتي مرجا نونه او طلایي کــونجکې دي چــې د ټــول بشریت د فولکلوري شعرونو یوه ستره شتمني او مهمه برخه ده. او د نړۍ پــه ټولو فولکلوري شعرونو او سندرو کې لومړنی ځــا نګــړی ځــای لــري. .کومــه شهکاري، حکمت او فلسفه چې په دغو دوو نا برابرو موزون شویو کرښــو کــې ځان ښکاره کوي دا د نړۍ د نورو ولسونو د فولکلوري شعرونو سره پــه هــېڅ ډول د پرتلې وړ نه ده. دې شعرونو د ا نسان د احساســاتو، عواطفــو، دردونــو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنځونو او کړاوونو په اړه دومره لوړه او دقیقه د رجه بندي کړې چــې حســاس عقل ورته هیښ پیښ پاتې کېږي. د دې شعرونو شاعر معلوم نه دی خو د هــر پښتون او پښتنې د احساس او عاطفې هېنداره ده. دا شعرونه د هر پښتون په ذهن او روح کې په فطرتي او قدرتي ډول جوړ ېږي یا جوړ دي او هر څوک یــې د دې شعرونو لپاره د جوړ شوي سېلابي سیستم سره سم وایــي او هــېڅ ډول کمی زیاتی ترې په کې نه پېښېږي. د پښتو د شعر دغه ډول د پښتون انسان د زوکړې سره سم رالروان دی خو په لیکلې بڼه یې داسې کومه نېټه یــا شــخص معلوم نه دی چې څه وخت، چېرته او د چا له خوا ویل شوي دي. خو دلته بیــا زه په دې نه پوهېږم چې هغه ورک او بې نومــه شــاعر زمــوږ د ولســونو د دې واقعي ژوند د هر اړخ په اړه دغه نازکه او په ټوله ما نــا ښــکلې او ریښــتینې ا نځور ګري څنګه کړې ده. ایا هغه بې نښا نه شاعر په دې پوهېده چې دا غمجن او مین ولس به پېړۍ،پېړۍ د ده د دغو تل پاتي ترا نو په څپو کې خپلــو اوږدو غمونو او ژورو کړاوونو ته للوووایي لکه چې وایي:

د با با دم دومره اولاد کې

زما په برخه یې موزي ورساونه

زما په خپله زړه خپه دی

ما ته په لویه لار کې مه ژاړه مینه

وګورئ! دغه عامیا نه سند رې په څومره خوږښت او نوښت بیان شوي چې لــه هغه پورته یې هېڅ ډول سوچ او فکر نه شي کېدای. یا دا چې:

سبا مې بیا د کډو وار دی

په سر به پنډې چلووم په زړه غمونه

په پیته پوزه دې شرمېږم

د خدای لپاره خمیره کیږده مینه

د موزیګي شلېدلی کټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**چې زه دې پیاړمې ټینګوم بازو دې زینه**

**پښتــنه ښځه د جهان د ټولو ښځو په څېر د احساس، وجدان او ذوق مېــرمن ده. هغه سړی او ناسړی ډېر ښه پېژني. د ښکلي او نــا ښــکلي، ښــه او ناښــه، مناسب او نا مناسب لپاره معیارونه او قضاوتونه لري. خو کړاوونه او رنځونه یــې دومره غمجن او دردوونکي دي چې د نورو ډېرو بد مرغیو ســره، ســره تــرې حتی د ژوند د ملګري د ټاکلو او خوښولو اختیار هم اخیستل شــوی دی. هغــه په خپلو دغو یادو شــویو نــارو کــې د مــوزي خاونــد د عــادتونو، صــفتونو او همدارنګه د هغه د ژوند د نورو اړخونو په باب دومره باریکــه او ژوره غړېــدلې چې موږ ته یې په لفظونو کې د وچو شونډو پر سر اســویلي شــوې ســپرغی د هغې ټوله تېره شوې پوره، پوره ا نځورولی شي. هغې په دغو نا برابــرو کرښــو کې د خپل زړه غمجنې غوټې دومره په هنر پرا نستې دي چې ویده یــې ویښ کړي او ویښ یې ځنګولي دي لکه:**

**د زړه له درده به نارې کړم**

**ویده به ویښ کړم ویښ به خوب وځنګوینه**

**دلته دغه د لفظونو هنرمنده میره موزي هغه چاته وایي چې نه د چا د ښې وي او نه د چا د بدې. نه نار ینتوب لري او نه سړیتوب. نه نر وي او نه ښځه بس نوم ورپورې نارینه یادېږي، چې دغسې یو څوک د هغې لپاره د ژوند د ملګري پــه توګه هېڅکله د منلو وړ نه دی. خو څه وکړي هېڅ نه شي کولی. ځکه هغه پــه داسې یو چاپیریال کې ژوند کوي چې هلته پېغلې او مېرمنــې پــه عــام ډول د واده او خاوند په باب د نظر ورکولو نه منع پوهول شوي دي. او دا چې ولــې د ا نو بیا نورې خبرې دي. خو لکه څنګه چې وړا ندې مې وویل پښتــــنه ښــځه د جهان د ټولو ښځو په څېر د احساس او ذوق مېرمن ده. نو دلته هــم مــردا نــه کرشمې لکه: په برېتو کې موسکا، کاږه کاته، د لباس ډولونــه، مېــړا نــه، تــوره کول، د ننګ و ناموس په کار کې تر نورو وړا ندې تلل... د هغې لپاره د ښــکلا**

(c) ketabton.com: The Digital Library

صفات او د امتیاز ټکي دي.په دې شعرونو کې هغه خپل عاشقا نه د رک او دروني غوښتنې په ډېر هنري او صادقا نه ډول بربنډوي او له هغو حدودو څخه ووځي چې د پښتنوالي ښځمنو فعالیتونو ته ټاکل شوي دي. د بېلګې په ډول پښتنواله دا خبره بده ګڼي چې ښځه ټولنې ته د خپلې مینې افاده وکړي او یا د خاوند د ټاکلو په باب خپله رایه څرګنده کړي. خو په دغو شهکاري شعرونو کې د هغې د عاشقا نه خبرو کول څوک بد نه ګڼي او پښتنه پېغله يې هم ښه په زړورتیا سره کوي لکه:

ټینګه مې ونیسه په غېږ کې

د پېغلتوب سترړیا مې وباسه مینه

سپینه سینه درته پرته یم

د پېنډاوو چرګوړی خوب دې څنګوینه

اول دې قد را سره سم کړه

بیا مې په سپینه سینه واچوه لاسونه

د هېواد ستر شاعر، لیکوال او سیاستوال سلېمان لایق د پښتو لنډیو او په لنډیو کې د ښځو په اړه وايي: (... د ښځې په باب د پښتنوالي قیود د ا نسان د ازادی، د عامو منل شویو پرنسیپونو پر معیار خورا درا نه او نهایت محدود دي. خو په لنډیو کې دا حدود مات شوي دي او پښتنه ښځه په بشپړه سرکښی کې خپلې غوښتنې، تمایلات، ذوق او عاشقا نه هوسونه مطرح کوي او خپل ځان هماغسې ښیي لکه څنګه چې ده ) د ښاغلي لایق په وینا په لنډ یو کې د ښځې موقیعیت او د ښځې په باره کې خبرې نسبت هغو خبرو ته چې په نورو فولکلوري شعرونو کې د ښځې په باره کې ویل شوي دي توپیر لري. نور شعرونه د خپلو خاوندا نو د پټو هوسونو لوبغالي دي. مګر د لنډیو په څپو کې د ژوند مستا نه شور اوازونه بولي. داسې اوازونه چې د پرون نه راغلي او د سبا ولاړې اوبه، به خوځنده او توپا ني کړي. د دې ادبي او هنري

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرغلرو پنځوونکی ریښتیا هم ورک، بې نومه او بې نښا نه دی خو هغسې ورک هم نه لکه د ا نځر ا فسا نوي ګل چې نوم یې شته او نور څه نشته. دا پــه ډېــرو کې ورک دي یا په ډېرو کې دومره تت او خواره دي چې بېلتون یې ســتونزمن دی او یا خو د غرو رغو دغه ټول شپا نه، اوښبا نه، د تبی دښتو او کنګل غرونو سرګردان زیار ایستونکي، په سرو غرمو کې بوخت ربړ ګالونکي او د اوږدو لارو او ځا نګړو سفرونو ټول لاروي دي. د دوی د دې فولکلوري مرجا نونو په ســرو سپینو طلایي لړونو کې نارینه هم ښځه زیاته ستایلې ده او که ووایم چې حتی ښځه په دغو مرغلرو کې د نارینه لپاره د تغزل اساسي مضمون جوړوي نو هــم پر ځای خبره به وي.خو هغه طلایي فولکلوري مشــکنې چــې ښــځې د خپــل ښځینه ذوق، احساس او عاطفې له مخې هم د ځان او هــم د نارینــه پــه بــاب تخلیق کړي پخپله ټوله ما نا د ښځینه احساس او عــاطفې بشــپړه اســتازولي کوي. او دا ځکه چې دلته هغه پخپله ځان ستایي. د خپل درک او د رد د بیا ن اظهار پخپله کوي. او چې دا سې ده نو راځئ چې دې بېلګو ته هم تم شو:

که په سلام ته خوشالیږې

زه به مې لاس په تــندي تل ولاړه یمه

د ښبتــنوالې درونه پته

زما په خوله دې لاس نیول ګونګه دې کړمه

او دغسې نورې په زرګونو د ښتــني چاپیریال د ښکلا د احساس ناوکیــا نــې چې د الفاظو او ټکو په ا نځور ګره او سحرګره رنګینه ژبه یې زموږ د ولســونو د ناپایه دردونو ترجما ني کړې. دا سې ترجما ني چې زموږ د عشقونو او رنځونو د درد ټوله ښکلا او ما نا په کې موندلی شو. په دې شعرونو کې دومــره خــوږلني، نازک خیالي، تخییل، شفافیت، د خیال او فکر منطقي تړون او بالاخره په ټوله کې یو لوی لیږدوونکی پیغام پروت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دغه لېږد بیا دومره خوږ، ښکلی، ساده، صادقا نه او د عامیا نــه ذهنیــت د قبول وړ دی چې له هغه پورته یې هېڅ ډول تصور او سوچ نــه شــي کېــدای. وګورئ په تېرو بېلګو کې زموږ ذهن ته څومره ریښتیني واقعتونــه او خیالونــه راغله. د ژوند د بېلابېلو اړخونو ژوندی او د لمس وړ کړنې یې را تــداعي کــړې چې هر پښتون پرې په اسا نی سر ه پوهېدای شي. او یا دا چې:

یار دې زما نه مرور که

د ژبې سره په چاړه دې پر ېکومه

زما جا نان په کې ښکار ېږي

شیشه د یاد چې یې زړګي ته ونیسمه

دلته هم هماغه خبره ده څوک چې پــه مینــه او محبــت پــوهېږي او د شــعر حقیقت ته رسېدلی وي هغوی په دې هم ډېر ښه پوهېږي چې په دې شعرونو کې د مینې زور، د عشق سپېڅلتیا، شفافیت او صداقت ډېر ښه څرګندېږي او که دغسې نه وي نو بیا خو:

چې عاشقي یې کړې نه وي

د پادې خر دی سبا ځي بېګا راځینه

هلته د مینې او محبت د خبرو اترو او ګیلو ما نو پــر مهــال یــو اشــنا لــه بلــه مرورېدل او بیا په هغو خبرو پښېما نېدل او خپله ژبه مخاطبول او په چاړه پرې کول دا هر څه ډېر زیات خواږه او خورا خونــدور دي. یــا د زړه د خیــال هغــه ښیــښه چې د یو مین او مفتون ا نسان د یار خواږه یادونه په کــې ده تــه هــر وخت ښکاري دا نو بیا بېله دنیا ده بېل خوند او بېله مزه لري. استاد ګــل پاچــا الفت دغسې مینې او په مینه کې دغسې خبــرو تــه شــعر وایــي او وایــي (... ریښتیا دا ده چې د مینې او محبت خبرې ډېرې خوږې دي. که دا خبــرې هــر څومره بیا بیا تکرار شي بد یې مه وړئ. ځکه مینه په همدغو مکررو توصیفونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزي. په کومه خبره کې چې د مينې او محبت جلوه وي هغه که په هر عبارت وي شعر دی او همدغسې خبروته شعر ويل کېږي )

يوه بله خبره چې زه ورته له ډېره وخته فکر وړی يم هغه يو د دې شعرونو پـه اد بي اصطلاحاتو کې ورگډ بدل او د پښتــنو په ورځنۍ گړنی (محـاوره) کــې زيات کاربدل دي چې پښتا نه ليکوال يې په خپلو هنري نوښــتونو او شــعرونو کې يا ټوله او يا يوه برخه نيمه د استورو په ډول راوړي او يـا يــې د کـلام د لا پخلي او خوږښت لپاره کاروي. او هغه بله خبره چې ډېره نامي او د لا پام وړ ده هغه د پښتو لنډيو د محتوا، مضمون او ا نځور خپل پښتــني رنگ او خوند دی چې د لويديځې نړۍ د کلتــور او دود، دســتور ســره کله،کلــه هــيڅ اړخ نــه لگوي.وگورئ:

که د د نيا شرمونه نه وی ـــ تا به منگی وړی زه به تش د رسره تلمه. او يا:

په مخ مې غبرگې اوښکې راغلې ـــ د پخوا نې اشنا ريبار مې وليدنه

استاد گل پاچا الفت د دې يوې د ښايست او خوږښت پــه اړه وايــي (... ډېــره ښکلې او ساده ده. هيڅ صنعت او هيڅ تخييل په کې نشته او بې له تشو تللــو هغه هم هله چې د نيايي شرم نه وايي نور څه نه لري. مگر مينه او محبــت پــه کې ځای لري او د عاطفې ترجما ني کوي. نو د محبت پــه لاره د مينـــې لپــاره تش تگ بلکې د تگ ارزو هم لطف لري او په زړه اثر کــوي.) خــو زه يــې پــه محتوا او مضمون کې د خپل افغا ن کلتور خوند او رنگ لټوم. زه په کــې خپلــه دنيا او په هغې کې خپل ځان گورم. زه خو دلته دا پوښتــنه کوم چــې کومــه د نيا او د هغې کوم شــرمونه؟ څنگــه شــرمونه او ولــې شــرمونه؟!! او بيــا د دې پوښتــنو ځوابونه همدا تاسې ښاغلو لوستونکو او اوربدونکو تــه پر بــږدم خــو يوې خبرې ته لږه اشاره کوم او هغه دا چې دلته سمندر نه سمندرونه په کــوزو کې ځای شوي دي او هغه کوزې ټولې د شرقي او په ځا نگړي ډول د پښتـــنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خاورې له ختو جوړې دي چې په جوړولو او پخولو يې يــوازې همــدا پښــتون کولال يا کولاله پوهېږي.**

**او دا بله چې وايي:**

**په مخ مې غبرګې اوښکې راغلې ـــ د پخوا نې اشنا ربېار مې وليدنه**

**دلته هم هغه څه بيان او اظهار شوي چې پښتون ليک لوستی خو لا څه کــړې چې شپا نه پرې هم ډېر ښه رسېدلی شي. يوازې په دومره تفاوت ســره چــې بل ته به يې د احساس د بيان، ما نا او تفسير لپاره ژبه تته او ګونګۍ وي کنــه هسې خو د همدغو بزګرو، اوښبنو او شپنو د ورځني ژوند ژوندۍ کيســې دي. دلته هم د هماغو تېرو تجربو او کړنو په څېــر د ژونــد يــوه شــېبه يــا د يــوې شېبـــې يوه لحظه تکرار شوې داسې چې د يو مېين ډېر کلونه وروســته پــه داسې يو چا سترګې لګېږي چې يو وخت يې د مينې او محبت په دنيا کــې يــو چاته د ورتګ راتګ او د مينې د خبرو د وړې راوړې راز دار و. خــو اوس هغــه هر څه په بله اوښتي.دا چې ولې په دې همدوی دواړه پوهېږي. خو اوس چې يو عمر وروسته د ناکام مين په خپل پخوا نې ربېار سترګې لګېږي د هغه په ليدو سره ده ته هغه تېر هر څه ټول ورياديږي او بې واره يــې لــه ســترګو غبرګــې اوښکې راځي. دغه ورځ دی ټوله د خپلې هغې پخوا نۍ مينې په يــادونو يــا د يادونو سره تېروي. او د دې لپاره چې د زړه درا نه غمونه يې ســپک شــي نــو شعر ته مخه کوي او هغه څه وايي چې همدغه نن او کلونه وړا ندې پــر ده تېــر شوي. خو موږ يې ځکه خوښوو يا ځکه رابا ندې ښه لګي چې زمــوږ د ژونــد د تجربو سره سمون لري. موږ ته په کې د خپلې ټولنې کړه وړه او عاشق ا نســان باا لکل هغه شان ښکاري لکه څنګه چې دی او څنګه چې ژوند کــوي. خــو د نړيوال کلتور او دود سره يې توپير په دې کې دی چې د هغــه جهــان مــين ا نسان د مينې او محبت د تارونود غزولو او پېغــامونو د وړو راوړو لپــاره دريــم ګړي ته اړتيا نه پيدا کوي. هلته د مينې د کارو بار لپاره څوک ربېار او قاصد نه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیسي. هلته مینه کول جرم نه دی. هلته پېغلې او زلمي یو له بل سره پــه پټــه لیدل کتل نه کوي. هلته دغه محرومیت او پابندي نشته او چې داســې ده نــو دغسې شعرونه بیا هغوی ته هېڅ خوند نه ورکوي. ځکه د هغوی د ټولنې د کړو وړو او ژوند د تجربو سره سمون نه لري. یا د هغوی د ژوند او کړو وړو محصــول نه دي. خو موږ یې ځکه خوښوو او ستایو چې زموږ د زړونو خبرې دي.زمــوږ د سترګو لیدلې پېښې او زموږ د ناویلو رازونو او غمجنو دردونو ژباړونکي دي.خو زه په دې نه پوهېږم چې هغه بې نومه او بې تعلیمه شاعر دغه پوهه او هنر لــه کومه کړی او څنګه په دې توا نېدلی چې زموږ له تل پاتې غمونو او رازونو یــې په دومره لوړ هنري قوت او جرات سره دغه پټې پردې پورته کړي دي!! دغسې بېلګې زموږ په دې عامیا نه ولسي شهکاري شاعرۍ کې څښتې زیــاتې دي او که ووایم چې زموږ دغه ټولې طلایي کــونجکې د همدغســې لویــو پېغــامونو، موضوعاتو، او ژورو مسایلو اظهارونکي او لرونکي دي. نو د مبــالغې هــېڅ ډول رنګ او زنګ به ونه لري. وګورئ:!

سپینې سپوږمۍ ته شه خوله واخله ـــ د دېوال سیوري ته مې مه بیایه ډارنه

دلته هم هماغه خلک دي. هماغه تجربې دي. هماغه غوښتـــنې دي. هماغــه محرومیتونه او درا نه غمونه دي چې حتی په توره شپه کې هم ور سره دا ډار ملګری دی چې څوک یې ونه وینې او ځوا نې مرګان یې نه کړي.نو ځکه زلمی مین خپله خوبا نه د سپینې سپوږمۍ د رڼا له ویرې د راز ونیاز لپاره د د ېــوال سیوري ته کشوي.خو هغې ته دغه کار ښه نه ښکاري او د ډارن خطــاب ورتــه کوي. خو دلته معشوق ته ډارن ویل او د دېوال سیوري ته ورسره نه تلل هغــه وینا نوره هم پخوي او درنوي چې وایي: (د مینې او محبت په کار کې ښځه تــر نارینه ډېره زړوره او هوښیاره ده) چې یو دلیل یې همدا په ســپینه ســپوږمۍ کې خوله ورکول او د دېوال سیوري ته ورسره نه تلل دي. او د هوښیارۍ هغــه یې دا چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه کې ستا نه کمه نه یم ــــ کم عقله نه یم چې پرې کلي خبرومه

او د لویدیځې نړۍ د دود دستور او کلتور سره یې توپیر په دې کې دی چې هلته د ژوند لارې چارې بېلې او کړنې بل ډول دي. هلته مفتون زلمي او پېغلې د خپلو کلتوري او مذهبي اوصولو او قوا نینو د نه مراعات او مرګ له ویرې پــه پټه مینې نه کوي. یو بل ته په تکه توره شپه کې په وېره، وېره نه ورځي بلکــې ټولې راشه درشې یې ښکاره او بې ډاره وي. هلتــه میینــان یــو د بــل لپــاره ساعتونه، ساعتونه په سرو غرمو نه درېږي. د بېلتا نه په غم کې یې شــپې نــه شوګیروي. په سر پندېونه او په زړه غمونه نه چلوي. د خلکو له خبرو ډار ېدل د هغوی خبرې او تومتونه د ځان لپاره سپکاوی ګڼل. په همزولــو، خپلــوا نــو او کلي کور کې په بد نامه یاد ېد ل، شرمېدل او بالاخره په پای کــې د مــرګ لــه ګواښ سره مخ کېدل دا ټول هغه څه دي چې دلته شته او هلته نشته یا دا:

ټینګه مې مه نیسه په غیږ کې ــــ سبا به بوی د لونګین درځنې ځینه

دا هم د یو چا میینانو د یوې خوږې شپــــــې کیسه ده. دلتــه هــم شــپه ده. یوازیتوب دی. د مینې او محبت راز ونیاز دی. په غیږ کې نیول او ښــکلول دي. یو بل ته په ځیر، ځیر کتل دي. د دوو زړونو درزېدل او تپېدل دي ساړه، ساړه اسویلي دي. وېره او ډار هم ورسره ملګري دي. او یا هغه د سایل صیب په وینا: ( د پاسه واورې ورېدل او غرونه لمبې کول دي.) خو دغه د مینې او محبت پــه سمندر کې د یوې شپــــــې لپاره غرق میینان په دې پوهېږي چې کــه د دوی د دې لید نې کتــنې څه نښې نښا نې سبا د کلي خلکو او یا د دوی خپلوا نو ته ښکاره شي نو باوري ده چې بیا یې خیر نشته. نو ځکه خو ښایسته لیلا خپــل اشنا ته وایي چې ډېره مې په غیږه کې ټینګه مه نیسه هسې نــه چــې زمــا د لونګین بوی در پورې شي او سبا درنه کلیوال پوښتــنه کړي چــې دا چېرتــه؟ څه وخت؟ څنګه؟ د چاسره...؟ او نورې ګڼې پوښتـــــنې چې بالاخره په سرونو به مو خاورې باد شي.د دې لنډۍ محتوا، مضمون او ا نځور ګري هم لکه د تېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو، هغه څه دي چې همدلته تېر شــوي.تېر بېړي او تېر بــدونکي دي او غربــي نړۍ ورسره پوره په تضاد کې ده. چې دغه تضاد او توپير زموږ په دغو ولسي او عاميا نه اشرفيو کې دومره جوت او پر بېما نه دی چې کتاب نــه، کتابونــه پــرې ليکل کېدی شی خو زه يې دلته د دې ليکــنې د ښې پای لپاره يوازې يــو څــو بېلګې يوه په بله پسې غوټه کوم. وګورئ:!

خبرې کړې شونډې دې ربړدي ـــ لکه سور ګل چې د سهار شمال وهينه
خاطر دې ډېر رابا ندې ګران دی ـــ که نه منګي لا ندې خوله کله ورکومه
ماد جينۍ د سر سا لو کړې ـــ چې نری باد شي ما سينې ته ونيسنه
زما بې پته ګاونډيه ـــ نه دې خوله راکړه نه دې موږ په ديدن کړمه

د مينې او محبت خبرې چې هر څومره ساده او بې تکلفه وي هغومره ښــې وي او په سړي ښې لګي او ځکه خو بيا دا هم وايي چې:

تر قندو ښې رابا ندې لګي ـــ څوک چې خبرې د جا نان راته کوينه

وګورئ په دغو ټولو مرغلرو کې عشق او ښکلا، عاميــا نــه مينــه، صــداقت او معصوميت څومره ښکلی، ريښتينی، خوږ او زړه وړونکی اظهار او افاده شــوی دی. دلته هم هماغه محروميت دی هماغه وېره او ډار، د زړونو بې واره ټوپونــه اخوا دېخوا په وېره،وېره کتل او په رپېدلو سرو شنډو داسې خبرې کــول لکــه سور ګل چې د سهار نسيم په ډېرې ارامۍ او نرمــۍ ســره رپــوي او لوبوي.يــا منګی په سر اوبه راوړل، او دغه مهال د يار دا غوښتنه چې د ســترګو پــه رپ کې منګی په سر يوه مچه ورکړي خو د يار دا غوښتنه په دې نه شــي ردولــی چې د عشق او محبت په کار کې د يار خاطر او لحاظ ساتل او د هغه په خوښه کار کول ډېر لوړ قيمت لري. يا له خدايه په دعا کې دا غوښتنه کول چې د يــو ژوندي او محرک جسم نه پر يوه جامد او ساکن جسم (سور سالو) بدل شــي او بيا يې د هغه ګل ا ندامه پر سر کړي دلته موږ پوهېږو چې دغه شاعر ته د خپل اشنا وصال ته د رسېدو لپاره بله هره کړنه ناشونې ښکاري نو خپلې هيلې ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسېدولپاره يې په ذهن کې داسې يوه لاره سنجولې چې که الله رب العزت يې ((په ښېرو کې دعاګا نې )) قبولې کړي سور يا شين سالو ترې جوړ کړي. بيا يې بخت او تقدير تر دې حده بيدار او ملګرى وي چې هغه سـا لـو بيـا تـر ډېـرو سفرونو وروسته يوه ورځ د دغه مين د اشنا تر سره او وربله ورسېږي بيا داسې يو مهال هم راشي چې نرى، نرى ګډ وډ باد لګېدل شروع شي او د ده محبوبـه يې د خپل ځان د پټاوي لپاره د يوې لنډې او نرۍدې وسيلې په توګه زر خپلـې سينې ته راونيسي. دا نو به د ده لپاره هغه بختـوره او ښايسـته ورځ وي چـې ارمان به يې په کې پوره او دعا به يې قبوله شوي وي. په هغه بله لنډۍ کـې د بې پته ګاونډي يادول چې يو ځل ورته د مينې کولو لپاره لر وبر شوى. زړه يـې ورکړى. يو بل ته يې په سترګو، سترګو کې خواږه، خواږه کتلي خو بيا وروسته بې پتي او بې ننګي کوي او په طرف يې هم نه ورځي چې د پښتنې مينـې پـه دود دستور کې دا ډېر بې پته او بې ننګه کار دى. دلته څوک په داسې اسا نـۍ سره چا اشنا ته د مينې کولو لپاره د لاس نښې او اينه را نجه نه ورکوي. او کـه يوځل يې ورکړه نو بيا يې ترې هېڅکله بېرته نه اخلي. چې دا په افغا نې ټولنه کې د ا نسا نې مينې د ښې ستاينې او غوره امتياز هغه ټکى دي چې الله تعالى ترې د غربي نړۍ مين زلمي او پېغلې محروم او بې برخې کړي دي. خو ماته يې بيا دومره ښکلي کړي چې زما د بيان احساس يې له توضيح او تشـريح څخـه عاجز دى او هم يې پرې زه دومره مين کړى يم چې له ټول جهانه راته ښايسته او ښکلې ښکاري. چې د بېلګې لپاره به يې په پاى کې زما دا وروستـــنۍ دوه لنډۍ له يو سمندره دوه څاڅکي وي. چې ليکل يې پر ما او شننه يې پر تاسو.

دا به د پاک الله رضا وي ـــ چې تې ښايسته کړې زې مين دربانډې کړمه

او دا بله:

يا خو به ما ته ښايسته ښکارې ـــ يا دې ثاني په دنيا نشته دى مىينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اول سواد زده کړه خانیه!

د محاذ اوونیزې ۸/۳/۱۳۷۸ ل کال په (۶۳) ګڼه کې د ((کره کتنه کـه کـردار کشي)) د لیکنې لیکونکی لوی استاد پوهاند میرویس رحماني (!!)
ستا لیکنه مې له پیله تر پایه ښه په غور ولوسته او هغه د مولانـا خـالص بابـا خبره، (تا ته خو غورې شوم اوس ماته غورې شه!) په هغه غونډه کې چې د ریحان الله رحیمي د یوې غزلې کره او نا کـره پـه اړه کـومې څرګنـدونې د غونـډې ګډونوالو وکړې،ما هم په کې خپل نظر څرګند کړی و،چې د خبرو یوه، یوه کلمـه او جمله مې اوس هم ښه په یاد کې پاتې ده. د خپلو خبرو په اړوند به وروسـته وغږېږم، خو په پیل کې ستا د لیکنې په اړه له تا ښاغلي څخه د بیا لپاره هیلـه کوم، چې کله کله د لومړنیو ښوونځیو د زده کړېکتابونه لوله، چې د بې سوادۍ له ناروغۍ څخه په امان یاست. ځکه په دې (۲۱مه) پېړۍ کې د یو ځوان لپـاره دا ډېره د ننګ او شرم خبره ده، چې د ساینس او تخنیک پـه دې پرمختللـي عصر کې یې لوړې زده کړې، خو لا څه کړې چې د لیک لوست مهارت یې هـم نه وي زده. (دا چې اسناد خبرې کوي) زه یې هم دلتـه سـتا پـه لیکنـه کـې مستندې بېلګې وړاندې کوم، لومړی: (... یو ځوک چې په کوم ادبي غونډه کې خپل اثر... کره کتنې ته وړاندې کوي...) ښاغلی اکاډمېسن میرویس (!!)
د سواد په زده کړه کې ضرور هڅه وکړه او د بیا لپاره په خپلـو لیکنـو کـې د (کوم) پر ځای ((کومه)) لیکه. ځکه د هغه چا چې سـواد زده وي هغـه داسـې لیکي: (یو ځوک چې په کومه ادبي غونډه کې...)
دویم: (خپل ځان برابر او سویه یې لوړه شي...)
اکاډمېسنه (!!) دلته هم ځان برابرول یوه بله مانا لري او په دې جمله کـې هـم (برابر) ډېر بدرنګه او بې خونده راوړل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم: ( ځینې خلک بیا دې صل ته وفاداره نه دي...)

پوهانده (!!) په دې جمله کې ((صل)) هېڅ مانا نه لري، خو یوه خبــره ده، چــې ګونګ د ګونګ په ژبه پوهېږي کېدای شي دا هم تا ګونګیانو ته لیکلي وي!!

څلورم: (محترم ریحان الله رحیمي خپله یوه غزله چې د اغلې صفیه صــدیقي په لیکه یې لیکلې وه، کره کتنې ته وړاندې کړه.)

لوی استاد میرویس رحماني (!!)

یو ځل بیا هم خپله غوښتنه تکراروم چې:

اول سواد زده کړه خانیه!

بیا د لیکنو شوق وروسته کړه ښاغلیه!

هو، سواد ښه شی دی.

سواد زده کړه او په دې هم له ما سره مه کلکېږه چې ته وا: سواد مې زده دی.

که ستا سواد زده وای نو تا به لیکلي وای چې د صفیه صــدیقي د غزلــې د یــو بیت پر لیکه... ځکه د بیت پر لیکه یوه مانا لري او د (صفیه صدیقي) په لیکــه بله مانا. او په دې هم ښه ځان پوه کړه چې د سواد زده کړه یواځې دې ته هــم نه وایي، چې څوک دې لیک لوست وکړای شي نو هغه باســواده دی. د لوســتو خلکو د سواد او بې سواد خبره هم هغه وخت راپورته کېږي چې په لیکنه، نــه پوهېږي، کتاب او کتابت نه شي کولی او د مسایلو په اړه تحلیل او تجزیه خو لا ستا په څېر لوی، لوی پوهاند هم نه شي کولی.

پینځم: (... دا خو د هنر ژبه ده، دلته اباسین مخاطب شوی چې که تا غواړي ما وبسې...)

نو دلته هم اوس ته پخپله ووایه ((نامتو)) ((چې که تا غواړي ما وبسي)) دا څه مانا لري؟ او که دا دې هم ګونګیانو ته لیکلي دي!؟

شپږم: (چې کله د غزل شاعر ته د ځواب ورکولو او خبرو وار ورسېد نو د تامیل پړانګانو (نقد کوونکیو یارانو) ټولو غونډه پر ښې او په خپله مخه تللي وو.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی پوهانده (!!) په دغو جملو کې درنه دوه پوښتنې کوم لومړی دا چې تــه او خدای(ج) رښتیا به وایې د تامیل پړانګان پېژنې؟ له تاریخ او کړنو یې خبــر یې؟ که یواځې نوم دې اورېدلی دی؟؟؟ او دویــم دا چـــې پــر دا دومــره لویــو ښکرورو، دروغو درته هغه مهال چې دا لیکنه دې کوله ځان بد ښکاره نه شو؟ یا لږ تر لږه په خپل زړه کې دې څه ناڅه د شرم او ننــګ احســاس ونــه کــړ؟ خصوصاً هغه شېبه چې دا جمله دې لیکله (کله چې د شاعر د ځــواب ورکولــو وار ورسېده ټولو نقد کوونکیو غونډه پر ېښې او په خپله مخه تللي وو.

په هر حال! هغه د چا بزرګ خبره تاریخ ګواه دی. اوس راځم هغو خبرو ته چې تا په ځانګړي ډول په ما پورې غوټه کړي دي.

۱ - هغه مهال چې ته د هغې کره کتنې په غونډه کې ګډونوال وې په خوله کــې دې ستوان وو که چا پرې برغولی ایښی و چې هماغلته دې دغه خبــرې کــړې وای او که نه، په کور زمری په سارا ګیدړ یې؟ یا لکه د کوڅه ډب... په خپل وره کې لکۍ جنډه وړې .

۲ - هغه وخت چې ما کومې خبرې کړې وې اوس هم په خپلو خبرو ولاړ یــم او بیا هم وایم چې دغه شعرونه یا د شعر په نامه دغه خبرې، هسې خوشې چټــې ګډې وډې ساده شډلې عامیانه د پولې پټې د سره خبرې دي. او ښه بــه دا وي چې هر دغسې شاعر باید نور د دغسې ببولالــو نــه لاس واخلــي او د شــعر او شاعر په نامه ملنډې ونه وهي. هر هغه څوک چې ښه هنري او معاصــر شــعر د معاصرو غوښتنو سره سم نه شي لیکلی نو باور لرم چې د لوړې به نه مړ کېږي. یو بل کار روزګار دې پیل کړي، خو د شعر لیکلو په نامه دې د څــه لیکلــو ډډه وکړي، نه دې خپل وخت ضایع کوي او نــه دې د شــعر پېژنــدونکو او او شــعر لیکونکو ذوق ورخرابوي.

اووم: (... موخه مې دا ده چې موږ باید خپل رسالت په ښه توګه تــر ســره او د کره کتنې اصالت خوندي کړو...)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلی علامه(!!) رحماني! ته او ستا ضمير دې چې په ادبي کره کتنو کې د هغې اصول، ځانګړتياوې او ستا په خبره د هغې رسالت او اصالت پېژني که يواځې دې چېرته په غلطۍ سره په کوم کتاب کې دغه اصطلاحات اوربدلي دي او بس؟؟ بل دا چې ته ښه شعر او ښه شاعر پېژنې؟ باور لرم چې ځواب دې ((نه)) دی. دا ځکه چې پېژندلی دې نو د ځېنوشعرونو او شاعرانو په اړه به دې د ښه او نا ښه پربکړې نه صادروې.

او په پای کې درته يوه پټه خبره کوم او هغه دا چې دروغ وايه خو په شرعه يې روغ وايه! ما د ښاغلي درانه استاد ناګار صاحب، صفيه صديقي او حقيار د شعرونو د ښو او نا ښو په اړه يوه خبره هم نه ده کړې تا را پورې دا دومره خبرې ولې تړلي دي؟ په هر حال! که وخت و د ننګرهار د ادبي بهير د غونډو ګزارشونه به يوه ورځ له چاپه راووځي بيا به هلته ګورو چې حقيقت څه دی او ستا رنګ به زېړ وي، ټول به خولې، خولې يې خو څوک به نه وي چې لاسپکی درته ووهي. په پای کې درته د رحمان بابا دا بيت ډالۍ کوم، ښه سوچ پرې وکړه.

ړوند په خپله عصا پربوځي کوهي ته
کم دليل له خپل دليل د ځان تاوان شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغان معارف او ګڼې ستونزې

ستونزه چې هر څه، هر څومره او په هره کچه وي، بیا هم ستونزه ده خو ځینې ستونزې داسې وي چې یا یوه له بلې سره تړلې وي او یا یې زېږنده وي او چې پر وخت یې د حل غم ونه خوړل شي نو بیا ترې دومره لویه بلا او بدمرغي جوړه شي چې د حکومتونو په کچه لا څه چې په نړۍ واله کچه یې هم کله کله تر ډېره وخته حل ناشونی وي.د دغسې ستونزو ببلګې د افغان ټولنې په هره خوا کې زښتې ډېرې دي خو دلته به یې یوازې هغه ستونزې یادې او وڅېړو چې د افغانستان معارف ورسره په جال کې دی او د هېواد د نورو ستونزو په پرتله یې شمېره او کچه تر ټولو ستره ده. د دغو ستونزو د حل لپاره که همدا نن چاره ونه لټول شي، په راتلونکو ناوړه پایلو یې سوچ او فکر ونه شي، نړی واله ټولنه او افغان دولت یې د هېوادد نورو ستونزو تر څنګ د یوې مهمې ستونزې په توګه ونه ګڼي نو په دغو ستونزو کې داسې هم شته چې هره یوه یې بیا نورې نورې زېږوي. چې لا اوس یې پر دولت او ټولنه د اغېز نښې دومره نه دي محسوس خو هغه ورځ لېرې نه ده، چې بیا به ورته افغان دولت او نړیواله ټولنه دواړه ګوته په غاښ وي، فرصتونه به یې له لاسه وتلي وي او ډېر څه به بیا په هېڅ قیمت او طاقت نه راګرځي هغه ستونزې چې د خطر په لومړۍ لیکه کې دي او تر ټولو مهمې دي داسې یې شمېرو:

لومړی: د لېرې سیمو د زده کوونکو ستونزه:

په ټول هېواد کې هغه سیمې چې د مرکزي تعلیمي ځایونو څخه لېرې پرتې دي او هم د دولسم ټولګیو زده کوونکي او هم کوچني ماشومان ورسره لاس و ګریوان دي، لکه د مرکز نه د لرې پرتو ولایتونو د دولسم ټولګي فارغان چې وروسته له فراغته بې برخلیکه پاتې کېږي، چې کړې زده کړې ترې هم هېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، ځکه هغوی ته د نږدې زده کړې امکانات نه وي او لرې ورپسې تللــی نــه شي، نو څه وکړي؟ اړ دي چې شپني او بزګري وکړي او که دغــه کــار یــې لــه ماشومتوبه کړی وای نو تجربه خو به یې پکې پیدا شــوې وای، دلتــه هــم دوه ستونزې دي، یو دا چې لومړی خو هلته د نجونو لېسه نشته او که وي بیا پکــې ښځینه ښوونکې نه وي، چې د دغه کار د لامل په وجه ولسونه د خپلو مذهبي او کولتوري محدویتونو له مخې خپلې خویندې لوڼه په دغسې ځایونو کې زده کړو ته نه پرېږدي.

دویم: هغوی چې زده کړې ترې د تل لپاره پاتې شي:

دا په ولایتونو او ولسوالیو کې د لېرې سیمو د لومړنیو او منځنیو َښوونځیو هغه په زرګونو هلکان او نجونې دي چې تر (اووم او نهم) پورې زده کــړې وکــړي او نور نو یوې ناکامې او ناپایه راتلونکې ته د تل لپاره پرېښودل شي چې کړې زده کړې ترې هم هېر شي او نورې هم ونه کړي.

درېیم: د سرپنا او ودانۍ نشتوالی:

د زده کوونکو د سرپناهٔ ستونزه هغه لویه بلا ده، چې د زده کوونکــو لپــاره تــر ټولو نورو دردوونکې ده او دا ځکه چې د بل هر کړاو حــل بــه یــو څــه وخــت ونیسي خو اخر په حل شي . خو د سرپناه نه لرل هغه څه دي چې زده کوونکي او ښوونکي ورسره هره ورځ، هره میاشت او هر کال مخامخ دي، چــې بــالاخره نوره نو د دغې ستونزې سره د ترړلو کړاوونو په وړاندې د بنده حوصــله ختمــه شي او نتېجه دا شي چې ښوونځی د تل لپاره پرېږدي او خپله راتلونکې یــوې تورې ویروونکې تیارې ته وسپاري.

څلورم: د مسلکي ښوونکو کمی:

دا هم هغه همېشنۍ ستونزه ده چې کلونه کلونه به ورسره افغان معارف لاس و ګرېوان وي خو په بشپړ ډول به حل نه شي او دا ځکه چې د یوې خوا نه زموږ د نفوسو شمېر ورځ په ورځ او کال تر کاله زیاتېږي او چې څومره د زده کوونکو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمېر کچه د هېواد په ټولو ښوونځيو کې په هسک روانه وي په هماغه انــدازه ورته د ودانيو، مسلکي ښوونکو او نورو اړتيا تياری همدغومره لوړ پــدای شـــي چې زموږ پوهه کدرونه په ډالري معاشونو پسې نورو دولتي او غير دولتي ادارو ته ځي او هغه چې ډېری يې تر ټولو ضعيف، کمــزوري او پــه ټيټــه نمــره لــه پوهنځيو څخه فارغ شوي وي بيا ښوونکي ټاکل کېږي او لــه دې يــې دا ډېــره لويه ناکاره چې اکثره ښوونکي دولسم پاسان دي او هغه هم هاغه کسان چې يا کانکور ځپلي دي او يا ترې په تېلو، تېلو دولسم ټولگی (خلاص) شوی دی، پــه تاريخ، پښتو او ساينسي مضامينو کې څو څو ځل ناکام پاتې دی، خو چې کلــه فارغ شوی د کار موندنې اسانه لار او ځای ورته د پــوهنې وزارت او د همدغــه وزارت د پوهنې رياستونه ښکاره شوي چې پر يو سپين کاغــذ د څــو کرښــو غوښتنليک او لږې واسطې او څه ناڅه رشوت وروسته د نر غوندې بس پياوړی ښوونکی دی !؟

پنځم :

زموږ د ښوونځيو په ټولگيو کې د زده کوونکو د شمېر اندازه تــر هغــې پــولې رسېدلې چې ښوونکي يې د زده کړو پر مهال د کرارولو کنترول هــم نــه شـــي کولی او ټول درسي ساعت يې په همدې کې تېر شي چې مه کوئ غلــي شــئ، کېنئ، غوږ ونيسئ!! ا په همدې کې پرې ټنگ شي زنگ ووهل شي، خــو ټکــی هم ورزده نه کړی شي.

په ټولگيو کې د زده کوونکو ډېرښت تر دې حده رسېدلی چــې يــو ښــوونکی پرې کتاب په نمبر سره له مخې هم نه شي لوستلی پاتې لا د کورني کار ليدنــه او کتنه يا پرې پر تخته څه ليکل او لوستل .

لنډه دا چې د افغان معارف علمي کچه کال تر کاله مخ پر ځوږ روانــه ده او يــو دولسم پاس اول نمره مو د کار غوښتنې غوښتنليک په خپله نه شـــي ليکلــی، هغه هم په هغو زړو ميرزايانو ليکي چې د پوهنې رياستونو مخې ته د همــدغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ليكنو لپاره ډلې ډلې ناست وي او زموږ دولسم پاسانو ته د هغوی د كارموندنې لپاره عريضې ليكي، چې ډېره د شرم او ننګ خبره ده خــو د چــا لپــاره او تــر كومه؟ ولې؟ او اصلي لامل څه دی؟؟ بيا هماغه لومړنۍ خبرې چې په ښوونځيو كې د زده كړې د كچې ټيټوالی، د مسلكي ښوونكو كمــی، پــه ټولګيــو كــې د شمېر لوړوالی او د ښوونكو د سواد او تجربې كمزوري، په ټوله كې د معــارف د مامور د معاش كمی، د سرپناه نه لرل د كتاب د كمښت ستونزه، د ښوونكي بې كوري او غربت او په پای كې افغانستان د معارف له پلوه يــو كمــزوری هېــواد جوړېدل چې نتېجه بيا فقر، بدمرغي، اقتصادي، علمي او فرهنګي كمــزوري او بيا وروسته نور عواقب يې ناپوهي، وژنې، ترور، مرګونه، غلاوې، ډاكــې، چــور، اقتصادي، ټولنيز او پوهنيز تبعيض ،توپير او بــالاخره عقــدې، كينــې، نفــرت، كركه او وحشت... او په پای كې د دې ليكنې وروستنۍ خبره بيــا هــم هماغــه لومړنۍ خبره چې كه د هرې ستونزې د حــل لپــاره پــر وخــت او مهــال لارې ګودرې ونه لټول شي نو فرصتونه له لاسه وځي او لــه وړو، وړو ســتونزو لــوی، لوی بدمرغۍ جوړېږي .**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پر پوهنه د رسنیو اغېزې

خدای (ج) خبر چې د نړۍ ستر لیکوال ((پوانکاره)) د زمانې په کومه مقطعه کې دا خبره کړې وه چې: (مطبوعات د اوسني تاریخ اساس او بنسټ دی، موږ باید خپل تاریخ مشوش نه کړو، ځوک چې د مطبوعاتو ازادي محدودوي د وطن او ملت تاریخ ته زیان رسوي.) د دې لیکنې د لومړنیو خبرو لپاره د پوانکاره د پخو خبرو راوړل د دې لپاره وو، چې د لوستونکي او اورېدونکي ذهن ته لومړی د مطبوعاتو د تاریخي ارزښت او مانا په اړه یو څه ورواوروم اوبیا دخپل هیواد اوسنیو مطبوعاتو اهمیت ته راوګرځم په ځانګړي ډول د اوسنیو مطبوعاتو اغېز پر پوهنه او ښوونه، روزنه باندې وڅېړم نو دلته به د خپل ماشومتوب د زمانې د یوې شېبې یادونه وکړم. هغه مهال چې زه لا په ښو بدو نه پوهېدم د ښوونځي مخ مې نه و لیدلی، یوه ورځ یو چا، چا ته وویل: د داود خان باچایي خو چپه شوه! او ترکی باچا شو. هغه مخاطب پوښتنه وکړه: دا چا وویل او کله دا کار شوی؟ ځواب دا و چې په راډیو کې یې په خبرونو کې وویل. هغه مهال ماته د پاچایي، داود خان، ترکي، راډیو، خبرونو او نورو ډېرو کلمو مفاهیم په ټوله مانا ناشنا او نه پوهېدونکي وو، خو اوس چې د دغې هرې کلمې په مانا څه نا څه پوهېږم، په دې هم پوهېږم، چې راډیو، خبرونه، مطبوعات، مېډیا او په ټوله کې رسنۍ د نړۍ په سیاسي او ټولنیزو بدلونونو کې څومره ونډه او رول لري.اوبیا خو پر پوهنه د رسنیو اغېزې څرګندې دي د بېلګې په توګه که د دغې لارې واورېدل شي، چې په پلانکي ځای کې نږدې (دوه لاکه) وګړي ژوند کوي چې اکثره اوسېدونکي یې د بزګرۍ چارې پر مخ وړي خو د افسوس خبره دا ده چې په زرګونو ماشومان یې د خپلو لویانو سره ختې او نور درانه کارونه کوي خو دولت د دغو خلکو د بچیانو د راتلونکي لپاره د زده کړې په برخه کې هېڅ ډول اقدام نه دی کړی!! د دې خبر په اورېدو سره حکومتي مسوولین له دارنه خوبه راویښېږي، پاڅېږي روانېږي، ځي هلته ښوونځي جوړوي او د ماشومانو سره د هغوی د زده کړو په برخه کې مرستې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي چې دغه مرسته بیا د هېواد په ابادۍ کې ستره ونډه لري. همدا شان کـه حال ته راشم او د خپلې اوسنۍ مېډیا د اغېزمنتوب په اړه وغږېږم نو لـومړنۍ راډیو چې زه یې باید نوم اول واخلم هغه د ازادۍ راډیو ده چـې غـږ یـې نـه یوازې په ملي کچه د هېوادوالو غوږونو ته رسي لا په نړیواله سـطحه یـې هـم پښتانه د موسیقۍ د ترنګ، ترونګ سره دا جمله ډېره اوري چې وايي: (( لـوی شو چې پوی شو)) یا د هېواد د ملي راډیو تلوېزیون په پرده او د غږ پـه څپـو کې دا غږ چې (( پوهنه رڼا ده)) یا همدارنګه نورې ډېرې رسنۍ چې وخت پـر وخت یې د پوهنې وزارت سره د زده کوونکو او ښوونکو ګـڼ شـمېر بېلابېلـې ستونزې څېړلي او بحث کړي دي چې ضرور یې مسوولینو لـه بحثونـو او یـا د لیکلو رپوټونو له اورېـدو وروسـته د حـل لارې چـارې لټـولي او کتلـي دي. همدارنګه ځینې افغان تلوېزیونونه د ښوونې او روزنې لپاره ځـانګړي روزنیـز پروګرامونه جوړوي، چې دغه هم د زده کوونکو د زده کړو په پیاوړتیا او هڅونه کې ستر نقش لري. خو لنډه دا چې مطبوعات د معارف په ځلوونـه او رغوونـه کې د پام وړ اغېزې لري، هیله ده چې زموږ معاصره مېډیا د پوهنې پـه برخـه کې لا مؤثره او اغېزمنه شي او دغې برخې ته هم د هغوی د ستونزو د راسپړلو په ساحه کې او هم یې د برياوو په یادونو کې د نورو د تشویق او هڅونې لپـاره لیکنې او خپرونې وکړي. زه خپلې خبرې نورې همدلته رالنډوم خو د نړۍ د یو لوی لیکوال (( جفرسن)) دوه کرښې خبرې د مېـډیا د ارزښـت او سـتاینې د سوچ د یو لنډ بدلون لپاره راوړم چې وايي: که له مانه پوښتنه وکړئ چـې پـه وطن کې بې روزنامې حکومت وي که بې حکومته روزنامـه، زه بـه هـر ګـوره دویمه خبره غوره کړم. (یانې، بې حکومته روزنامه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ((کونړدنګې څوکې )) شعري ټولګه که جغرافیه !؟؟

خوږې ،خوږې یوڅو خبرې وکړه
په خوله کې راکړه سره انارد شونډو
دتندي خال دې ښـــــــکلومه اشنا
غـــــلي تېر ېږم په کنـــــــاردشونډو
په مینه راکړه سره لاسونه لاس کـــــې
صادق ته خوشې کړه بازارد شونډو

دادښاغلي شیرزمان صادق کونړي ( کونړدنګې څوکې) شعري ټولګې نه رابېل شوي څو بیتونه دي زما خو ډېر خوښ شوي ، هیله ده چې د نوور هـم خـوښ شي ، ځکه د شعر خوښونې ذوق اوسلیقه دهرچـا بیلـه ، بېلـه وي ، خـو زمـا (هسې چټې خوشې) نه دي خوښ شوي زما د ژوند د ډېرو تجربو سره سـمون لري ، زما د کلي لارې کوڅې ، کلیواله پېغله ، له هغې سره په یوازې ځای کـې په ویره ، ویره خبرې کول ، دانو بیا ځانته خوند او خواږه لري اوبیا هغه د الفـت صیب ویناچې :

ښکلول ، غیرکې نیول دنورو مخکې
که په خوښه اورضاوي ، څه پرواده ؟

اویاداچې :

عاشـقي نیـــــــــمه باچایي ده
چې ماشوقه یې په طرف ولاړه وینه

یا:

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاطردې ډېر راباندې ګـــران دی
کنه منګي لاندې خوله کله ورکومه

اوياور لرم چې صادق صاحب به هم د زلميتوب په کلونوکې د دغســې تجربــو ضرور شاهد و اوکه داسې نه وي ، نوبيا يې داهم نه ويل چې :

په مينه راکړه سره لاسونه لاس کــې
صادق ته خوشې کړه بازارد شونډو

زه د خپل همېشني عادت له مخې په هره نوې شــعرې ټولګــه کــې د خپلــې خوښې بيتونه د لوستلو پرمهال په نښه کوم اوبيا يې د غــوره شــويو شــعرونو کتابچې ته پورته کوم .

داځل مې هم همداسې کړي ، د ښاغلي شاعر او ليکوال صادق صاحب دويمــه شعري ټولګه چې مې کله ولوستله ، نو دغه ښکلي بيتونه مې ترې رابېل کــړل چې ورستنی دربيم بيت يې ترټولې شعري ټولګې ښه راباندې لګې چې کيدي شي ، دابهٔ زما د زلميتوب د وختونو د يوې شېبې انځوروي ، ځکه خويې دومره خوښوم .

(کونړدنګې څوکې ) دښاغلي صادق صاحب دويمه شعري ټولګه ده او کله چې مې ولوستله ، نو خدای شته په زړه کې مې تېر شول چې ضرور به بې پکې نوې تجربې کړې وي ، خوله بده مرغه چې دلومړۍ شعري ټولګې ( خاطرې ) نه هم کمزورې او ضعيفه ده ماډېره هڅه وکړه چې زيات يې ښه شــعرونه راواخلــم او ويې ستايم ، ځکه چې به لومړنۍ شعري ټولګه يې هم ما ليکنه کړې وه ، خو په ده ښه نه وه لګيدلې اوبيا يې هڅه کړې وه چې زما ليکنه دقومي ســپينږيرو د پربکړې له لارې غلطه او بېځايه ثابته کړي او غلطې تبصرې نوم ورکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

حال داچې ما پرې د کره کتنې له تولو نورمونو سره ســمه ليکنــه کــړې وه او دواړه خواوې ( ښې او ناښې ) مې له ژوند يو بېلگو سره وړاندې کــړې وې اوس دادی د نوموړي ښاغلي په دويمه شعري ټولگه هم د ليکنې په حال کــې يــم ، خو يوه خبره ضروري گڼم او هغه داچې د دې شعري ټولگې له کره والي مو يوه موخه داده چې له يوې خوا ليکوال ته خپلې کمزورۍ ا ونيمگړتياوې څرگندې شي ، همداراز ځوان ليکوال کهول د کره کنتې له ليکولو سره اشــنا شــي اود زغم کلتور زده کړي دشعرښې او ناښې بېلگې وپېژني او بالاخره بيا پــه خپلــو ليکنو کې د غسې نيمگړتياوو ته پاملرنه وکړي ، دويمه داچې هغه د مېلمه او ( الو) د خوړلو خبره هم ده چې اوس مو دغه يو ستړی کــړی دی ، بــل نــه شــو ستړی کولی ، خوبيا هم داسې نه ده له دې وړاندې ما پر نورو ټولگو هــم کــره ليکنې کړي ، لکه (اصيل افغان، دوخت يادونه او ديادونو په مزار دې ډيوه ځکه بلومه ) اونور چې ډيرو به لوستې هم وي . دربيم دا چې زه تل پرهغو ټولگــو د کره ليکنې  تکل کووم  چې له ځانگړتياوو يې نميگړتيــاوې ډيــرې وي  اوهــم هغه ټولې ټولگې چې ما پرې  دکره ليکنې په نــوم څــه ليکلــي ، نــو همدغــه ځانگړتياوې په کې په نظرکې نيول شوي چې دهغوی له جملې نه يوه داټولگه (کونړدنگې څوکې )  ده .

د دې شعري (۱) ټولگې ډېری شعرونه لکه دليکوال د لومړنۍ شــعري ټــولگې (خاطرې ) په څېر ډېرې يې بې وزنۍ او کمزورۍ لري چې دلته به يې بېلگې په مستند ډول وړاندې کړم ، خوله هر څه وړاندې يــې زه لــه دې نــوم ســره پــه مخالفت کې يم ، ځکه د شعر يا شعري ټولگې لپاره داسې يو نوم بايدغوره شي چې له نامه يې څرگنده شي چې داشعري ټولگه ده ، دمثال په ډول که د يــوې شعري ټولگې نوم ( کرنه او مالداري ) وي ، نو ايا څوک به پــه لــومړي ســرکې داسوچ وکړی شي چې گواکې شعري ټولگه ده ، ترڅــوچې يــې پــاڼې لانــدې باندې نه کړي اوياپرې بله ليکل شوې کرښه ونه لولي چې ((شعري ټولگه )) که

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې وي نو لوستونکی ضرور دا سوچ کوي چې داد کرنې او زراعت په هکلــه کوم کتاب دی .
یاکونړ دنګې څوکې ، چې ضرور به د کونړ دغرونو د لوړو څوکــو اوجغرافیــایې جوړښت په اړه څه لیکل وي نو دلته زه ځکه وایم چــې د کــونړدنګې څــوکې شعري ټولګه که جغرافیه !؟؟ او یا داسې یو بل نوم لکه ممانې او ګورګوري چې لوستونکی به پرې له لیدو سره سم د غرنیو میوو په فکر کې کیږې .
که له سرلیکه یې راتېر شو ، نو شعرونه یې هم په ټوله کې کمزروي دي او کلــه ، کله خو تري وزن هم په کونړي سین لاهو شوی دی ، ډېر شــعرونه خــو یــې ببخي ما نا نه لري ، خو داهم کېدی شي چې شاعر(۱ ) ته یې په خپل زړه کــې مانا ولري لکه لاندینی بېلګې :

منزل که اوږد وي که لنډ ، خوبې هدفه نه وي
پدغه شوق مینه طرز داســـې شان مې ګوره
یاد بلال چغې د صــــادق ذهن کې کېنولــــــه
دهغــــه غږ د هغــــــه چغې په ارمان مې ګوره

او ډيرې نورې دغسې ببولالې چې د بې ماناګۍ او بې مفهــومۍ ســره ، ســره د لوستونکی او اوریدونکی زړه هم له شعر لوستلو او شــعر لیکلــو تــوروي چــې ددغسې بیتونو او شعرونو (۱) ببلګې د صادق صاحب په دغه ټولګه کې ډېــرې زیاتې دي چې د همدغو ګڼو نیمګر تیاوو او کمزوریو د شتون پربنسټ مــا هــم دغه ټولګه د کره لیکنې لپاره غوره کړه او هیلــه مــې داده چــې ددې ټــولګې نیمګړ تیاوو ته په پام سره نور ځوان لیکــوال پــه خپلــو لیکنــو کــې دغســې نیمګر تیاو ته ځیروي ، بله ببلګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنام وننګ اود پښتوپه ټکي
موړراښودلې دلالو په ټکې

یا:

سیـــده تېر یږم په هردم د پښتو
صادق اوسېږمه ښه سم دپښتو

دنړۍ یو ستر نقاد لیکي هغه څوک چې د شعرپه اهمیت ، هنریت او جوړښـــت نه پوهېږي ، ښه داده چې ویې نه لیکې اود هیواد پیژندل شوي لیکوال او نقاد زرین انځور بیا لیکي د نن ورځې شاعر باید د کلیمې په بشپړ اوپـراخ مفهـوم سره معاصرشاعر اود خپل وخت شاعر وي دی زیـاتوي شـاعرجوړونکی دی او لکه د نورو ټولو جوړوونکو په څېر باید تر ټولو د ښه څیز د جوړولو په لټه کــې وي ، خوشاعر مخکې له دې چې شعر جوړکړي ، باید خپـل ځـان جـوړکړي ، دښاغلي انځور صیب په وینا زموږ د زمانې شاعرباید په سطحه کــې پـاتې نـه شي اود مسائلو تل ته تېر شي خو متاسفانه چې زموږ د نظر وړ لیکوال (۱) پـه لیکنو کې هېڅ ډول تخیل ، پیغام او هنریت نه ترسترګوکیږې نه یوازې داچې دغه هرڅه نه لري ، لکه د تیرو بېلګو هېڅ مانا اومفهوم هم نه لري لکه دا:

منـــظوره د منصـــــورقرباني څومره افتـــــــخارشو
په ســـرکې شوه سریزه اوهمدغه د عشق اسباب دی

وایې چې دغزل دډیرو نورو ځانګړتیاوو ترڅنګ یوه ځانګړتیا داده چې هربیت یې ځانته خپلواکه مانا او پیغام لري ، خو زه د ښاغلي صادق صیب د ډیرو غزلو په مانا او پیغام نه یم پوهېدلی او یا خو به یې لـه ســره لـري نـه ؟ خـو خیــر داپریکړه به لوستونکو ته پرېږدو زه یې یوازې بېلګې وړاندې کوم او له ډېــرو خبرو نه پرې تېر یږم لکه دا بېلګه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه هیځ ګرمه نه ده حسن ملامت په عشق کې
ما په سره لمراچوي او خپل ځان په سوري ولي

اویا :

سپینږیری شومه ستا غوټۍ په سپږیدلو نه شوه
ســـوچ کې لاهــو په دریــابونو کې د ځان کومه

انځور صاحب دغسې شاعرانو اود دغسې لیکنو د لیکوالو لپاره څه لارښــوونې لري چې دلته یې راوړل ضرور ګڼم ، هغه وایې هر شاعر ته پکاردي چــې ښــه شعرونه ولیکي اوکه ښه شعرنشي لیکلی ، نوبیا دې نورې لیکنــې وکــړي ، لــه شعر لیکلو دې تېرشي اوکله چې یې ولیکه اوبیا پرې چادښــه او ناښــه انتقــاد وکړ ، نو خپه کېږي دې هم نه ، ځکه چې زمــونږ معاصرشــعر کــره کتنــې تــه ضرورت لري او یوازې له همــدغې لارې مــوږ کــولې شــو چــې خپــل پښــتو معاصرشعر دهنریت اوشعریت په ټوله مانا ښکلی او زړه راښکونکی کړو .
دی زیاتوي راځۍ چې کره کتنه په خپلو معاصرو ادبیاتو کې له دښمنۍ څخه د صمیمیت ، دوستۍ او وروروله په نښه بدله کړو او هم یې په معاصــرو ادبیــاتو کې رواج کړو . زه نوره خپله لیکنه همدلته بس کوم ، خو د خپلې جنتې ژبــې اوپه هغې کې د ښو شعرونو او پیاوړو شاعرانو د روزلو په موخه دابیت یــو ځــل بیالیکم چې پخوا مې هم په یوه لیکنه کې راوړیو .

تېل یې وچېږي خپلې وینې په کې زر واچوئ
چېرې مړه نه شي د جونګړو موډیوه ملــــــګرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ښه هغه چې د چا نوم په کې یادېږي

۱۳۲۳ لمریز کال د اسد د میاشتې لسمه ورځ وه. د سهار لمر خپلې لومړنۍ وړانګې د هېواد په لوړو، ژورو، ورو، ورو راخورولې چې د کونړ ولایت د دانګام ولسوالۍ د زوړ برول په کلي کې د سبد ملک په کاله کې یو ماشوم دې خاورینې نړۍ ته سترګې وغړولې. د ماشوم د زوکړې سره سم په کور کې د خوښۍ یوه لویه خوږه فضا جوړه شوه. ټول لوی واړه ډېر خوشاله وو. انسانان خو لا څه کړې چې د کور ټول چاپېریال هم خوشاله ښکارېده. تا به ویل دا هر څه کاڼي بوټي لکه چې روح لري او ټول روحاً خوشاله دي. پلار، مور مشره خور، ورور او نور کشران ټول په جامو کې نه ځایدل. هسې خو په هر پښتون پلار د زوی د پیدایښت غږ تر بل هر غږ او زیري ډېر خوږ او ښکلی لګي. خو د دغه ماشوم د پیدایښت د زیري غږ به د هغه د پلار په ذهن او فکر کې تر ډېرې مودې وروسته هم بیا بیا راغبرګېده. دا ماشوم زما د پلار خوری و. پلار خو مې زما له پیدایښته میاشت وړاندې له دې نړۍ سترګې پټې کړې وې خو هغه ته خپلې خور چې زما ترور وه د دغه ماشوم د زوکړې د ورځې کیسه تېره کړې وه. زما ترور چې الله رب العزت د انسان په جامه کې یوه پریښته د ځمکې پر مخ پیدا کړې وه (چې اوس د ښښنې شوې او الله تعالی دې پرې د خپل کریم او رحیم شان له مخې عذابونه اسان او غرق رحمت کړي) ماته په خپله خوله د خپل دغه وروستني ماشوم د زوکړې کیسه نژدې ۲۱ کاله وړاندې تر دې هم خوږه او په زړه پورې کړې وه خو زما په ذهن کې یې تر اوسه همدغه ټکي پاتې وو. دا نومیالی د هغې زمانې ماشوم او د نن کره پوره شخصیت، لیکوال، سیاستوال، لوړپوړی دولتي چارواکی د پکتیا ولایت مستوفي ښاغلی مفاد خان ځیر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الحاج مفاد خان ((څير)) د اروابناد ملک حاجي سېد خان مشواڼي زوی د پلار له طرفه د مرحوم ملک شال مشواڼي، او د مور له طرفه د اروابناد شهيد بازمحمد صواتي (چې د انګرېزانو سره يې د هېواد د خپلواکۍ په مخامخ جګړه کې د کونړ د بريکوټ د ارنوۍ د سيمې په تاريخي غزا کې د شهادت د جام په پورته کولو سره خپل سرلوړی ژوند پای ته رسولی) لمسی دی. په کوچني والي کې يې ديني او معمولي زده کړې د ليک لوست تر کچې د خپل مشر ورور شهيد حاجي محمد اکبر خان څخه (چې په ۱۳۵۸ لمريز کال د دلوې په مياشت کې يې د اسمار ولسوالۍ د انځرکوټ په سيمه کې د روسانو د سرو لښکرو سره په مخامخ جګړه کې د شهادت جام د تل لپاره نوش کړی) زده کړي بيا په ۱۳۴۲ لمريز کال کې د خوشال بابا په عالي لېسه کې شامل او په ۱۳۴۸ لمريز کال کې ترې په ډېره ښه لوړه درجه سرې سترګې فارغ شو. بيا يې د يو کال لپاره د کابل د غازي په لېسه کې د ښوونکي په توګه دنده تر سره کړه. له هغه وروسته د کانکور د ازموينې له لارې د لوړو زده کړو لپاره د صنعت د ادارې په انستيتوت کې شامل او د مالي اقتصاد په څانګه کې يې د لسانس درجه په ۱۳۵۲ لمريز کال کې ترلاسه کړه. دی د لوړو زده کړو د ترسره کولو وروسته يې بيا د کابل ولايت مستوفيت د تادياتو په څانګه کې د ماموريت لړۍ پيل او په ۱۳۵۳ لمريز کال کې د ولسي ژوند او ټولنيز دود دستور سره د بلدتيا او د خپل ښه ذکاوت له امله د وخت د لوړو مقاماتو د لزوم ديد له مخې د ننګرهار د نازيانو د ولسوالۍ د ولسوال په توګه مقرر او هلته يې په ډېر ښه برياليتوب سره دنده تر سره کړه دا ښاغلی د ولسي ستونزو د حل و فصل په لارو چارو کې ډېر ښه وځلېد چې يوه بېلګه به يې په لاندې ډول ياده کړم: هغه مهال د نازيانو ولسوالي يوه سرحدي ولسوالي وه چې خلکو يې عسکري خدمت ته غاړه نه وه ايښې. دولتي مقررات يې نه رعايت کول قومي شخړې او لانجې يې د ولسي رسم رواج په اساس د تيرې او ناغې په دوديز تړون حل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولې چې غیر موثره پایلې يې درلودې او د نقدي جریمو پر اساس يې د قتل و قتال او سرماتي، غاښ ماتي، مسایل د جرګــو مرکــو د لارې هــوارول، جنــګ جګړې په کې ډېرې وې هغه مهال نوموړي ښاغلي د ولسونو تر مــنځ د ورورۍ او یووالي د فضا د ټینګښت او پاینښت په موخه په صداقت او ایمانداری سره د مشورو او تفاهم د لارې قدم په قدم د تیــرې د ايښــودنې د رواج پــر ځــای دولتي مقررات د ولسونو تر منځ پلــې کــړل او پــه دوو ســترو ګــدوخېلو او سنخېلوتر منځ يې د مندتي د غره د ورشو پــه ســره شــخړه د۵۰ کــالو اوږده لانجه د جرګو په اساس د تل لپاره حل کړه او د هغه ځای د خلکو لــه خــوا د شینواري د ورور په نامه ونازول شو او په جرګو او قــومي غونــډو کــې بــه پــه همدغه لقب تل بلل کېده. دغه راز يې په ډېر ښه بریالیتوب ســره د ننګرهــار ولایت په کوز کونړ، پېچ دره او د سرکانو په ولسوالیو کې هــم د ولســوال پــه توګه دندې تر سره کړي او هغه تاریخ يې پر ښودی دی. همدا شان بیا ښاغلي ځیر د کورنیو چارو وزارت اړوند د فاریاب په ولایــت کــې د ســر شــمېرنې د عمومي مدیر په توګه هم دنده تر سره کړې ده چې دقیقې نېټې يې ماته سمې نه دي رامعلومې له هغې وروسته بیا په ۱۳۵۸لمریز کال کې د لوړو زده کــړو د وزارت په چوکاټ کې د دغه وزارت د پېژندنې (سوانحو) د کارمند په توګه هم ګمارل شوی او بیا د هغې زیاتې مینې له مخې چــې د ادب او فرهنــګ د نــړۍ سره يې لرله د (هېواد) د تاريخي ورځ پاڼې د تحریر هیت د غړي پــه توګــه د فرهنګ او ادب په لار کې ډېر خدمتونه کړي دي چــې د روڼ، مشــواڼي، ډاډه، ګولیزي، مفاد او ځیر په اصلي او مستعارو نومونو يې بې شــمېره لیکنــې لکــه لنډې کیسې، مقالې، لیکنې، کالمونه، طنزونه ادبي ټوټې فراګرافونه او ژبــاړې کړي دي سره له دې چې د غې لارې يې د خپل اولس او وطن خدمت تــه مــلا تړلې وه او نه يې غوښتل چې د قلم او کتاب د ابدي پر تم نه ګوښه ژوند وکړي مګر مسلک د جازبت په اساس د مالیې وزارت د مقام پــه غوښــتنه پــه ۱۳۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمریز کال کې یو ځل بیا د هغه وزارت په چوکـاټ کــې د ننګرهــار ولایــت د مستوفي په توګه تر ۱۳۶۸ کاله پورې په سپېڅلتیا کامیابۍ او بې طرفۍ مــالي چارې پر مخ بولي دي چې د ننګرهار د غیورو ولسونو تر منځ یې د ابرومندانــه ژوند خاطرې ژوندۍ دي همدا رنګه ښاغلی ځیر په کابل کې د خزنې تقاعد له لوی ریس په توګه تر ۱۳۷۲ کاله پورې رسمي دنده په بریالیتوب ترسره کــړې هغه وخت د دغه ریاست په غاړه د متقاعدینو شهیدانو او معلولینو د حقوقو د اجرایه چارې پرتې وې چې ورځ په ورځ یې وظیفوي حجم د مراجعینو د پرلــه پسې ډېرښت او د حقوقو د نوعیت د تفاوت په لحاظ مشکلات زېږول مګر دغه ستونزه د ځیر د ابتکاري وړاندیز په اساس د مالیې وزارت د مقام پــه ګړنــدي منلو او د متقاعدینو او شهیدانو او معلولینو د کاري څانګو او شکل په بېلــوالي سره چې جدا، جدا نهادونه وګڼل شول حل شوه او په دغه قــدم پورتــه کولــو سره یې د تقدیر بېدو په اساس فوق العاده ترفع هم ګټلــې ده پــه اخــري ذکــر شویو کلونو کې چې د وسله والو تنظیمونو د کورنۍ جګړې لمبو هــر لــور تــه سپرغۍ شیندلې او د سیاسي واکمنۍ د قبضه کېدو لوبــه لا ګرمېــده ښــاغلی مفاد خان پاکستان ته مهاجر او تر ۱۳۸۲ لمریز کاله پورې هم هلته مېشت و.

کله چې د بن د تړون په اساس په افغانستان کې د یو واحــد دولــت جــوړونې امکانات مساعد شو او وزارتونه بېرته فعال شو نو د مالیې وزارت د تعینــاتو د شپږ کسیز کمیسیون له خوا د ښاغلي ځیر تېرو کاري تجربو تــه پــه کتنــه د کونړ د ولایت د مستوفي په توګه وګمارل شو چې د صفر څخــه یــې د مــالیې چارو په تنظیم او بودیجوي مقرراتو په تطبیق کې اغېزمن ګامونه پورته کړل.

د ټولنیزو او سیاسي کړکېچونو حالاتو او سرو مال د خطراتــو د شــتون ســره، سره یې وکړی شول چې د مستوفیت د کارمندانو په وطن پرستانه همکارۍ د مالیې اړوندې چارې په بریالیتوب سره پر مخ بوتللي د کونړ په ولایت کې چې دولتي اداره ګډه وډه وه او د خودسرۍ او زورواکۍ فضا حاکمــه وه د اصــنافو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

درجه بندۍ پروسه د دولتي عوايدو د تحصيل په عرض د مقرراتو په اساس په عايداتو باندې د مالياتو د قانوني روند رواجول په خاصو تکتيکونو پرته د سرو صدا عملي کړی شو څرنګه چې د مستوفيت په کاري دفتر د طالبانو په واکمنۍ کې جومات جوړ شوی و او د دفتري کار لپاره يې ځای نه درلود په هغه ولايت کې د ابادۍ لپاره يې ځای نه درلود په هغه ولايت کې د ابادۍ لپهر د ځمکې د کم والي او نشتوالي ستره ستونزه وه مګر د نوموړي په نوښتګرو هلو ځلو سره يې د مستوفيت د دفتري کار لپاره د هغه ځای د اطلاعاتو او فرهنګ د رياست پخوانی تعمير چې په ښه ځای کې واقع دی په مناسبه بيه واخيسته او دغه اړتيا يې په وړتيا سره رفعه کړه. همدغه راز يې د مستوفي د سکونت لپاره ځای چې پخوا يې نه درلود د دولتي چارواکو لپاره په نوي ځانګړي شوي کلي کې د کور لپاره اختصاص او په ګوته کړ. ښاغلی ځير په ۱۳۸۵ لمريز کال کې د دغه ځای څخه تبديل او د فارياب ولايت ته د مستوفي په توګه ولېږل شو هلته يې هم خپله دنده يو پاک نفس او ريښتوني افغان په توګه په ښه وړتيا سره تر سره کړه او په اجرا اتو کې د صداقت او ښو کړو وړو له امله سر لوړی ژوند کړی او د پښتو او کونړوالې حيثيت يې اوچت ساتلی دی. بيا د ۱۳۸۶ ل کال په اخر کې د کابل د ګمرکاتو د عمومي رياست د مرستيال په توګه د لږ وخت لپاره په اول بس کې مقرر شو چې له لږې مودې وروسته بيا د وزارت د رهبرۍ د لزوم ديد له مخې د لويې پکتيا د مستوفي په توګه ولېږل شو چې اوس هم هلته بر حال مستوفي دی.

د ښاغلي ځير د ژوند نورې ځانګړنې:

الحاج مفاد خان ځير د تېر ژوند په کلونو کې د افغانستان د ژورنالستانو او ليکوالو د اتحاديو او سيمه ييزو فرهنګي ټولنود غړيتوب وياړ هم تر لاسه کړی او د دغه ډول نهادونو سره يې تل دوستانه او قلمي اړيکې لرلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ د وروسته پاتې ټولنې د انسان د ذهنیت د روښانه کولو او بېدارولو په لار کــې یــې د دغــه اصــل د لا پیاوړتیــا لپــاره رغنــدې هلــې ځلــې کــړې. همدا راز په لویه استراري جرګه کې یې د ټاکنو د لارې د خپلې د ولســوالۍ د خلکو په استازیتوب ګډون کړی.

په دغه انتخاب سره چې د قومونو د مشرانو د کلیوالو ونډو د محترمو نماینده ګانو د ملاتړ څخه په مننه یادونه کوي او ځان د قوم د احسان پوروړی بولي.

ښاغلی مفاد ځیر سره له دې چې د مهاجرت د تودو سړو بې وسۍ او غربــت د ژوند نه ستړی و مګر دا چې د یو عام اقتصادي مشکل با وجود یې هېڅ ځواک او هېڅ چاته د مادي ګټو لپاره سلام نه دی اچولی او د بلې خوا د هغــه ځــای د شریفو خلکو د انساني پېرزوینو او ښه سلوک په ځانګړي توګــه د ثمــر بــاغ د تحصیل د کامبټ د کلي د ولسونو څخه زیات راضــي دي او د خپلــو نېکــو او انساني کړو وړو له امله چې د ورور ګلویزو اړیکو پر بنسټ یې د خلکو په مــنځ کې ځان څرګند کړی ویاړ لري.

د ښوونې او روزنې سره خاصه مینه لري په دې عقیده دی چې که پــه هېــواد کې د سواد نعمت عام شي او د وطن د ازادۍ او سر لوړۍ دښمنان پــه خپلــو سنجشونو او دسیسو پلمو کې ناکام شي او د هېواد وګړي پــه پوهــه او علــم سمبال شي نو د سوکاله او خوښ ژوند لرونکي به اوسي نوموړی په دې هم ډېر ویاړي چې د ښوونکي په توګه یې د هېواد د معارف په سپېڅلې غیره کــې یــو مهال څه ناڅه خدمت کړی دی.

هغه په دې هم زیات ویاړي چې د قرآن کریم د لومړیو (۷) سیپارو زده کړه یې د تفصیل، تفسیر، مانا، او ترجمې سره کړې ده دغه ښاغلی پر خپلــې مــورنۍ خوږې ژبې پښتو سربېره په دري، اردو، انګلسي، او تر یو حده په عربــي ژبــه باندې هم پوهېږي او د دیني چارو په برخه کې هم د پام وړ مطالعه لري دی یو زیاکښ په تقدیر معتقید شخصیت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زلمیتوب کې یې د خپلو رمو شپنکي توب او د خپلــو پلرونــو ســره یــې د ځمکو د بزګرۍ د کر کیلې په چارو کې هم مرسته کړې او په دغه چاره کې هم ښې تجربې لري.

په قومي دودونو ډېر ښه پوهېږي د جرګو مرکو هنر یې هم ښه زده او د لانجــو په پرېکړو کې خاصه تجربه او مهارت لري د سپورتي نړۍ سره ډېره مینه لري او د فوټبال او والیبال لوبې یې یو مهال ډېرې ښې زده وې د موسیقۍ د هنر په نړۍ کې شپېلۍ او ستار غږول ښه زده دي.

صادق بې کینې متواضــح پــه خپــل قســمت قــانع ریښــتیا ویــونکی ســوله غوښتونکی متدین په قول ولاړ، پاک نفس، خواخوږی او مســلمان شخصــیت دی. دین او دنیا دې ګلزار وي.

او په پای کې ورته د خوشال بابا دا بیت ډالۍ کوم چې وایي:

ښه هغه چې د چا نوم په کې یادېږي
په فاني دنیا به نه وي ژوندی تل څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شعرونه که مېرونه

**د ډاکټرې تورپیکۍ الم یلدا دوې شعري ټولګې (!!)**

**یوه په بله پسې کال پس راووتې. لومړنۍ یې (د وخت یادونه) په ۱۳۸۴ ل کــې د پارلما نې ټاکنو له ټاکلې نېټې میاشت وړاندې چاپ شوې وه، اودویمه یــې (د یادونوپه مزاردې ډېوه څکه بلومه) د ۱۳۸۵ ل کال د زمرې په میاشت کــې لــه چاپه راووته ما دغه دواړه ټولګې (!) له سریزو نیولې، بیا تروروستیو پېژنــدپاڼو لوستې.د یو ښه شعر یا شعري ټولګې له لوستلو وروسته شاعر ته د شعر لیکلو یو الهام کېږي یا لږ تر لږه د شعر لوستلو سره یې لېوالتیا بزیاتېږي، خو له بــده مرغه چې د څه وخت لپاره یې زما د شعر لوستلو او شعر لیکلو ذوق را خــراب کړ.**

**ما ددې دواړو ټولګو د لوستلو پر مهال د خپل همېشني عادت له مخــې هڅــه کوله چې ښه شعرونه او بیتونه یې په نښه کړم خو له بده مرغه چې تر پایه مې داسې یو بیت په کې پیدا نه کړ چې یوه شېبه مې د هغه په مــانیز او ښــکلاییز تصور کې سر په زنګانه کړی وای. پر دغو دواړو شعري ټولګو څو تنو قلموالو د سریزو په نوم څه لیکنې هم کړې دي چې نګه ستاینې او بې حقیقته صــفتونه یې بللی شو. یوسریزوال خو ترې ببخې نه ډډې ته کېږي او په دواړو ټولګو کې لکه سیوری سم ورسره روان وي د لیکلو طرز یې هم تغیر نه کوي. دا ښاغلی، ستر لیکوال (!) ښاغلی اسد الله ((لاروی)) دی. نوموړی صیب د آغلې الــم پــر دواړو ټولګو د سریزو لیکوال دی. پر لومړۍ ټولګې د سریزې سرلیک یــې دی (( یو څو کرښې)) پدې وخت او دې حالاتو کې، چې هر طرف ته کرکه، نفرت او بدبیني زیاته ده، خو دې ټولو سره، سره ډاکټره تور پېکۍ الــم د یــو سمســور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**افغانستان په هیله او امید خپل ورونه او خویندې ملي یــووالي، وحــدت، ورور ولۍ او اتفاق ته رابولي...**

**خو کله چې کال پس د یادې ډاکترې دویمه شعري ټولګه چاپېږي، بیا هم پرې لوی لیکوال لاروی صیب سریزه لیکي او لیکي: ((او بیا هم یو څو کربنــې))!! ...**

**د ډاکترې تور پېکۍ الم د دویمې شعري ټولګې پــه هکلــه بایــد ووایــم چــې اکثریت شعرونه یې ډېر زیات ښکلي، د تصویر او معنا لرونکــې دي او پــه هــر شعر کې داسې پیغام پروت دی**

**چې لوستونکی یې په یو ځل لوستلو باندې نه یوازې په پوره پیغــام پــوهیږې بلکې د لوستونکي په زړه کې د بیا ، بیا لو ستلو تلوسه راپاروي )) دڅو کرښو د سریزې لیکونکی ( لوی استاد !! له دومره لوړې خاکسارۍ نه په خپلــه لیکنــه کې کاراخیستی چې په هېڅ یو غزل یــا یــو بیــت د ( خــو) ګوتــه نــه ړدي او همداسې د ستاینو بې شمېره څپې دي چې یوه په بله پسې تکراریږي.**

**په ټولګیو دوه نورو لیکوالو هم لیکنې کړي چې له نېکــه مرغــه د هغــوی لــه سترګو یې کمزوري، بې وزنه او بې مفهومه شعرونه پټ شوي او که داســې نــه وای، نو باور لرم چې ضرور به یې په خپلو سرلیکنو کې په ګوته کړي وای، دغه دواړه ټولګې ډېرې زیاتې نیمګړتیاوې، بې وزنۍ، املایــې غلطــۍ او پــه لویــه پیمانه کمزورۍ لري چې په دې لیکنه کې به یې په مستند ډول وړاندې کــړم.**

**لومړی دا چې ماته د وخت یادونه شعري ټولګه کې د ډېرو نېمګړتیــاوو ســره، سره یوه ډیره لویه (نادره) دا ښکاره شوه چې په دوو شــعرونو کــې یــې د دوو نورو پېژندل شویو شاعرانو اروابناد الفت صاحب او حسین احمد صادق د یــو، یو شعر پوره، پوره کاپي که نه وي، نو د مانا او قافیې له مخې خو بالکل په تــول پوره او په امانتدارۍ را اخیستل شوي دي، یا لږ تر لږه د ټکو او کلمو د ځــایونو په بدلون، زیاتولو او کمولو سره نور په هماغه قافیه او ردیف لیکل شوي، لکه د الفت صاحب داشعر :**

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختيار مې د ځان نشته دی، د جبر په مــذهب يم
دادا مې خپلې خوښــې او رضا ته نـــــــــه پر ېږدي
هېڅ نشمه ويلـــی چې په کـــوم کور کې به ســوزم
زمــا د زړه لاليــه څــوک مــې تا ته نــه پــر ېــــږدي

او اغلې تورپيکی ليکي:

د زړه ماشوم مې مستي غواړي ما تقوا ته نه پر ېږدي
دوې ستــرګې لتهول کــړي ما حياته نــه پريــږدي
د مينـــې بادشاهان که د خپل حسن خيرات وکړي
درو ېــزګر ظالــم دربان ستاو درګا ته نه پــر ېږدي

نوره پريکړه پرې لوستونکو ته پرېږدم، خو ټولو هغو همدغسې شاعرانو ته بــه دومره ووايم چې که په خپله ناخبره ياست، نو نورو ته د ناخبرو په سترګه مــه ګورئ. بل د کوزې پښتونخوا دوتلي شاعر حسين احمد صادق داشعر، چې:

دا بتکي بتکي چـــې ښکاري
دا زمـــا د جـــانان کـــــــوردی
دا خيــــرن کـــــور به صـــادقه
شيش محل باندې ورنـــکړم
هاغــــــــه دلته کې اوسيږي
چـــې زمـا د زړه ټکــــــوردی

اوآغلې الم يلدا ليکي:

هورې سيمه چې ښکارېږي ځايه ځای په لوګي تور دی
د افـــغان هــا کلــی کــور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شور ماشور تر ښه جګيږي هر يو کور د غم انګور دی**
**د افغان ها کلی کور دی**

**محبت کډه اخيستې او س ټوپک په ولو سور دی**
**د افغان ها کلی کور دی**
**کشـــمالي پــه بلۍ نشـــته له بــليو ســنګر جـــــوړ دی**
**د افغــــان هــا کلی کور دی**
**علميت او امن څه چې انسانيت يو لوی پېغور دی**
**د افغان ها کلی کور دی...**

**په شعر او شاعرۍ کې له يو بل نه متاثره کېدل يا يو د بل تر اغيز لاندې راتلـل څه نوی خبره نه ده، خو کټ مټ پردی شعر په هماغه قافيه، رديف او ســېلابې وزن ليکل دا نو بيا ډېره لويه بې شرمې څه چې، لويه سپين سترګي ده. او بيــا په دومره لوړ هنر او ژور سوچ سره چې زموږ اغلې شاعرې شاعري کړې نو بيــا خو واه واه!!!**

**دلته چې د الفت صاحب او صادق له شعرونو هر څه اخيستل شوي يا پــه بــډه شوي، هغه پر خپل ځای دي، خو يوه بله کمزوري او ښــوېدنه يــې دا ده چــې ځومره بېخونده او بدرنګه ليکل شوي او د شعر په نامه تحويل شوي، لکه:**

**د مين بادشاهان که د خپل حسن خـــــيرات ورکړي**
**درو ېـــــــزګر ظالم دربان ستاو درګاته نه پر ېږدي**

**ښه نو، اوس تاسې ښاغلي لوستونکي وواياست چــې دغســې شــعر او دا ډول بيتونه څه مانا؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

او چې مانا نه لري، نو خوند، رنګ او ښکلا به يې له کومه شي چې د څو کرښــو ليکونکی لوی استاد (!) وايي:
(( که آغلې يلدا شعر ليکلو ته همداسې دوام ورکړي، ډېر ژر به د هغو ګوتو پــه شمار شاعرانو په قطار کې راشي چې تر اوسه يې د قلم کارنامې پــه نســلونو، نسلونو کې ژوندۍ پاتې دي، د څو کرښو د وتلي ليکــوال د خبــرو د لا پخلــي لپاره د تورپېکۍ ډاکټرې هغه شعر يوځل بيا تکراروو:

هورې سيمه چې ښکاريږي
ځايه ځای په لوګي تور دی

که خبره نوره هم لږه صفااو ريښتيا وکړم، نو دا د شعر په نامه کرښه يې له نورو ډېرو بدرنګيو سره، سره دا بېخوندي او غلطي هم لري چــې کــه (ســيمه) پــه ريښتيا توره وي، نو د پښتو ژبې جوړښت او ګرامر ته په پام سره بايــد (تــوره ده) وويل يا وليکل شي، نه دا چې تور دی.
آغلې الم ته د دغو نورو شعرونو په هکله د نړۍ د يوه ســتر ليکــوال دا خبــره راوړم چې وايې ((که نړۍ هماغه ډول وګورئ چې يوه بل شاعر بيان کــړې وي، ښه به داوي چې خپل وخت او زموږ وخت ضايع نه کړئ، ځکه له همدغه ځايه څرګندېږي چې شاعر نه ياست)) د نوموړې شاعرې (!) د دغسې بې وزنو، بــې مانا او بې خونده شعرونو بېلګې په دواړو ټولګو کې زښتې زياتې دي چې دلتــه به يې له خوارونو، يو څو موټی راواخلو:

د ژوند په بازاره کې مې هر څه خرڅــلاو ليدلي
ليدلي مې خو نه وو، ګوندې مينه په بازار شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه نو، اوس ته ښاغلي وواياست چې دا شعر دی او که هسې ببولالې!؟ يا دا په شعر ملنډې وهل نه دي؟ د شعر په نامه بې مانا او بې مفهومه خبــرې نــه دي؟ ياهسې ساده شډلي، ګډې وډې او بې مطلبه کرښې نه دي؟ او چــې همداســې دي، نو بيا خو دغسې سرسري عاميانه خبرو ته شعر ويل ظلم دی، د شعر نه د لوستونکي او اوريدونکې د زړه د مينې سرڅدل دي. د وخت يادونه او د يــادونو په مزار دې ډيوه ځکه بلومه، د دې دواړو ټولګو ټول شعرونه هسې هغه دغه د زړو ښځو خبرې دي، چې د وښو، سبو اويا نورو وزګاريو پرمهال يې يوه له بلې سره کوي او همدا راز هيڅ ډول ښکلا، صــميميت، هنــري تخييــل او شــعري واقعيت په کې نه ليدل کيږي ،خو بيا هــم د ((څوکرښــو)) د ليکنــې نوميــالی ليکونکی!! پرې ليکي: ((چې د يلدا اکثريت شــعرونه د لــوړې مانــا اوعــاطفې لرونکی دي))

څو نورې بېلګې

مـــــا به هــــــيڅ ژوندون ته يار نه وا ی ويلی
که مې يوه ورځې په شونډو کې مسکا شوه

×××

لرې پېښو ته يې د کور مېرمنه ناسته
لکه شمعه چپ زړګی او ځان يې سوځي
د يلدا قلم د خپلې لمن اور واخيست
د بېداد په شرارو کې به ځان ســوځي

×××

داسې ژوند نه مرګ ډېر لوړه مرتبــــه کړي
چــې له داره غليم ساتي سترګو تـــور کې
زه يلـــدا د دې پښتــو ځنـــې توبه کـــړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ســـر کوزي په شان ژوند کوي پېغور کې

×××

زړه شمعې په شـــان سوزي بې تابه اوښکې ګوره

اوس پوه شوم لېونی ولې ګرځي خیرې ګر‌ېوانه

×××

پښتونه تانه مې ګیله پا تې شو

د پښتنو شمله کږه پاتـــــــې شـــو

لر بــــــر پښتون چې یلدا اوسنجو

د پښتنوالي نه یې توبه پاتې شو

د تورپیکۍ په دغسې خوږه رنګینه(!) او غزلیزه شاعرۍ کـــې دا رنګــه نـــادرې بېلګې ښې ډېرې دي!! خو بیا هم ورته د نړۍ د یوه ستر لیکوال شاعر او نقـــاد (راینرماریاریلکه) داخبره کول غواړم، چې وايي: (( .... د نن ورځې ډېر ناوړه او زیان لرونکي کتابونه، نه یوازې دا چې د یو ځل لوستلو ارزښت هـــم نـــه لـــري، بلکې د سوزولو وړدي)) دی زیاتوي ((دغه ډول شعرونه بایـــد وســـوزول شـــي، ځکه چې دغسې شعرونه په لوستو نه ارزي اوباید شاعر یې وپوهول شي (کـــه شاعروي!) چې دغه خبرې شعر نه دی... او هغه څوک چې نه ښه شعر پیژني او نه یې لیکلی شي، ښه خبره دا ده چې له شاعرۍ ســـترګې پټـــې کـــړي او لاس ترې واخلي او په دې باید هم پوه شي چې له شعر لیکلو پرته هم ژوند کـــولای شي...)) د وخت یادونه او د یادونو په مزار دې ډېوه ځکه بلومه) شعري ټولګـــو کې پر غزلو سربېره د ازادو شعرونو په نوم هم ښه ډېر بېلابېل سرلیکونه شـــته چې یو څو بېلګې به یې دلته د خولې د خوږولو او ذهن تســـکینولو پـــه موخـــه رابېلې کړو!! لکه د (بابالټوم) دا شعر:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پښتو بچی یم د احمدشاه لمسی یم**
**زه خپل بابا لټوم، چېرته به یې پته وکړم**
**چېرته به یې لټه وکړم**
**خپلواکي:**

**د ړندو په یو ښـــار، چې ښـــکلا و بې مفهومه**
**د پایزیب شرنګ سرخوړلی، شور ماشور د زولنو کې**
**د دې ســـیمې ټول وګـــړي، په امساوو متـــکي وو**
**ښایـــــې دوی چـــې خـــــپلواکي نه پېژندله**

**استقلال ورځ:**

**ای افغان یتیم ملته، ژاړه، ژاړه تسل نشتـــــــه**
**چـــې بـــې باکو تـــه شـــوې پاتـــې**
**شـــــــا زلـــــمی د وطـــــن نشته**
**خـــــپلواکـــــــي یـــــو افسانه شــــو**
**د احــــــمد خــــــاورې شــــــمله شو**
**د میـــــــــــوند میدان ډېر سوړ دی**
**دایــــوب نښـــــانه نشــــــــــــته ...**

**بندي:**

**کـــه هر څو فلک تړلـــــــــی**
**د تقـــــدیر پـــــه زولنو یم**
**خو چې ستا مینه رایاد شـــي**
**له هـــــر بنده شـــــم ازاده**

**ډیوه:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـــــه د خــــوب په شانې راغـــــلې
شوې د سترګو نه مې زړه ته را دننه
بيـــا د اوښـــــکو پــــه شان ولاړې
د يــادونو په مزار دې ډيوه ځکه بلومه

ازلي ليکنه:

زما د تقدير کتاب کې دا ليکلي وو چې
زړه د مينې حريم نه شي کېداى
خو مينې زړه حريم کې دا ليکلي وو
مينه تقدير ته بندې نه شي کيداى

سېلاب وهلي:
زما د اښکو فوارې
په سخته تېره باندې
که اوس اثر نه لري
خو زما له مرګه وروسته خلک به وايي چې
دا تيږه هم باران وهلی
يادونه:
ځاى په ځاى ستا خاطرې دي
ستا د مينې نښانې دي
ستا يادونو اوس په زړه کې
جوړې کړې هديرې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او داسې نور ډېر زيات چې د (ځو کربنو) د ليکوال په وينا په يو ځل لوستلو پرې د سړي تنده نه ماتيږي(!!) خو ماته پرې زما د يو ملګري خوخبرې راپه زړه شوې چې شاعر هم نه دی، خو خبرې يې راته ښې او پخې ښکاره شوې چې يوه ورځ يې راته په څه خبروکې وويل: ((هلکه اشنا! دا تاسې شاعران چې ورته ازاد شعر وايې، دا خوماته هسې څه ګډې وډې ساده خبرې ښکارې او که دا شعر وي، نوددغسې شعرونو ليکل خو زه په ورځ کې تر زرو هم اړوم)) اوبيا يې راته وويل: ((ګوره! که نه، يو ازادشعردرته وايم !))

هی، هی د مينې په درياب کې
مې ځان ښه وغورځاوه
يخني وه ډېره سخته
زر تې ببړته وچې ته راوختم ...

او د دغو خبرو سره چې هغه ورته د شعر نوم ورکړ ماهم ښه وخندل، خو نور مې ورته هېڅ ونه ويل، په ريښتيا چې ايا دغسې بې منطقه او بې ترتيبه خبرې او جملې شعر کېدی شي؟

نه، هېڅکله هم داسې نه ده، نو دغه د ازادو شعرونو په نوم ليکل شوې کربښې څه ښکلا او مانا لري او د کوم احساس او عاطفې له مخې ليکل شوې؟ لکه د بابا لټوم په ليکنه کې (چرته به يې پته وکړم، يا د خپلواکۍ په ليک کې دا کربښه چې: د ړندو په يو ښار کې چې ښکلا و بې مفهومه)... ځومره بې مفهومه او بې مانا جوړې شوې کلمې دي چې د ټولې ليکنۍ ببخوندۍ سره، سره هېڅ شی ذهن ته نه ورکوي او تر ټولو لويه نادوده يې لا دا چې د خپلواکۍ د يوې لويې مانا لورنکې کليمې سره په دومره سوليدلو او بې مفهومه الفاظو چلند کول دا نو ډېر لوی ظلم دی زما استاد به ويل: ((دازادۍ مضمون او ايډيال او د خپلواکۍ د مفهوم خيال بايد د شعر په داسې مهينه او اهنګينه ژبه بيان شي چې د عاطفې احساس تړون او خوږوالی يې دومره خوږ ولېږدول شي چې ويده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويښ کړي او ويښ خوب وزنګوي، نه داچې ... د افغان يتيم ملته، ژاړه ژاړه بــل کارمه کړه، ځکه چې هر څه په سين لاهو شوي، هيڅ نشته او مورډ ټول په خــلا کې ژوند کووا!! او بله لا په کې دا ببخوندي چې ((خپلواکي يوافسانه شو د احمد خاروې شمله شو)) د سېلاب وهلو کرښو ببولالې: زمــا د اوښــکو فــوارې پــه سخته تېږه باندې که اوس اثر نه لري، نو زما له مرګه وروسته به خلــک وايــې چې دا تېږه هم باران وهلې(!!)او همدغسې نور په لسګونو شهکارونه چــې نــه خوند لري او نه رنګ، يوازې د پولې پټي د سر خبرې دي چې کليوال بزګــران يې هم دومره پيکه ببخونده او بې مقصده نه کوي.  پــه هــر حــال بيــاهم نــور قضاوت پرې لوستونکيو ته پرېږدم او که چا نه وي لوستلي، نو باورلرم چې ډېر به يې زما د دې ليکنې وروسته راپيدا او ولولي، خو زه ورته په پای کې د نړۍ د يو ستر منتقد (تي اس اليود) دا يادونې راوړم چې وايي ((د شاعر په قلم او ژبه بايد د ولس ادبيات او ژبه غني شي اود شاعر ستر مسؤليت همــدا دی چــې د ژبې پر وړاندې د شعر هره کلمه بايد حسابي وکاروي او د شعر هر نوی مفهــوم يې بايد د هغه د ژبې د غنا او بډاينې لپاره يو معتبره پانګه وي، هغــه زيــاتوي: ((خپله ژبه له هغه شکل څخه چې وه، په پراخه، پاکه او دقيقه توګه راتلونکيو ته سپارل، دا دی د شاعر په عنوان د شاعر ستر او ممکن برياليتوب.)) او چــې داسې ده، نو د آغلې ډاکترې تور پېکۍ الم  په دواړو شعري ټولګــو کــې نــورو ډېرو نيمګړتياوو سر بsېره د ژبې املايي او ګرامري خوا تر ټولو ډېره کمزوري او د پام وړه ده هيله ده چې په راتلونکي کې ورته پوره، پوره پاملرنه وکړي. بل دا چې له هر لومړني کار سره نيمکړتياوې او تېروتنې ملې وي، خو دومره هــم نه چې هر څه د هېڅ او نشت له ګواښ سره مخامخ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اول زده کړه، بیا کوژده کړه

دا دی د افغاني فرهنگ د بډاینې په ډگر کې یوه بله زیاتونه هم وشوه، دا زیاتونه په ننگرهار کې د ((سالو)) په نوم مجله ده چې د ۱۳۸۶ لمریز کال د غویي د میاشتې په ۱۷مه یې د یوې غونډې په ترخ کې د ننگرهار د فرهنگ او ځوانانو د ریاست د غونډو په تالار کې د پټې په پرېکولو سره د چاپ کار پیل شو. څرنگه چې هر لومړنی کار له نیمگړتیاوو خالي نه وي، دا مجله هم ډېرې تېروتنې لري چې موږ یې په لاندې ډول شمارو.

عمومي ځانگړنې:

د دې مجلې مسؤل مدیره ډاکتره جمیله سیدي ده او د امتیاز څښتنان یې په ختیزو ولایتونو کې د ښځو چارو ریاستونه ښودل شوي دي. مجله په ۴۰ مخونو کې په ډېر لوړ بیه کاغذ کې چاپ شوې چې په هېواد کې به ډېرې کمې چاپي خپرونې په دغه ډول کاغذ کې چاپېږي. خو کاش! چې د لیکنو موضوعات یې هم په هماغه پیمانه ښکلي، نوي او د لوړو ماناوو لرونکي وای چې دربغه لیکنې یې د مانوي ارزښت او ټولنیز اهمیت له مخې د ډېرې ټیټې کچې لرونکي دي او نه یوازې دا چې ډېرې سولیدلې، کربدلې او زنگ وهلې لیکنې دي. د ژبنې، نثري او گرامري جوړښت له لیده هم په ډېر ببخونده ډول لیک او تیارې شوي چې د هر کارپوه لوستوال خو ترې په لومړیو درې، څلور کرښو لوستو کې زړه سرېږي او نور یې هسې خوشې چټې پاڼې نه اړوي، را اړوي.

د نامه ژبنی اړخ:

که چېرې د مجلې پر پښتې د لیکل شوي انگریزي نوم (sallow) ته په ځیر وکتل شي، نو د پښتو له نوم (سالو) سره نه پخلا کېږي یانې په دې مانا چې د ((سالو)) واو (و) څرگند او دروند واو تلفظ کېږي او د انگرېزی sallow هغه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوږد واو غونډې ویل کېږي او دا د مجلې د خپل تلپاتې نوم نیمګړتیا ده. د سالو انګرېزي بدیل باید ((saloo ،salu)) راغلی وای او کنه داسې هم کېدای شول چې فونیتیکي الفبې (phonetic Alphabet) څخه کار اخیستی وای چې فونیتیکي الفبې کې د سالو بدیل (salu) کېدلی شي یانې د a اوu پر سر باید زور (( ـــــ )) راوړل شي.

د پښتو یاګانو پر ځای نه کارول او شعري نیمګړتیاوې:

د ((سالو)) مجلې دغه نیمګړتیاوې هره یوه په خپل وار سره څېړو، خو لو مړی یې د پښتو یاګانو د پر ځای نه کارولو نیمګړتیا تر ټولو نورو نیمګړتیاوو ستره ګڼم او دا ځکه چې له یوې خوا په پښتو لیکدود کې د یاګانو پر ځای نه کارول مانا هم بدلوي او له بلې خوا په ټوله مجله کې یاګانې په سم ډول نه دي کارول شوي، لکه د (( اسلامي افغاني ټولنه او له اسلام...)) د مطلب په متن کې لاندې کلیمې او جملې ((یو ځلی، میږه، ژوند تیر کړي، کولاي شی، د ښځي په حق کې ډېر دقت په کار دی، هیڅکله، نجلي، کینښني، داسي، پیښني رامنځته شوي، کیږي)) او په سلګونو نورې ورته بېلګې چې همدغه یې له خرواړونو څو دانې وې او دا یې لا څه کړي!! چې په لویه پښه (!) یې د ځینې شاعرانو شعرونه بې وزنه او بې مانا کړي، لکه د اسدالله زمري دا شعر چې:

زه په خزان وهلو کې بهار وینم

سپېرو ایرو لاندې پټ شوی سور انګار وینم

چې کېدای شي د لومړۍ مسرې پاتې ټکي به ((زړونو)) وي لکه: ((زه په خزان وهلو زړونو کې بهار وینم.)) یا لکه د شمسزي د شعر دا مسره: (( ته هم ډوکیږې مازدیګره راترغاړې وځه)) چې زما په ممکن ګومان له آره به داسې وي: (( ته هم ډوبېږې مازیګره! راتر غاړې وځه.)) خو داسې بریښي چې د ((سالو )) خپروونکو هر څه له سره تېر کړي او ټول خیال او اند یې د خپلو جېبونو د... په سوچونو ... او د مجلې مانوي او ټولنیز ارزښت ته یې هېڅ پام

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی نه دی...؟؟ خو خیر په هر حال! انسان کمزوری دی او ورسره، ورسره نفس هم ډېر ظالم خیز دی !!؟ یا د درویش دراني نوم او شعر چې نوم یې در ((ویش)) لیکلی او په مجله کې یې د راغلي شعر نیمګړتیا داسې ده:

زه یم یو زخم، څکه مالګې دوړولې هر چا

ربم یو ګل څکه ملګري د خزان دي خلک

چې کېدای شي له آره به دا بیت داسې وي:

زه یم یو ګل، څکه ملګري د خزان دي خلک

همدا شان د دې مجلې د ډېرو نیمګړو، بېخونده او بې مفهومه مطالبو له لیکې یوازې د ((سینګار یا مکمل نظافت )) مطلب تر کتنې لاندې نیسو او په دې ډول یې بېلګه وړاندې کوو: (( د یوې ځواني نجلۍ یا ځوانې ښځې د عمر په مطابق سینګار، ځان ته د پاملرنې او د هغې ثلیقه د ژوند په ټولو چارو کې ښیي. که په ځیر سره وکتل شي یوی ځواني نجلۍ چې خپل نظاقت او سینګار ته په صحیح ډول پاملرنه نه کوی نو په یقین ویلای شو چې دغې نجلۍ خپل شخصیت او ټولنیز دریځ ته هم پاملرنه نه کوي چې دغه بې تجهي هغې ته یو لوی زیان بلل کیږي. او که چیرې هغې نجونو ته چې خپل نظافت او سینګار ته پاملرنه کوي وکتل شي نو مالومیږي چې د نظافت تر څنګ د خپل تولنیز دریځ او شخصیت ته هم د ودې ورکولو په هڅه کې دي، په دی ډول یوه مستقیمه اړیکه د مناسب او ښه سینګار او شخصیت تر منځ موجود ده چې باید له پامه ونه غورځول شي....))

لنډه دا چې د(( سینګار....)) مطلب هېڅ ډول منطقي ترتیب، نثري خوږوالی او د جوړښت له مخې تسلسل نه لري، هسې د کلیوالو یا عامو خلکو ګډې وډې خبرې دي چې د هر لوستونکي د وخت له ضایع پرته نور هېڅ نه لري. که د ټولې مجلې د لیکنو د استازیتوب په ډول پورتنۍ لیکنه وکتل شي، نو ویلی شو چې نکته ایښودنه punctuation یې هم هېڅ نه ده مراعات شوې او په ډېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځایونو کې یې دوې کلیمې په زور سره یو ځای کړي چــې بایــد ببلــې، ببلــې راغلې وای چې دا د کمپوزر یا د اېډېټر نیمګړتیا ګڼلی شو.

ژورنالیستیک اړخ:

الف- سرلیکونه: د دې مجلې سرلیکونه د ژورنالیزم د سرلیک لیکنې د مېتود له مخې جوړ نه دي یانې که چېرې ورته په ځیر سره وکتل شي، نو سړی ویلی شي چې دغه سرلیکونه د شمس النهار له خپرونې سره هم پرتله کېدای نشي، کومه چې د افغانستان د ژورنالیزم په تاریخ کې لومړنۍ خپرونه بلل کېږي. بل، سرلیکنه چې د هرې خپرونې پالیسي یا په بله وینا فکــري نظــر څرګنــدوي، سرلیک نه لري چې باید سرلیک یې درلودلی وای. نن سبا کــه هــره خپرونــه ولیدل شي، نو خامخا په یوه ځانګړي ځای کې، نښان او.... تر څنــګ ســرلیک هم لري. که د سالو دربیم مخ ته وکتل شي، نو دلته هم لیکنــه پــه زوره دوې ټوټې شوې او دوه سرلیکونه ( له اسلام څخه دمخه او وروسته د ښځو مقام او مرتبه، د اسلام مبارک دین په راتګ سره د ښځو مقام او مرتبه) ورکــړي دي، دا هم کېدلای شول چې دغه لیکنه یوه وای او تر یوه سرلیک لانــدې راغلــې وای او دا هم کېدلای شول چې دغه دواړه سرلیکونه تر غټ سرلیک لانــدې د فرعي سرلیکونو په توګه راغلي وای. همدارنګه لومړی سرلیک کېــدلای شــي چې د دویم استازیتوب هم وکړي، ځکه چې په لومړي سرلیک کې هم دا ویــل شوي چې: ((له اسلام څخه دمخه او وروسته....)) نو بیا ولې په دویــم ســرلیک کې: ((د اسلام مبارک دین په راتګ سره....)) راوړل شي، حال دا چې هلته یې هم یادونه شوې ده. د اووم سرلیک (( پوهنیار شیلا بابری لطفا شــما در مــورد تاریخچه امور زنان ولایت ننګرهار معلومات ارائیه کنید و ضمناً یاد آور شــوید که در چند بخش فعالیت میکند.)) د یوې مرکې د یوې پوښتنې شــکل لــري، خو په پای کې یې د پوښتنې نښه راوړې نه ده او لیکنه هم د مستقیم نقل قول Direct Quote په توګه راغلې چې باید یو بل بدیل سرلیک یې درلــودلی وای،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو... که اتلسم مخ وکتل شي، نو د (( مورنۍ مړینــه یــا (Maternal Death) لــه سرلیک سره به مخ شئ چې دا په خپله له سرلیک سره لوبې کول دي. دا چې سالو په پښتو او دري لیکنې لري او همدارنګه ترې د لاندې لیکنه چــې مرکــه ده، سرلیک یې د پښتو تر څنګ انګریزي هم لري چې باید یوازې پښــتو وای، نه دا چې انګریزي ورسره وي. که چېرې دغه لیکنه ښوونیزه وای، نو بیــا یــې باک نه کاوه، ځکه چې د لوستونکو لپاره به ګټوره وای او د لیکنې تر څنګ بــه یې اصطلاحات هم یاد کړي وای. که سرلیک یو ځل بیا د مفهوم له مخې وکتل شي، نو ((مورنی مړینه)) پر ځای به دا ښه وای چــې (( د زېــږون پــر مهــال د میندو مړینې )) راغلې وای، ځکه دغه لیکنه هم له همدې موضوع څخه بحــث کوي. مورنۍ مړینه کېدلای شي چې د یوه چا لخوا داســې وویــل شــي چــې: ((مورنۍ مړینې یا د مور مړینې مې ډېر خفه کړم....))

ب- ژورنالیستیک ژانرونه او سکالوییز

(موضوعي) اړخ: هره چاپي رسنۍ او کتاب په ځانګړیو ځایونو کــې لیکلــړ یــا فهرست لري چې سالو مجله یې هم لري او د لیکلړ دنده دا ده چې لوستونکی په اسانۍ سره وکولای شي چې د خپلې خوښې لیکنې پیدا او په نښه کــړي. (( سالو)) ګل د خپلو سرلیکنو او مخونو د ښودلو تر څنګ ځېنې انځورونه هــم راوړي چې دا یې یو ښه کار کړی، ځکه چې د لوستونکو په زړه راښــکون کــې ښه کار ورکولی شي، خو لړه نیمګړتیا هم لري او هغه دا چې هره چاپي خپرونه د سر لیکنې تر څنګ یو ځانګړی نښان هم لري خو له بده مرغه چې سالو جان یې نه لري د اووم مخ لیکنه یې لکه د مخه چې یادونه وشوه پیــل یــې د یــوې مرکې د یوې پوښتنې ښه او مفهوم لري خو ځواب یې یو دی او ویلی شو چــې یوه نیمګړې او په نشت حساب مرکه یا لیکنه ده، ځکه چې د ځوابوونکي یــې دوه ځایه نوم راغلی دی خو.... همدارنګه د ((کونړونــو ولایــت د ښــځو چــارو ریاست د خپرونو د مدیریت لنډ ګزارش)) تر سرلیک لاندې په څوارلسم مــخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د لیک په بڼه د مجلې دفتر ته یوه لیکنه را استولې چې تقریباً یوه راپور ته ورته شکل لري، کېدلای شول چې د همدې لیکنې له موادو یو ښه راپور جوړ شوی وای، خو لیکونکی یې توانېدلای نه دی چې دغسې یو کار سر ته ورسوي.

ج- د لیکنو لیکوال:

په سالو خان کې ځینې لیکنې د لیکوالو نومونه نه لري چې دا یې یوه بله لویه نیمگړتیا ده، د بېلگې په توگه د مقام زن (۶مخ) پوهنیار شیلا بابری لطفاً... (۷مخ) لنډې کیسې ټول مضامین (۲۱مخ) د مور مقام (۲۶مخ) دونت (۲۷مخ) سپورت (۲۹مخ) ښځه ژاړي (۳۱ــ ۳۶ مخونه) مضامین او په نهه دېرشم مخ کې ټوکې دي چې هم یې لیکوال یا راټولوونکي یې معلوم نه دي همدارنگه په دې ګڼه کې داسې هم شوي چې د لیکوالو یا ځوابوونکو نومونه په انگرېزۍ ژبه راغلي چې باید راغلي نه وای لکه په دولسم مخ کې Ahmad Gul Baidar چې تر ځنگ یې دنده هم ښودل شوې ده او له اتم مخ څخه تر دولسم مخه پورې مضمون چې د یوې مرکې بڼه لري او لیکوال یې څرگند نه دی، خو په پای کې لیکل شوي چې: Dr: SHUGHLA SHINWARI RHO ښایي چې لیکواله یا یې ځوابوونکې واوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شعرونه، انځورونه

زېرى مې درباندې ذوقه ستا ارمان پوره شو
لاس ته مې ډېر ښکلي د شاداب شعرونه راغله
نه، نه داسې نه دي، نه دانه دي، نه دا هم نه دي
ټول ريدي ريدي ګلاب ګلاب شعرونه راغله

داسې شعرونه چې هم په کې خوند شته او هم رنګ. هم په کې مينــه شــته او هم په کې ننګ، هم په کې ځان يادوي او هم جانان. هم په کې کونډه شته دی هم يتيمان. هم بلې لمبې لري هم سکروټې او هم پتنګان او بيا دغه هر هر څه په داسې خوږه او شاعرانه ژبه ښکلي کوي، انځوروي، خوږوي او راټولوي چــې هر لوستونکي ته په کې خپل خپل زړه خورول او راټولول ښکاري لکه

نيمه شپه چې راخورا کړم، ستا خطونه تصويرونه
لکه کونډه ماښامي کې، يتيمان ځان ته راټول کړي
هغه لار کې شم بې خوده، چې پرې ستا د راتلو وخت شي
شاداب هسې د معيارو، ماشومان ځان ته راټول کړي

هوکې! په رېښتيا چې ښاغلي شفيق الله شاداب صيب په خپلو ښکلو شــعرونو کې ډېر څه راټول کړي، خو دلته يې د خپل کلي کور ماشومان په داسې حالت کې راټول کړي، چې هغوی هېڅ نه پوهېږي. خــو شــاعر دغــه د ماشــومانو د راټولولو وسيله په خپل عملي ژوند کې داسې کارولې، چــې هېڅــوک پــرې د ښکلو د راتلو په لار کې د ناستې انتقاد نه شي کولی. خو دلته شاعر بيا هــم د پښتني دود او پت له مخې مجبور دی، چې د خپل اشنا د راتلو د انتظار خوږې شېبې د ماشومانو سره د لوبو په بهانه رالنډې کړي، تر څو چې اشنا يې راشــي او د ديدن تنده يې ماته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو اوس زه پوره باور لرم، چې د شاداب صيب د ناکامې مينــې پــه انځــوريزه شاعرۍ کې او شعرونه په ډېره مينه وړي او مينه کړي، ښکلي او بدرنګه ټــول په ځان راټول کړي او دا ځکه چې شاداب صيب د مينې جنازه د ارمان په اوږو د حشر مقبرې ته وړي او څوک، چې د مينې جنازه وړي، نو داسې مين به پيدا نه شي چې ورسره ملګري نه شي. وګورئ:

وړم يې د حشر مقبرې ته د ارمان په اوږو
ور لاندې وزمه د مينې جنازه اخلمه

تنکي او زلمي شاعر شاداب صيب په خپله ځوانه او لومړنۍ شاعرۍ کې داسې خواږه او پاسته ګډ کړي او راټول کړي، چې د بې مينو او بامينو ټولو خوښيږي. لکه:

ټينګه غاړه را چې ګوزاره وشي
ستا په تش ليدو مې څه کار نه کيږي
يه خپله شادابه نو زه څه وکړم
مړ شې لويه لار ده، ديدار نه کيږي

وګورئ! دلته شاعر په څومره خوږه ژبه او شاعرانه انداز کې د خپل اشــنا نــه د غاړې، غړۍ کېدو غوښتنه کړې. او بيا يې هغه د ښځينه احساس بيان څــومره خوږ او عاميانه ځواب کړی، چې:

يه خپله شادابه نو زه څه وکړم -مړ شې لويه لار ده، ديدار نه کيږی

د ګران شفيق الله شاداب په انځوريزه شاعرۍ کې دغسې عاميانه، سيمه ييــز کليوالي ((خو)) خواږه مفاهيم ډېر زيات دي او په ډېره خوږه شاعرانه ژبه يــې په داسې انداز کې انځور او تصوير کړي، چې ته به وای، بــس همدغــه شــېبه، شېبه کېدو ولا ده لکه:

يه د ګيلې نه دې قربان شمه خو څه وکړمه
پرون په تلو کې در کتلو ته راجوړه نه شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

والله که ډېره د ارمان په لمبو وسومه خو
شادابه زه دې خپلولو ته راجوړه نه شوم

او یا دا چې:

یاره بس ورځ نیمه کې، شال غوړېدو والا دی
زړه ښکته بره نه کړې، سپرلی راتلو والا دی
د پاسه راوړه پې مه، وکړه لږ وار شادابه
زموږ تر منځه دېوال، بس غورځېدو والا دی

نو هغه د چا شاعر خبره چې:

یا خو به ماته ښایسته ښکارې
یا دې ثاني په دنیا نشته دی میینه

خو بیا هم په رښتیا، چې د شاداب ((اشنا)) شعرونه ډېر خواږه او ډېر ښکلي دي او دا ځکه چې زموږ د ژوند له تجربو سره سمون لري. زموږ د ژوند انځور یې کښلی دی او زموږ د رنځ انځور یې انځور کړی دی. او چې داسې ده نو بیا خو هغه د ارواښاد الفت صیب خبرې دلته راوړل زروري ګڼم، چې وایي: ((د لوړ او عالي شعر د پېژندلو معیار بل شی نه دی، د ژوند سره ارطبات دی او تاسې په شعر او ادب کې هم یوازې بشر ولټوئ. چا چې د شعر او شاعر په باب ډېر فکر کړی او دواړه یې ډېر ښه پېژندلي دي هغوی دشعر په رښتني حقیقت پوه شوي دي . هغه وایي ډېر ښه شاعر هماغه دی، چې خپل ځان په خپل شعر کې ښیي. او موږ ګمان کوو، چې زموږ تصویر یې ایستلی دی. شاعر ځکه په موږ ګران دی، چې زموږ د زړه خبرې کوي او زموږ خاطرې رایادوي)) د ښاغلي شاداب د دې ځوانې لومړنۍ شاعرۍ په باب ډېرې خبرې کېدای شي، ځکه چې ځوانه ده، لومړنۍ ده او هېڅ یو لومړنی کار له نیمګړتیاوو خالي نه وي، خو د شاداب ښه او غوره شعرونه دومره ډېر دي، چې د کمزوري شعر پیدا کول پکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ورکې شوې ستنې د پيدا کولو نه کم نه دي او بيا خو زه هم نــه شــم کــولای چې را پيدا يې کړم!؟

زه نو نوره خپله ليکنه د پای خوا ته راکاږم او د شاداب صيب د شعر او شاعرۍ د مينه والو لپاره مې همدومره وليکل، چې مينــه وال يــې د لــومړنۍ شــعري ټولګې (ګل دی د رېدي) له چاپه خبر شي، چې دغه لومړنۍ شــعري ټولګــه د (۱۳۸۲ل) کال د کب د مياشتې په وروستۍ نېټه د (۸۱) غزلو او (۱۱) څلــوريزو په کډون د زرو ټوکو په شمېر له چاپه راوتلې. لومړنۍ پېل ليکنه پــرې نــامتو شاعر او ليکوال پير ګوهر صيب کړې.

دويمه ليکنه پرې زلمي شاعر او ليکوال طاهر فرهاد صيب کــړې او وروســتنۍ ليکنه پرې (راځئ رښتيا به وايو) تر سرليک لاندې د شاداب اشنا خپله ده. زه د ښاغلي شاداب په شعرونو نور څه ليکل نه غواړم. او دده د شعرونو د پېژندلو لپاره دده خپلې ليکنې پوره او کره ګڼم او هغه د نړۍ د ستر ليکوال شوپنهاور خبره چې (د هر ليکونکي انشا د هغه د فکر آيينه ده. که غــواړئ چــې د يــوه ليکونکي حقيقي ارزښت ځانته معلوم کړئ، دې ته مه کورئ چــې ده پــه څــه موضوع کې فکر کړی دی يا دده د فکــر محصــول څــه شــی دی. د مولــف او ليکونکي د مقام د پېژندلو لپاره همدغه کافي ده، چې موږ پوه شــو ده څــه راز فکر کړی دی او د فکر کولو طرز يې څنګه دی.؟) او چې داســې ده نــو تاســې ښاغلي لوستونکي به هم هغه وخت شاداب ښه وپېژنئ، چې د هغــه ليکنــې او شعرونه په خپله ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د هر چا قضاوت د هغه د پوهې په اندازه وي

وايي چې: ((ادب د ښکلاييز او روحي لذت او تسکين تر څنګ د ټولنيزې او اخلاقي روزنې، اصلاح، د اذهانو د روښانولو او لارښوونې دنده لري . او اديب هغه څوک دی چې دی بيا هغه ليدلي اوريدلي د خپل تخييلي ځواک او قوت په ملګرتيا د الفاظو په جامه کې ټولنې او خلکو ته وړاندې کوي))

خو که د لوستو خلکو او ليکوالو راتېر شو نو په ولسونو کې غوام او نا زده کړي خلک هم د ادب په قدر و قيمت ډېر ښه پوهېږي، که څه هم چې دوی د دې کليمې د مانا او ارزښت په اړه په کتابونو کې يا له کوم بل چا څه نه وي زده کړي خو هر څوک چې د نورو په وړاندې يوه بې ادبه خبره يا کار وکړي نو دوی ورته بې ادبه وايي او په دې خبره ډېر ښه پوهېږي چې په ټولنيز ژوند کې ادب کولو، ادب زده کولو او مو ادبه اوسېدلو ته څومره اړتيا ده؟

دوی خپلو کشرخېلو ته تل د ادب خبره کوي او کله، کله خو بيا د دغه ارزښت د ساتلو او زده کولو لپاره د ماشومانو او ځوانانو په وړاندې د چوکې، لښتې او سوک څپېړې نه هم کار اخلي چې دا کار د ادب د زده کولو په موخه مور ته د پېر يو، پېړيو را پاتې دی، لکه منتبار صاحب چې وايي:

ځار قربان د خپل کاکا د ډب ادب شم

منتبار ته يې څه ښه ادب ښودلی

په ادب ناسته ولاړه، راشه درشه، راکړه ورکړه، ليکل لوستل، ويناوې او خبرې اترې کول او دغسې نور هر، هرڅه د ټولنيز ژوند تر ټولو مهمې او ړينې خبرې دي چې لوستي خو څه کړې چې نالوستي يې هم په قدر و قيمت ډېر ښه قايل دي، خو افسوس لومړی زمونږ د هېواد پر بچيانو چې ډېر بې ذوقه، بې ادبه او بې احساسه خلک يې د زده کړو چارې په واک کې لري. او بيا پر هغه چا سل

(c) ketabton.com: The Digital Library

افسوسه ، چې د عاطفې، احساس او ترحم پر رڼو اوښکو وينځل شوې کليمې ( ادب) او (ادبيا تو) په مانا او ارزښت خپله هم نه پوهېږي او نورو ته يې هم د بې اهميتۍ او بې ګټې والي په اړه ناوړه تخريب او تبليغ کوي!!

زما دا ليکنه کلونه وړاندې هغه مهال چې زه نوی، نوی له پوهنځي فارغ او راوتلې وم زما د سترګو ليدلي حال دی! چې د پوهنې د رياستونو د يوه رياست په مقام کې د يوه نوي ګمار ېدونکي ښوونکي سره د يو ريس د کړنو حال دی. زما د سترګو هغه ليدلی حال به تاسې ښاغليو لوستونکيو ته هسې سر سري او عادي خبرې ښکاري خو زما لپاره يو ډېر ژور درس او پند و چې تر مرګه به مې په ذهن کې د يوې بې خونده خاطرې په ډول پاتې وي. ريس د خپلو څو تنو کارکوونکو او د لېسو د ښوونکو سره په اداره کې ناست و يو چا د رياست د باندې د ولاړو راغلو خلکو له ډلې نه د پياده په لاس يو ليکل شوی کاغذ د ريس د هوکړې او څه ليکلو لپاره راولېږه ښاغلي ريس چې پر کاغذ د ليکل شوي متن څو کرښې ولوستې هماغه بابا ته يې وويل د دې کاغذ والا سړی را ننباسه، سړی راغی کېناست ريس بيا کاغذ ته خپلې سترګې د عينکو لاندې ور مخامخ کړې په پورو شونډو يې د غوښتنليک ټول متن ولوسته په سپين کاغذ د پوهنې رياست د مقام نه غوښتل شوي وو (زه... کال کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو له پوهنځي د پښتو څانګې فارغ شوی يم له فراغت وروسته مې لومړی په کابل او بيا په... ولايت کې د ښوونکي دنده ترسره کړې وه، اوس يو ځل بيا ستاسې درانه مقام ته عارض شوی يم چې په همدې ولايت کې مې چېرته د ښوونکي په توګه وګمارۍ...) ريس له کاغذه سترګې پورته کړې او پخواني ښوونکي ته يې په ډېرې بې تفاوتۍ سره وويل: ښا! ته لېسانس يې! ادبيات دې لوستي... هې‌هې... ادبيات نو څه ته وايي؟ ادبيات څه شی دی!؟ څه ګټه لري...؟ ريس بيا د څه اخوا دېخوا کتلو وروسته مخامخ پخواني ښوونکي ته وکتل،... ښښنه غواړم ته خپه نه شې... او په خوا کې يې نور ناست

(c) ketabton.com: The Digital Library

کسان د خپلو خبرو مخاطب کړل او په یوه ساه یې ورته د (ادبیات څه ته وایي، ادبیات څه شی دی؟ ادبیات څه په درد خوري...!! یره که زما خوک مني نو زه خو بالکل پشنهاد کوم چې دا د ادبیاتو پوهنځی دې بیخي وتړل شي... هر څوک چې ماته راځي او معلمي غواړي نو چې تپوس ترې کوې کوم پوهنځی دې لوستی ادبیات... ادبیات... ادبیات!!! په خلکه ولې مو یو بل پوهنځی نه لوسته؟ تاسې په ادبیاتو کې څه موندلي...؟ د لږې شېبې چوپتیا وروسته یې بیا سر راپورته کړ . تاسې
باور وکړئ چې د دې ابیاتو نه په تنګ راغلی یم) لږ ساعت وړاندې یو بل راغلی و هغه هم معلمي غوښته او ویل یې ادبیات مې لوستي خو له هر څه وړاندې راته لږ غوږ شه چې یو سعر درته وایم او بیا یې دومره ډېرې خبرې کولې چې زړه مې ورسره په تنګ شو.
ما چې د پوهنې د ښاغلي ریس د یوه ښوونکي سره د کړنو دا حال ولیده او بیا مې دده د پوهې او قضاوت کچه د ادب او ادبیاتو په اړه ځان ته وتلله نو هغه د حمید بابا وینا مې په ذهن کې په خپله ټوله معنا راویښه شوه چې:

زړه مې له غیرته په ګوګل دننه دود شي
ږمنځ چې دې بې فهمه وهي ګوتې په کاکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خپلواکۍ د اتل په نوم لېسه

هغوی چې بې احساسه دي، نه دې لولي! خو هغه چې هم احساس لري او هـم عاطفه، په دقت سره دې ولولي، او له لوستلو وروسته يې که نور څه په وس کې نه وو نو د دعا په نيت خو دې د زړه له تله يو سوی اسوېلی وباسي، ګوندې چې الله رب العزت ته همدغه اسوېلی د مظلوم د ښېرا په څېر مخـامخ د قبـول وړ وګرځي. او د ستر ملي قايد غازي امان الله خان په لېسه باندې غيبانه څه رحم وشي، او يا ورته د بې تفاوته او بې کفايته مسوولينو څه توجو را وګرځي. هسې خو د ننګرهار ولايت ګڼې نورې لېسې هم په ورته بـدمرغۍ اختـه دي خـو دا لېسه ځکه د زيات ترحم او ياد وړ ده چې د هېواد د خپلواکۍ د اتل غازي امان الله خان نوم پرې پروت دی، خو د لېسې علمي، روزنيز، ښوونيز او پوهنيز حال او چاپيريال ته چې ګورم د نوموړي په نوم، شخصيت، شـان او شـوکت پـورې راته خندا کول او ملنډې وهل ښکاري.

کاش! چې پر دې لېسه د غازي امان الله خان نوم نه وای ايښودل شوای.

کاش! چې دغه لېسه د دې ولايت په يوه بله سيمه کې وای.

کاش! چې دغې لېسې ته دومره لويه بې اعتنايي نه وای شوې.

د دې لېسې د ستونزو په اړه خو بلا کيسې موجودې دي خو ډېره د شرم خبره يې دا ده چې که چېرته څوک کوم بهرنی ننګرهار ته راشي او پوښتنه وکـړي، چې د امان الله خان په نوم دلته کوم ښوونځی يا پوهنځی شـته؟ او لـه هـو د ځواب وروسته د لېسې چاپېريال، د ښوونکو ظاهري او معنوي حالت، مسلکي وړتيا او کاري تجربې د نړدې وګوري. د زده کوونکو روزنيزه کچـه او پـوهنيزه سويه له خوانه مشاهده کړي، يا د لېسې د مشرتابه وړتيا او ظاهري ټيپ و ټاپ ووينې نو فکر به وکړي چې د دغه ستر شخصـيت پـه نـوم پـورې د معـارف

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسوولينو ملنډې وهلي او خنداوې يې ور پورې کړي. زما يو ملګری، چې په همدغه لېسه کې ښوونکی دی او د وطن پرستۍ احساس او عاطفه يې د زياتې ستاينې وړ دي، هر وخت راته په ډېر افسوس سره د نومورې لېسې د ستونزو په اړه کيسه کوي. او هر ځلې همدا ټينګار وي چې د دې لېسې پر ستونزو خپلې رسنۍ ته يو تفصيلي رپوټ وليکم، زما د ملګري د خولې خبرې دي، چې وايي: ((زمونږ د لېسې له ښوونکو نيولې بيا تر زده کوونکو او اداري مامورينو ټول يې بې سواده دي.)) بې سواد په دې مانا چې نه پوهه لري او نه درک، نه پخپله په څه پوهېږي، او نه د بل مني. د ټيټو ټولګيو زده کوونکي خو يې لا څه چې د نهم نه تر دولسم ټولګي پورې اکثره زده کوونکي يې په ساده ضرب او تقسيم نه پوهېږي. املا انشاء خو يې په نشت حساب ده. ملګری استاد مې په خپل سپېڅلي ((رب)) د الفاظو په شدت سره بيا، بيا قسم خوري او وايي په شپږم، اووم، اتم او نهمو ټولګيو کې ډېری زده کوونکي مطلق سواد نه لري. خو چا ته يې وواېو، څوک شته چې پوښتنه وکړي او تفتيش وکړي، چې تر دغه ځايه څنګه بې سواده کامياب شوي اوارسېدلي ياست؟ دی زياتوي: دلته اکثره زده کوونکي په تشو پارچو کامیابېږي، که څوک يې نه مني، د ټولو هغو زده کوونکو پارچې دې وکتل شي چې په حاضريو کې يې نومونه په وروستۍ ليکه کې دي. دلته د امتحان په صحنه کې نقل په ښکاره کېږي، ښوونکي پرې سترګې پټوي، هغوی فکر کوي، چې که ټول سپينې پارچې ورکړي، بيا د ښوونکو ورکړي درسونه د سوال لاندې راځي. زما د خپلو سترګو ليدلی حال دی ١٣٨٩ل کال کې د دې لېسې د دولسم ټولګي د کلنۍ ازموينې د تاريخ امتحان و، چې ښوونکی يې د لېسې مدير په خپله و. د ازموينې په صحنه کې يې يو تن زده کوونکي ته وويل: هلکه! اخوا دېخوا مه ګوره، خپلې پارچې ته ګوره! هغه زده کوونکی سپک پاڅېد مدير ته يې پارچه په قهر وروغورځوله او ګواښ يې وکړ: زه هر هغه څوک نر ګڼم، چې ما ناکام

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي...!! بله ورځ د نهم ټولګي يو زده کوونکي د ښوونکي په دې خبره، چې د يو بل سره خبرې مه کوئ، عين عمل تکرار کړ او د امتحان له صحنې د دې ګواښ په کولو سره ووت، چې زه به وګورم، ما څوک ناکاموي او څنګه مې ناکاموي؟ همدا شان يوه بله ورځ د يو بل ښوونکي د کېميا ازموينه وه، سوالونه زده کوونکو ته ووېل شول، بيا يو شمېر پارچې د امتحان له صحنې ووتې، آخوا ته په زراعتي ځمکو کې د کتاب له مخې حل شوې، بېرته راوړل شوې ښوونکي ته ورکړل شوې، ټول ښوونکي او د پوهنې مديريت نه راغلی پلاوی پرې هم خبر شو، خو هېچا، هېڅ ونه کړه او هر څه په پټه خوله پای ته ورسېده. زما ملګری ښوونکی چې د نوم له اخيستو يې ډډه کوم مخکې ځي او وايي: دلته د لوړو ټولګيو اکثره زده کوونکي ((بدمعاشان)) او د بدمعاشی اکټونه کوي. يوه ورځ مې د ملګري معلم صيب نه پوښتنه وکړه: دې لېسه کې ولې دومره ډېرې ستونزې دي؟ ځواب يې راکړ: دلته ښوونکي، زده کوونکي، مدير، اداري مامورين او حتا چپړاسيان هم ټول د يوې مخې د همدغې سيمې (بهسودو) ولسوالۍ دي، دلته کليوالي مناسبات په نظر کې نيول کېږي، ټول يو د بل خپل دي. بل علت دا دی، چې اداره ډېره کمزورې او بې کفايته ده، هېڅ ډول تدبير د چارو د ښه کولو لپاره نه شي نيولی او نه پرې پوهېږي. چاقوګان، چړې، بوکس پنجې، توپنچې او نور لېسې ته وړل راوړل عادي خبره ده. دلته مسايل دې حد ته رسېدلي چې زده کوونکي د ښوونکو په اوږو لاسونه اړولي ټولګي ته ننوځي، بيا په ټولګي کې دننه په مبايلونو کې د خپلو معشوقو سره د عشق او عشق بازۍ کيسې کوي. دلته، چې زده کوونکي ښوونکو ته سلام ورکړي، ښوونکي ورته لاس په سينه څو، څو ځل ښکته پورته شي، وعليکم، وعليکم ورته ووايي... ښه نو اوس تاسو ښاغلي وواياست چې په دغسې يوه لېسه کې به زده کوونکي په کومه روحيه او انګېزه زده کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وکړي او ښوونکي به په کوم جرائت، کومه خوله او کوم وقار درس ورکړي. بیـا به څوک ناکام او یا مشروط شي.**

**د دې هرڅه لومړی پړه د دې لېسې د بې کفایته مدیر، بیا د ننګرهار د پـوهنې مدیریت، ورپسې د پوهنې ریاست او په ټوله کې د پوهنې وزارت پـه غـاړه لا څه چې پر اوږو ده. همدوی تر ټولو ستر مقصر بې کفایته او ملامته دي، ځکـه چې د هېواد د ځوان نسل پر وړاندې دومره بې تفاوتي او بې کفایتي پـه هـېڅ ډول او په هېڅ حالت کې د بخښلو او زغملو نه ده دا د خپل هېواد سره سـتره جفا ده، چې په ښوونیزو او روزنیزو ځایونو کې هـر څـه سـطحي او سرسـري وګڼل شي او د خپلو جېبونو د ډکولو فکر پرې حاکم اوسي. خو دا خبره هم ښه په یاد ساتل په کار ده، چې الله (ج) هم خپل کار کوي او ډېر ژر بـه یـې پـرې چپه کړي. (انشاالله)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کاشکې ځوان د پښتانه په ننګ کې مړ وای!

پښتانه وايي: ښه خلک په دنيا کې ډېر نه پاتې کېږي ، د ښو خلکو عمـر لنـډ وي.
په دې کې به د الله سبحانه و تعالی خپل غرض او راز وي، د ښو او نېکو انسانانو سره د نورو ډېرو ژوند ښه او سوکاله وي او د بدو هغو سره خپل خپلـوان څـه چې ان کلی کور او ټوله ټولنه په عذاب کې وي.
پر ښو انسانانو سترګې خوږېږي، مينه پرې مـاتېږي، حسـاب پـرې کېـږي، د مايوسه زړونو تسلي او ډاډ ځای هم دوی وي.
په ښو بدو کې مخ سترګې همدوی ته اوړي.
د نهيلي ژوند ډېری کسان خپلې هيلې په هغوی پورې تړي، د هغـوی د نېکـو اخلاقو او اعمالو نه متاثره کېږي، الهام ترې اخلي، د پند او عبرت زده کړه ترې کوي، خپلې کړنې او خپل ځان د هغوی سره پرتله کوي، سوچ کـوي، پر ېکـړه کوي، اراده او عمل ملګری کوي، پاخېږي روانېږي، خپل پـه ټپـه ولاړ نهيلـی ژوند او فکر ته بدلون ورکوي، پر مخ ځي او په پای کې د يو سرلوړي او سوکاله ژوند څښتنېږي.
اروانښاد احمد ضمير علمدوست صيب د همدغـه شـان الهـام اخيسـتونکو او ورکوونکو زلميو شخصيتونو له ډلې څخه و.
د هغه نېک اخلاق، راشه درشه، ناسته ولاړه او په دومره لږ عمر او تنکۍ ځوانۍ کې د ليکوالۍ، کمپوز او ډيزاين په چارو کې هاغومره لوړ اسـتعداد درلـودل د هغه يوه ځانګړې برتري او فوق العادګي وه، بيا دا ټول هغه څه وو چې ځوانـانو او مشرانو ته يې د هغه څخه د پند او نصيحت د زده کړې سرچينې بللی شو.
خو هغه د ستر خوشال بابا خبره (( کاشکې ځوان د پښتانه په ننـګ کـې مـړ وای!))

(c) ketabton.com: The Digital Library

هسې په نه بهانه رانه الله تعالی واخیست، د هېڅا په خیال و فکر کې به کله دا نه وو راغلي ، چې ضمیر دې هم په دومره تنکۍ ځوانۍ کې له دې ختینې نړۍ په دومره اسانۍ سترګې پټې کړي.

هغه مهال چې زه د ننګرهار د پوهنې مجلې مسوول مدیر او له کونړه د غونچې مجلې د لیکنو راټولوونکی او خپروونکی وم دواړه مجلې بـه مـې د کمپـوز او ډیزاین لپاره هغه ته ورکولې، د هغه کمپوز به زما کار تر نیمایي زیات اساناوه.

هغه د لیکوالۍ په فن کې لوړه وړتیا او ځانګړې مهارت درلود.

زموږ ډېری لیکوال لیکنې کوي، شعرونه لیکي، نکلونـه راټولـوي خـو پښـتو یاګانې یې نه زده، په ګرامري آرونو او جوړښتونو نه پوهېږي د معاصرې معیاري لیکنې او لیکدود سره اشنایي نه لري.

یو نیم خو په کې کله کله لا د نوم او جملې په پای کې د نارینه او ښځینه ټکي د سم کارولو توپیر هم نه شي کولی.

الله رب العزت دې پر هغه د خپل شان مطابق ډېر ډېر ورحمېږي زموږ د ډېـرو لیکوالو د لیکنو نیمګړتیاوې او کمزورۍ د هغه د کمپوز له برکته پټې او پـرده پوښې وې، حتی کله کله به یې د لیکوال د بې خونده لیکنې اوږد متن رالنډ او دومره خوږ کړ چې هغه به ورته د مننې په ویلو سره خپله هم هیښ پیښ پاتې شو. د اروابناد د لوړ استعداد بله بېلګه دا وه، چې ډېر تېز کمپوز به یـې کـاوه خو د ډېر تېزوالي سره سره به بیا هم د لیکنې په ټول مخ کې غلطۍ له یوې یا دوو نه زیاتېدې.

بل د هغه د شعر پېژندې او خوښوونې ذوق او سلیقه ډېره لوړه وه که څه هم په خپله یې هېڅکله د شعر لیکنې شوق نه و کړی خو ښه او نا ښه شعر یـې ډېـر ښه پېژانده په یادو مجلو کې به یې کمزوري شعرونه زمـا لـه مشـورې پرتـه ایسته کول.

د ورځپاڼو مجلو او کتابونو په ډیزاین کې یې ډېر ښـکلی او بـې مثالـه ذوق او ستعداد درلود، چې ټول پښتانه لیکوال یې د دغه هنر شاهدان او خوښوونکي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماشومانو سره يې زياته مينه لرله، کله چې به څه خبره د ماشـومانو پـه اړه ياده شوه ضرور به يې د هغوی سره د خپلې مينې او زړه سوي يادونه هم کوله.
هغه به ويل کله چې په لارو کوڅو کې بې وزله خړ پړ ماشومان وينم ډېر زيات پرې خپه کېږم، خو هغه ماشومان چې لږ پاک وي او تنکۍ تنکۍ خبرې کـوي ډېره مينه مې پرې ورځي... د ماشومانو سره د هغه مرحـوم د مينـې د زبـات لپاره د هغه په خپلو ګوتو ليکل شوې او تخليق شوې څو کرښې د دې ليکنې د ښې پای لپاره ليکم او کيسه کوم: يوه ورځ د ننګرهار د پوهنې مجلـې د يـوې ګڼې د کمپوز او ډيزاين روستۍ پاڼې ته راورسېدو، په وروستۍ پاڼه کې يو مـخ سپين پاتې شو، مورږ دواړه ورته په سوچ کې شو چې په څه يې ډک کړو؟ ويـې ويل: غم مه کوه رغون صيب، دلته به زه داسې څه وليکم چې زما به پـرې زړه خوشاله شي او ستا به روح ارام شي.
زه اخوا دېخوا ناست وم او هغه په کمپيوټر کې څه ليکل، لږه شېبه وروسته يې وويل: راشه رغون صيب وګوره په هاغه خالي ځای کې مې څه وليکل... په هغه ځای کې د هغه د فکر او خيال، احساس او عاطفې د بيان څـو کرښـې داسـې کښل شوې وې (( ای نړيوالو! پرېږدۍ چې زمـورږ کوچنيـان هـم لکـه د نـورو کوچنيانو غوندې په خلاصه فضا کې زده کړې وکړي، په ښـوونځيو او جومـاتو ړانده توغندي مه توغوئ، مورږ ژمنه کوو، چې له دوی څخه تاسو ته هـېڅ ډول خطر نه پيدا کېږي.
ای هېوادوالو! پرېږدئ نور د ښوونځيو سوزول پرېږدئ، د ښوونکو وژل پرېږدئ او د زده کوونکو پر مخونو د تېزابو له پاشلو تېر شئ، په اخـرت کـې بـه هغـه عظيم الشان ذات ته چې ټول به ورته ټيټ سرونه ولاړ يو څه ځواب وايې؟))
اروا دې ښاده وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لمن مې ډکه ده له کاڼو خو څوک نه پرې ولم په عادتونو کې دا يو عادت د غره لرمه

هوکې! دا لمن هم هماغسې يوه لمن ده چې توري، ټکي، کلمې، جملې او حتـا ټولې ليکنې يې د احساس، عاطفې، انساني زړه سوي او ترحم لپاره ډېر، ډېـر څه لري. دا لمن د لفظ او مانا لمن ده. په دې لمن کې به د فکـر، خيـال، مانـا، احساس، عاطفې او ترحم خواږه سره راټولېږي او خپرېږي.

دا لمن د ( ل م ن ) له ټکو جوړه هماغه مادي او معنوي لمن ده چې هـم د يـو ستر افغاني کلتور د فولکلوريکو کيسو ګڼې انګېرنې پېړۍ، پېړۍ تر شا لري او هم يې عيني او ذهني انځور د ښايست او ښکلا له مخې ډېرې مانا وې ښـندي. په دې لمن کې لومړني راټول شوي خواږه د همدې کال د تلې د مياشـتې پـه لومړۍ ګڼه کې پاخه، خپاره او خواږه شول.

د لمن خپرېدل په افغاني ادب کې د ټولو فرهنګيانو او فرهنګپالو لپاره د يـوې بلې بريا زيرى دى هيله ده چې دا لمن د افغاني ولس لپاره په خپله جوله کـې ډېر داسې څه راټول او خپاره کړي چې هم نوي، هم خـواږه او هـم د ليکنـې انشاء له مخې په درنو کاڼو تلل شوي وي.

دا چې هر لومړنى کار خامخا څه نا څه نيمګړتياوې او تېروتنې لري نـو د لمـن لومړنۍ ګڼې هم يو شمېر غلطۍ لرلې، چې په لمن کې د راټولو شويو ليکنـو د تللو په تول او وزن کې يې د لمنې د ښکلا او مانا رنګ ته لږ وزيات زيان اړولى و.

هيله ده چې د لمن د ښاغلو چلوونکو ورته پام شوى وي او د بيا لپاره تکرار نه شي د لمن په اړه زما د دې څو کرښو ليکلو موخه دا ده چـې لـه يـوې خوانـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلمن د چلوونکو د کار ستاینه وکړم او د بل پلوه افغان فرهنگیانو ته د لمــن د معنوي ارزښت په اړه څو ټکي ورزيات کړم، نه د لمنې نیمگړ تیــاوې او غلطــۍ لیکل او په گوته کول.

زه نور ډېر څه نه وایم یواځې خپلــو دواړو خــوړو دوســتانو حقمــل صــیب او شینواري صیب ته چې د لمن د خپراوي په کار کې په یواځې ځان هم مادي او هم مانوي قرباني ورکوي، دومره وایم چې په لمن کې د راټولو شــویو خــوړو د خپراوي پر مهال د بیا لپاره تر وسه، وسه هڅه وکړي، چې چاپېدونکې لیکنــې بیا، بیا له سره وگوري او د ممکنه تېروتنو مخه ونیسي. په دې کار ســره بــه دا ښاغلي دوه گټې وکړي، یو دا چې لمن به یې تل د گلونو او گلغوټیو مالامال وي او بل به یې یوه له تېروتنو پاکه سوچه، معیاري په تول پوره او کره لمــن لرلــې وي او هم به یې د لوستونکیو دا نیوکه تمبولې وي چې :

(گلو کې دې شپه وه، تا تشه لمن راوړه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کونړ ځنګلونو رېبل او مخنیوی

الهي قانون داسې دی، چې چرګه به هګۍ اچوي له هګۍ نه به بچی پیدا کېږي، هغه به غټېږي، نورې هګۍ به اچوي او بچي به راوباسي. بیا به زړېږي، مري بــه او له منځه به ځي. خو دا قانون او الهي نظام به هم داسې روان وي او تر قیامته به چلېږي خو د الله تعالی رب العزت یو بل بشپړ ځواک او کامل قــدرت دا دی، چې کله یې اراده وشي، نو کن فیکون ذات دی، چې ووایي، وشه، وشي او چــې مه شه نو بیا نېست او هېڅ شي.دغسې ډېرې کړنې یــې چــې الله رب العــزت فرمایي ((ما د انسان رزق د ده له پیدایښت څخه زرګونه، کلونه پخوا پیدا کړی دی)) موږ ولیدل او وینو چې د انسان د پیدایښت او لګښت لپــاره الله تعــالی (ج) ډېر داسې څه پیدا کړي چې د انسان او هر ژوندي موجــود د پیدایښــت نه، به څومره کلونه پخوا پیدا شوي وي، لکه اسمان، ځمکه او بیا په اســمان او ځمکه کې هوا، اوبه او نور هغه څه دي، چې د هېڅ ژونــدي موجــود ژونــد لــه هغوی پرته ناشونی دی او په همدې ترتیب د ځمکې پر مخ شین بوټي د انسان د ژوند او روح سره تړلی دی، خو ځېنې ونې او بــوټي یــې بیــا زمــوږ د هغــې لومړنۍ وینا پر بنسټ، چې خدای (ج) فرمایي: ((ما زرګونــه کلونــه مخکــې د انسان له پیدایښت نه د هغه رزق پیدا کــړی دی.))نــو د الله (ج) د رزق د بــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمېره ښېلګو څخه يو هم همدا ځنګلي ونې دي، چې د هر هېــواد، د ښــکلا او ښايست سره، سره د هغه ملک ملي پانګه او ملي شتمني جوړي، چــې خــداى (ج) دغه ښکلا، ښايست او شتمني موږ ته هم راکړې وه، خو دا چــې چــا رانــه لوټ کړه، چا په چا خرڅه کړه او اوس هم د دې ملي پانګې سره چــې څــومره خيانت روان دى، پر دې موږ او تاسې ډېر ښه پوهېږو او دلته په دې اړه د ډېرو زياتو خبرو او تبصرو نه تېرېږو او دې ته راځو چې اوس څنګه؟ څه وخــت او د کومو امکاناتو په مرسته نوره زموږ د دې ملي شتمنۍ د لو ټلو مخه ونيول شي، خو اصل خبره دا ده چې څوک يې مخه ونيسي؟ څنګه يې ونيسي، او کله يــې ونيسي؟ ځواب روښانه دى، همدا اوس همدغــه نــن د کــونړ دبيــا رغــوونې د لومړنيو کارونو له جملې څخه لومړنى کار بايد د ځنګلونو د ربېلــو د مخنيــوي لارې، چارې ولټول شي. او په دې سوچ او فکر وشي، چې څنګه د افغان ولــس د ژوند د ښکلاوو دغه لويه سرمايه نوره دغسې لوټ تالا نــه شــي. خــو دغــه ښاغلي به څوک وي؟ دغه کار نه زما له وسه پوره دى او نه د بل کوم کــارګر او بزګر له وسه. دا دهغه چا کار دى چې د دې وطن د هرې ملي شتمنۍ د ساتنې مسوليت او صلاحيت لري. د هېواد له ټولواک څخه نيولې بيا تــر واړه مــاموره پورې د خپل ايماني، افغاني او وجداني احساس او همدردۍ له مخــې د خپلــو شخصي ګټو نه په تېرېدنې سره او په عام ډول د کونړ ولايــت ټــول هېواپــال خلک، چې د خپلې دغــې قيمتــي ســرمايې ســره د زړه لــه کــومې مينــه او خواخوږي لري، خپل لاسونه او غړونه سره يو کــړي او پــه خپــل ټــول زور او ځواک سره له هرې لارې چارې، چې کيږي د ځنګلونو ربېل او وهل وغندي او په رېبونکو او وړونکو يې لعنت ووايي، خو په خاص او ځانګړي ډول زموږ هيلــه د کونړ ولايت د مقام له ټولو مشرانو څخه ده، چې خپل ټــول ذهنــي او ځــاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواک او صلاحیت په کار واچوي او خپله هېوادنۍ مینه په زبات ورسوي او د دې ولایت د ځنګلونو د ربېلو په مخنیوي کې خپله کارنده ونډه په نظر او عمل دواړو کې پلې کړي. خو دا هله کېدای شي، چې د سیمې په اړوندو ځایونو کې سیمه ییز دفترونه جوړ شي، امنیتي پوستې ځای پر ځای شي کار د کار خلکو ته وسپارل شي او وروسته یې پلټنه او څارنه وشي او په دې ترتیب سره د هر ربېونکي، اخیستونکي او وړونکي لپاره د قانون سره سم د یو خاص فرمان له مخې جزا او سزا وټاکل شي او بیا د دغې سزا او جزا په ورکړه کې هېڅ ډول سپارښت، ضمانت او مصلحت ونه منل شي د افغان ولس د هغې نېکمرغې ورځې په هیله چې قانون او عدالت په کې په خپله ټوله مانا واکمن وي او غدار په دار وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوی کال له نویو هیلو سره

هر شی چې نوی، نوی راپیدا یا راشي، هغه ته خلک نوی وایي. یا یې د نوي په نامه یادوي لکه د زمانې په حساب نوې ورځ، نوې میاشت، نوی کال، نوی ژوند او نوی کار چې دې هر نوي شي ته انسان په طبیعي ډول لږ و ډېر نوی، نوی خوشالیږي. خو د ماشومانو فطرت داسې دی چې وړو، وړو نویو شیانو ته هم ډېر خوشالیږي. د دوی لپاره په ریښتیا چې هر نوی شی نوی وي. ځکه چې د لومړي ځل لپاره یې ویني او پېژني. دوی د دغه یا هغه شي په مادي او معنوي ارزښت ښه نه پوهېږي. خو هر نوی شی ډېر خوښوي او زیات ورته خوشالیږي. موږ د هغوی په شان نه یو، موږ ته ډېر نوي هم زاړه ښکاري او هېڅ خوشالي نه شي راکولی. موږ ورته ځکه ډېر نه خوشالیږو چې راته بیا، بیا تکرار یږي. که څه هم چې په نوي رنګ وي خو بیا هم تکراري وي. موږ د ماشومانو په پرتله (( زوړ او نوی)) ښه پېژنو. او په دې هم ښه پوهېږو چې دغه ښار نوی او هغه زوړ دی. دا ودانۍ زړه او دا بله نوې ده. خو د زمانې په زړښت او ځوانۍ کې لکه چې تېروتلي غوندي یو. موږ د زمانې پیل ته نږدې وختونه زړه زمانه بولو او د زمانې وروستیو پېړیو ته نوی عصر او نوې زمانه وایو. نوی کال هم په دغه حساب بنا دی. د اتیا کالو بوډا خپل وروستی کال نوی ګڼي او د خپل ماشومتوب زمانه ورته زړه معلومیږي. هر کال چې نوی کېږي له ځان سره څه نوي شیان راوړي ځکه یې نوی ګڼو.

له نوي کال سره نوي خیالونه، نوي فکرونه او نوي کارونه ملګري وي. موږ هیله لرو چې نوی کال په ډېرو نوو جامو کې ووینو او ډېر نوي شیان ورسره وي. خو موږ په دې باید هم پوه شو چې نوی کال له موږ نه څه غواړي او په خپله څه کوي؟ نوی کال سمدلاسه د ورځو په اوږدولو او د شپو په لنډولو پیل کوي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوبونو وخت کموي او د بيدارۍ هغه د کار او فعاليت لپاره زياتوي. د تيــارې او تورتم عمر لنډ وي او د رڼا هغه اوږدوي. که موږ د نوي کال په رمز او اشاره پــوه شو نو د پسرلي د بارانونو بر ښناګانې همدغه مطلب ته اشاره کوي. که مــوږ د نوي کال په رمز او اشاره پوه شو نو د پسرلي د بــارانونو بر ښنـــاګانې همدغــه مطلب ته اشاره کوي. چې د نوي ژوند اساس په برق او بر ښنـــا کـــې ايښــودل شوی دی او هغه زمانه تېره شوې چې د حيات اوبه، به په تورتم کې وې او ژوند به په تيارو کې و. د نوي کال لومړی درس همدغه دی او ساړه زړونــه يـــې نــه خوښېږي. راشئ چې د زمانې په تقاضا ځان پوه کړو او پروي يې وکـــړو. زمــوږ ۱۳۸۸ لمريز نوی کال همدغسې يو کال دی. دې کال ته موږ لويان له ماشومانو ډېر خوشالېږو. دا په دې چې موږ ورســره زمــوږ او زمــوږ د ماشــومانو د ښــې راتلونکې لپاره ډېر امېدونه تړلي دي. موږ دا نوی کال په خپل هېواد کې د يوې ښې راتلونکې لپاره د لويو بريو نوی زېری ګڼو او هيله لــرو چـــې زمــوږ هيلـــې دومره خوړې او په زړه پورې شي چې له دعاګانو او غوښتنو مو ور اخــوا وي او بر عکس راونه خېژي. ځکه موږ په ژوند کې داسې تجربې هم لرلي چې يو کــار ته به ډېر خوشاله وو او بلا امېدونه به مو ورسره شېبه په شېبه تړل. خو پايلــه به يې بيا داسې راوخته چې له بدو به بده وه. او يا به داسې وو چـــې د يــو کــار پايلې به راته ظاهراً ډېرې بدې ښکارېدې او ښه پوره به ورته په اندېښنه کـــې وو خو نتېجه به يې زموږ له تشويشونو خلاف ښه راووتله نو اوس هم مــوږ نــه پوهېږو چې څه به کېږي، خو بيا هم د يوه ښه کــال پـــه هيلــه يـــې د راتلــو او تېرېدو انتظار لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خو ... ډوډۍ، ډوډۍ!!!

(( غلې دي امبارونه،امبارونه په دې ښار کې
اسمان ته رسېدلي محلونه په دې ښار کې
شيندلی شي! جوړ ېږي دولتونه په دې ښار کې
خرڅېږي په پيسو محبتونه په دې ښار کې
خو بيا هم چغې اورم چې ډوډۍ ډوډۍ

هو! همداسې ده، همداسې، خو څه وکړو؟! او دا هم منم چې (( په جنتي خاوره نهر ګرځمه )) او يا:

(( داستا رضا زما رضا ده ربه!
کاني هم نس پورې تړلی شمه
چې بل ښامار په خزانو ووينم
اخر انسان يم څنګه غلی شمه))

په دې ټول پوهېږو چې د هر ژوندي يا ساکښ موجود د ژوند د پايښــت لپــاره الله رب العزت تر ټولو لومړنی نعمت (هوا) پيدا کړې ده، تر هغــې وروســته يــا دويم يې د (اوبو نعمت) او بيا نور خوراکي شيان دي چې (ډوډۍ )يې په سر کې شمېرلی شو.

او دا ځکه چې ډوډۍ هغه ستر نعمت دی چې، د انساني ژوند د بقــا او پايښــت لپاره د نورو ټولو خوراکي ځيزونو څخه يوه خاصه او ځانګړې برتري، خوړښت، مړښت، او تلپاتې خوند لري او هغه په دې، چې که بل هر شی درې څلور وخته سر په سر وخوړل شي نو، نور ترې زړه سړ ېږي يا مړ ېږي، خو په ډوډۍ کې ( که هغه غلمينه،بتينه(روټه) او که جوارينه (سوکړک) وي الله تعالی پکې داســې يو تلپاتې خوند او حکمت ايښی دی چې که ټول عمر وچه او بې ننګــولي هــم وخوړل شي، د بنده زړه ترې نه توريږي. خو افسوس او بيا هم افسوس چې نن سبا زموږ په هېواد کې د دغه ستر نعمت پيدايښت، د ډېرو ستونزو سره تړلــی دی. زموږ په مليونونو هېوادوالو ته لمده څه چې، وچه، سپوره ډوډۍ يو وخــت

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نیمه ګېډه هم نه رسېږي. خو هغه ښاغلي چې زمـوږ د ژونـد د هوسـاینې واګې لري لا هغه یوه زمانه وړاندې د چا (حاتم عطايي!!) خبره اوس هم کـوي ( چې ولې کلچې نه خوري، که ډوډۍ نه شته!!؟)
ښاغلو بې وسو او غربت ځپلو هېوادوالو! دا چې دا مهال د ټولو خوراکي توکیو اخیستل زموږ ستاسې له وسه وتلي دي او د نرخونو راښکته کـول یـې هـم د خوارو لاسونو کار نه دی په دې ټول پوهېږو او دلتـه پـرې لـه ډېـرو بحثونـو تېر یږو، هوښیاران په نیمه پوهېږي. یوازې د خپله اړخه به همدومره هغه د چا بزرګ خبره وکړو چې:

(د شاهانو ورکړه لال او جواهر وي
د ادب د خاوندانو د زړه وینې)

زموږ د قلم د خاوندانو همدغه خبرې دي چې ومو کړې، هغه څـوک چـې پـه هېواد کې د قحطۍ او قیمتۍ د کنترول او مخنیوي پوره پوره پازوالي لري کـه په سرونو کې ماغزه او په بدن کې زړه، ضمیر او وجدان لري نو په نیمه به پـوه شوی وي، نور نو زموږ ستاسې له وسه څه کېدای شي؟ یوازې یوه اسره لـرو او هغه د الله رب العزت غیبي خزانو ته سترګې نیول او هیلـه سـاتل دي او هغـه چاته د زړه له تله ښېرې کول دي چې د دې غریب ولس د غربت او کړاوونو غم ورسره نه شته او په خپله لکه د خیګانو پړسېدلي دي خو یو هم ونه چاوده.
خدای (ج) دې په خپل غضب او پرغځ سره وچوي چې زمـوږ لـه سـرونو یـې سیوري کم شي او چرته ایماندارو ته مو د چارو واګې په لاس ورشي. او پای په دې دعا چې:

خدایه رسوا او شرمینده یې لرې
څوک چې زموږ واګې په لاس کې لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اصیل افغان ته یوه کتنه

د شعر او ادب خوږو مینه والو او درنو شاعرانو! د خوځښت مجلې په دې ګڼه کې دا دی د یو بل شاعر یاد تازه کوو او ګورو چې دا ځل زموږ دغه شاعر څرنګه ګلان کرلي دي دغه شاعر فولاد مشوانی دی او شعري ټولګه یې د (اصیل افغان) په نوم په (۱۷۶) مخونو کې د (۹۲) شعرونو او نظمونو په لړلو سره د زرو ټوکو په شمېر په (۱۳۸۱ل) کال کې له چاپه راوتې. ما دغه کتاب له سریزو نیولی بیا تر پایه لوستی. پر دغه کتابګوټي اصیل افغان باندې لومړی د هېواد ستر لیکوال، نامتو شاعر او څېړونکي حبیب الله رفیع صیب څو کرښې د لارښوونې په توګه لیکلي او بیا پرې د سعادت مشوانی په نوم یو بل چا د ستاینو او صفتونو ډکه لیکنه کړې. پر دغو دوو لیکنو کې، چې رفیع صیب او سعادت د کتاب په لومړنیو پاڼو کښلي، رفیع صیب ورته خپله لارښوونکې مشوره داسې ورکړې: (فولاد صاحب ته زما توصیه دا ده، چې خپل کتاب تر چاپېدو وړاندې پر یوه داسې شاعر وګوري، چې فني او تخنیکي ګډوډۍ یې له منځه یوسي او هم یې د موضوعاتو پر سنجیدګۍ او درنښت له سره غور وکړي...) خو له بده مرغه، چې د اصیل افغان شعرونه (!) لکه څنګه چې وو او دي هماغسې یې په منډه، منډه تر چاپ ځای پورې ورځغلولي دي او له نیمګړتیاوو سره، سره یې ورپسې پیسې هم له جېبه ورکړي دي، خو چې کتاب زر چاپ شي او د سولې یا نوبل جایزه یې له لاسه ونه وځي!! سعادت پرې بیا داسې ګلان شیندي او لیکي: (د ښاغلي فولاد صیب شاعري ډېره ساده او زړه راښکونکې ده نو په کار ده، چې د دې لومړي شعري غونډ اصیل افغان قدر وکړو، ویې لولو او د ده غونډې زلمي ادیبان او شاعران او په ادب مینان هم د پښتو ژبې او هېواد د خدمت لپاره وهڅوو...) خو د دغې کتاب د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو ليکنو او شعرونو له لوستلو وروسته ما هم د خپلې ژبې، ادب او هغې تـه د ښه نه لا ښه شعر د وړاندې کولو په هيله پر دغه کتـاب ګـوتې څـو کرښــې د اصيل افغان د کتاب نه د ژونديو بېلګو په راوړلو او د نړيوالـو ليکوالـو او کـره کتونکيود پخو خبرو په وړاندې کولو سره، چې له هرې وينا او بېلګې وروســته به پر بکړه لوستونکي پخپله کوي، خو مخکې له دې چـې پـه ژونـديو بېلګـو وغړېږو، د نړۍ د نامتو ليکوال (جانسون) دا خبره راوړم، چې وايي: (د ليکــوال دنده په پرله پسې توګه دا ده، چې نړۍ لکه څنګه چې ده له هغې نه ښــه او لا ښه کړي. دا د ليکوال يا شاعر وظيفه ده، خو په همدغه لړ کې د منتقعد وظيفه له هغه نه هم درنه ده، هغه يې بايد د بې لاريو نه وساتي او په مجمــوع کــې د يوې ادبي ځانګې روان بهير له دغسې بې لاريو څخه وژغوري او کره يې کړي. دا هم د نقاد کار دی، چې شاعر خپلو نيمګړتياوو ته متوجــه کــړي.) نــو اوس ګورو چې زموږ د روان ځوان ادبي، شعري بهير نوښتګر (!) شاعر خپل شــعر د هنريت او تخييل کومې پوړۍ ته پورته کړی دی:

ګل کې چې کمال و په بل هيڅ شي کې به نه و
ګل چې به يې واخيست له هر څه نه به پرې تېر و
مينه په روپو شوه ځکه ورک په کې خوندونه شو
خدايږو د ګل مينه د روپو نه ډېره ډېر و

او يا دا چې:

هلته لېوني هم احترام کوي د مينې
مينه ځي په مينه خپل اشنا سره ګلابي
د مينې نسل سوزي د زلمونو په بټۍ کې
ځکه وينې مې بهېږي د زړا سره ګلابي

دلته پر بکړه او قضاوت بيا هم په لوستونکي کوو او زه پرې ځکه څه نه لــيکم، چې بيا ځينې دوستان دا خبره کوي، چې ته شاعر ببخي رخصتوې او قلم ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخلې، خو له هغه دوستانو نه د دغو راوړل شويو بېلګو مانا نغده غواړم. او اوس دې بېلګو ته تم کېږو:

په ځاله د ټپوس کې ايرکندېښن باندې څه؟
زه خو د بازانو يخو غرونو کې اوسېږم
هسې کوډې مه کوه رقيبه بې اثره دي
تل به د ليلا سره مينې زړونو کې اوسېږم

ښه! اوس نو بيا تاسې ښاغلي لوستونکي ووايئست چې شعر دې ته وايي؟ او يا شعر دغسې وي؟ او بيا دغه ټولې بې وزنه کرښې څه مانا لري؟ دلته شاعر څه غواړي، چې بيان يې کړي، کومه نوې پېښه، نوې خبره او نوی پيغام د ژور عاطفي احساس په لرلو سره بيان شوی دی او که داسې وې چې:

که په ميوند کې شهيد نه شوې
د يار لپاره درمسال جارو کومه

نو بيا خو هغه زما د استاد خبره دغسې شعرونه بايد نقد شي، وغندل شي او بايد چې رد شي او که څوک خپه کېږي يا خوشالېږي نقاد بايد خپل کار بشپړ کړي. په هر نوم او په هره لاره چې کېږي ښو ته ښه او بدو ته بد وويل شي، خو اوس زما هغه استاد نشته، چې ترې وپوښتم استاده که ښه په کې له سره نه وي، نو بيا به څه کړو!!؟

منم منم چې ښه انسان دی بابا
واقعي د سولې قهرمان دی بابا

او دغسې پهلوان دی بابا، ډېر وران دی بابا، اسمان دی بابا... خو هېڅ مانا او مفهوم ترې نه څرګندېږي، کوم بابا، چېرته بابا، د چا بابا، په څه بابا او ولې بابا!!؟

خو يواځې او يواځې د بابا نادره قافيه موندل شوې او شروع پرې شوې ده. يا دا:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جنګ او د جګړو راپارونې چې کوي څوک
راشئ چې په داسې افتونو ناغه کېږدو

او همدغسې يې ورپسې اوږده کړې، چې د مولیانو په اختلافونو او حسدونو ناغه کېږدو او راځئ، چې د مولیانو په ګوندونو ناغه کېږدو.

له دې سره، سره چې هېڅ نوښت او خوځښت نه لري د شعر او نظم د سېلابي سیستم څخه هم پاک دی او وزن، چې د شعر اساسي رکن دی هغه يې هم په کونړي سیند لاهو کړی دی خو د خپلې ټولنې د اسلامي سپېڅلو ارزښتونو او نورمونو سره يې هم ډېر بې ځایه او سطحي چلند کړی دی، چې دغسې کړنو او دغسې پېښو خو زموږ ملت او هېواد دې حالت ته رارسولی دی. بله بېلګه:

د وحشت شورا وحشت په اور کې وسو
انسانیت ته عدالت کې شورا راغله

د غزل له ډېرو ځانګړتیاوو څخه یوه يې دا ده چې هر بیت يې ځانته خپلواکه مانا لري خو دلته د بیت د مانا د خپلواکۍ خبره لا څه کړئ، کومه شورا؟ د څه شي شورا؟ کله، چېرته، څنګه، او د کوم مفهوم او مقصد لپاره شورا!!؟

او بیا خو په شعر او شاعرۍ کې ډېره د پام وړ او ضروري خبره دا ده چې باید په شعر کې یوه نوې خبره په رښتیني مانا سره باید نوې وي او دغه نوښت باید د شعر په رګ، رګ کې ولیدل شي. او که له دغه عنصر شتوالی له یاده وویستل شي نو هغه شعر به څو تورې شوې کرښې وي کاغذ به پرې تور شوی وي او د اوربدونکي او لوستونکي وخت به پرې ضایع شوی وي، خو شعر به نه وي او له هنري ارزښته به خالي وي، نو دغې وینا ته په پام سره زموږ د نظر وړ شاعر او د هغه د شعرونو څو بېلګې تاسې درنو لوستونکو ولوستې. اوس قضاوت او پرېکړه هم پر تاسو او په پای کې څو نورې وروستۍ بېلګې چې:

چېرته چې افغان دی اورونو ته وردانګي
له سره ماله تېر دی سنګرونو ته وردانګي

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا:

ځوانان د یو بل سره جنګونه کی لېدره
مولیان حرام مال ته اتڼونه کی لېدره

او دا هم:

نن چې نه یو کېږې ای افغانه بیا په کې پر ېوزه
جوړه ډیسکوټیکه کړه ګډېږه بیا په کې پر ېوزه

اوس زموږ د لیکنې په وروستۍ نمایي کې ټوله پرېکړه تاسې درنو لوستونکو ته پرېږدم. زه یواځې دومره وایم، چې تشې خبرې شعر نه دی، شعر باید یو نـوی ټکی او د بیان نوی ډول ولري. شاعر باید خپل شعر ته د واعـظ د خبـرو یـا د ناصح د پند رنګ ور نه کړي، هغه باید په شعر کې د ټولنې ژورو نیمګړتیاوو ته له یوه داسې ژور عاطفي احساس او مانا له مخې وګوري، چې پرته له ده پـرې عادي خلک پوه نه شي. خو څرنګه چې هره لیکنــه د یـو خـاص او ځـانګړي مقصد لپاره وي او باید، چې د ټولنې ښخه یوه داسې نښه ښېله کړی شـي چـې سبب یې څرګند وي، نو زموږ د دې لیکنې د پام وړ ټکي هم دا دي، چې زمــوږ ډېر شاعران، چې وروسته به یې په نورو لیکنو کې که خدای کول رامخکې کړم او د زړه خواله به ورسره وکړو.

وایې، چې خپله ژبه له هغه شکل ښخه، چې وه په پراخه، پاکه او دقیقه توګــه راتلونکیو ته سپارل دا دي د شاعر په عنوان د شاعر ستر او ممکن بریالیتوب، نو همدې پخې خبرې ته په پام سره ګورو، چې د (اصیل افغان) لیکوال خپلــې ژبې او خپل ادب ته دلغاتو په برخه ښنګه او څومره خدمت کړی؟..

حسد، پالتې، قبرستان، مردان، معاشره، لیډر، ثروت، تفریح ګاه،کلچر، ثقافت، ګفتار، فروش، بدمعاش، الکشن، پرسان، لېبـارټري، مـاډرن، نـاترس، ګفــتن، استقرار، افتتاح، ګویاند، ارتال او دغسې په خرورونونمونې چې موږ ترې دلتــه د ښېلګې لپاره دغه دانې رابېلې کړي وی او دا چې موټې د خروار ښېلګه وي، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ دا ليکنه هم له خرورونو يو څو دانـــې رابېلـــې شـــوي او د پښـــتو شـــعر او شاعرۍ سره دخپلې اورنۍ مينې له مخې مې دا ليکنه وکړه اونوره يې رالنـــډه وم هيله ده چې دکتاب مالک ترې څه اخيستې وي په ځانګړي ډول د ځـــوان اوسني هنري شعر سره د اورنۍ مينې او د خپلې ژبـــې او ادب ســـره د زړه لـــه کومې د څرګندونې وکړې. هيله ده، چې د تولو زلميو شاعرانو لباره به يو څـــه ناڅه خواږه ترخه له ځانه سره ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تنکۍ لښتې، تنکي لاسونه

دا څومه ورځ وه چې زمان او ټولګیوال یې د حساب د پاړۍ د نــه زده کــړې پر سر وهل کېدل، نن یې بیا لومړنی درسي ساعت حساب و. ټول په دې وېــره کې وو، چې بیا به یې د (( حساب)) ښوونکی وهي، بیا به یې لاسونه په وهلــو، وهلو سره کېږي. دوی ټول لا په دغو ویرووونکو اندېښنــو کــې ډوب وو، چــې ښوونکی ټولګي ته رننوت. ټول زده کوونکي چوپ شول غلي، غلي کېناســتل، چا سوړ نه کاوه. د هر (یو په زړه د غم قولبې ګډې وې!!) دا سې غلي وو چــې تا به ویل، ساګانې نه لري ټولو ښوونکي ته رډ، رډ کتل، هېڅا څه خبره نه شوه کولی، ښوونکي هم ټول له سترګو تېر کړه، ټولو ته یې ښه په ځیر، ځیر وکتل. بیا یې د ټولګي خاموشي ماته کړه: هلکانو! څنګــه داســې (دم) کــړي ناســت یاست!؟ دوی ټول غلي وو هېڅا څه نه ویل، هېڅا خبرې نه کــولې، د حســاب ښوونکي (دستي ګل) چې ټيټ ونی او ډبل سړی و، هر وخت به یې ټنډه تروه، وه، هر وخت به ((هسې خوشې چټي)) په قار و. هر ورځ وهــل ډبــول د ده یــو ځانګړی عادت ګرځېدلی و. هسې خو به ټولو ښوونکو وهل کول خو د حســاب او املا لیکلو ښوونکو به زده کوونکي دومره وهل، چې ببخي زړونه به یــې لــه زده کړو ور تور کړل، د ماشومانو غوړونه تاوول، په یوه پښــه شــېبې، شــېبې ودرول په لښتو وهل. او نور، نور، دا هر څه همدلته کېدل، خو څه بایــد شــوی وای؟ ((که ګور تنګ دی، د مړو ناکام دی.)) نن لا ښوونکي د تېــرې ورځــې د درس په اړه پوښتنه نه وه کړې، چې د زمان پر ذهن او فکر د وېرې یو لوی غــر پروت و، ټول بدن یې ربړدېده، هغه یې تېره ورځ هم ډېر زیات وهلی و، دومره یې وهلی و، چې د لاسونو ګوتې یې نه شوې راټولولی، دواړه لاسونه یې پــولۍ شوي وو. غوټۍ، غوټۍ وینې ترې هم راوتلې وې... کله چې ښــوونکي روســتۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لښته ورکړه نو ورسره سم يې وويل: ((څه څه ورکېږه تنبله)) زمان بېرتــه پــه خپل ځای کېناست، خپلې اوښکې يې وچې کړې، لاسونو يې ډېــر درد کــاوه، ټول بدن يې لکه د مرغۍ بچی رپېده، ټولو هلکانو ورته ځير، ځيــر کتــل، دوه درې ځلې يې په خپلو سترګو لاس تېر کړ، او ښکې يې بيا، بيا وچــې کــړې، د زړه بازار يې ګډ وډ و. په خوا کې ناستو ټولګيوالو ورته وويــل: ((تــه راښــکاره کړه، لاسونه خو به دې وينې شوي نه وي؟)) د هغوی په خبرو زمــان نــور هــم سوختي شو. ښه ډېر يې وژړل په چوکۍ ناست ملګري، ملال ورته د تسلۍ پــه ډول وويل: ((خير دی مه ژاړه، زه يې له تا نه پرون ډېــر وهلــی وم، نــه ګــورې دواړه لاسونه مې تناکې شوي.)) د زمان له وهلو وروسته ښوونکي دستي ګــل ټول زده کوونکي ووهل هر يو يې ځانته، ځانته تختې تــه وغوښــته، د ټولــو د (ضرب) پاړۍ سمه نه وه زده... ماشومان همداسې وي، ځېنې شيان يې سم نــه زده کېږي خو ډېر داسې څه هم شته چې تر لويانو يې ماشومان ښه زده کولی شي. دلته همداسې وشول، د ضرب پاړۍ د هېچا نه وه زده، د چا نه زده کېــده. ښوونکي دستي ګل د زمان له وهلو وروسته ملال ته چې تېره ورځ يې هم ډېر وهل ورکړي وو، د پاړۍ ويلو اشاره وکړه. نن يې بيا د ټــولګي د تــورې تختــې مخې ته راوغوښت، ملال د ښوونکي پوښتنې ته څه نا څه مــات ګــوډ ځــواب ورکړ خو استاد پرې قناعت ونه کړ. دستي ګل چې به هــر زده کــوونکي تــه د پوښتنې پر وخت لښته په لاس ولاړ و، ملال ته يې د لاس نيولــو اشــاره وکــړه چې لاسونه وهلو ته سم کړي. ښوونکي لکه د نورو زده کوونکو د وهلو په څېر د ملال په لاسونو څو سخت، سخت ګوزارونه وکړل، چې د دويم ګــوزار ســره سم ملال چېغــه کــړه: (( وئ، وئ!! وئ خپلــه دادا! وئ لاســونه... وئ لاســونه مې...!)) چې د ممدغو تکراري جملو او له دويم ګوزار سره سم يې لــه لاســونو وينې وڅڅېدې او ژر يې لړ څه وتښتول، دستي ګل پرې نور هم ور په قهر شو، ونيسه... ونيسه لاسونه ونيسه... د ملال تنګي لاسونه، چې تنکيو لښتو لکــه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سره اور سپرغيو سوي وو او له سترګو او لاسونو يې اوښکې او وينې يــو شــان روانې وی، په يوه ساه يــې دا جملــې تکرارولــې ((ای اســتاذه! بــس دی... ای استاذه!... ای استاذه! لاسونه مې وينې شو... ای... ای...)) خو دستي ګل بيا هــم ټينګار کاوه چې: ((ونيسه... ونيسه لاسونه ونيسه...)) بيا يې دوه، درې لښــتې پر شا او سر، سر وواهه او ورسره يې دا هم وويل: ((ځــه ورک شــه... ورکېــږه ځه... تنبله لا خو!!)) څو تنه لا پاتې وو چې د ساعت د بدلون ځنګ ووهل شو، ښوونکي يو سوړ اوسېلی وويست، بيا يې وويل: زده کوئ به يې... سم بــه يــې زده کوئ... سم، سم او که نه هره ورځ به مو دا حال وي!!! هو هــره ورځ، هــره... خو د زمان او ملال په ټولګي کې د وهلو ټکولو دا وروستۍ ورځ وه او بيا... د تل لپاره......**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


سرلیک — مخ

رغون یو غیر نامتنازعه شخصیت ........................................ ۱

زما دا لیکنې او شننې ........................................ ۵

شعرونه او شعارونه ........................................ ۸

په جنسي مسایلو کې د خوشال بابا تجربې او لارښوونې ........................ ۳۱

خاطرې که خاطرې؟! ........................................ ۳۷

پښتنې په قامت سترې نه دي څه دي؟ ........................................ ٤۸

دعاګانې، دعاګانې ........................................ ۵۵

چې پرې نه پوهېږې ته، ګناه د چا ده؟ ........................................ ٦۱

د مجنون په رنګه کلک عزم پکار دی ........................................ ٦٤

بزګر کرکټر او فلسفي غرېدا ........................................ ٦٦

زاړه میرزایان او زلمي لیکوال ........................................ ۷۱

مینه په پښتو لنډۍ او لویدیځه نړۍ کې ........................................ ۷٦

اول سواد زده کړه خانیه! ........................................ ۸۸

افغان معارف او ګڼې ستونزې ........................................ ۹۲

پر پوهنه د رسنیو اغېزې ........................................ ۹٦

((کونړدنګې څوکې )) شعري ټولګه که جغرافیه !؟؟ ........................ ۹۸

ښه هغه چې د چا نوم په کې یادېږي ........................................ ۱۰٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعرونه که مېرونه ........................................................ ۱۱۱

اول زده کړه، بیا کوژده کړه ........................................................ ۱۲۲

شعرونه، انځورونه ........................................................ ۱۲۸

د هر چا قضاوت د هغه د پوهې په اندازه وي ........................................................ ۱۳۲

د خپلواکۍ د اتل په نوم لېسه ........................................................ ۱۳۵

کاشکې ځوان د پښتنانه په ننګ کې مړ وای! ........................................................ ۱۳۹

لمن مې ډکه ده له کاڼو خو څوک نه پرې ولم ........................................................ ۱۴۲

په عادتونو کې دا يو عادت د غره لرمه ........................................................ ۱۴۲

د کونړ ځنګلونو رېبل او مخنيوی ........................................................ ۱۴۴

نوی کال له نويو هيلو سره ........................................................ ۱۴۷

خو ... ډوډی، ډوډی!!! ........................................................ ۱۴۹

اصيل افغان ته يوه کتنه ........................................................ ۱۵۱

تنکۍ لښتې، تنکي لاسونه ........................................................ ۱۵۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک له هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (احمدصمیم فضلي) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library




د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۱۱۵

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**